# راځئ توبه وکاږو

د لوی څښتن ﷻ په وړاندې د
رشتیني توبې کښلو لارښود کتاب

Download from:aghalibrary.cm

لیکوال:
عبدالمالک (همت)

د کتاب نوم: راځئ توبه وکاږو
د کتاب فارسي نوم: بیایید توبه کنیم!
ليکوال: عبدالمالک (همت)
موضوع: بدعت، ګناه او توبه
د چاپ شمير: لومړي (ديجيتال)
د چاپ تاريخ: سلواغه ۱۳۹۵ هـ ش - جمادي الأول ۱۴۳۸ هـ ق
سرچينه:

دا کتاب د عقيدې د کتابخانې سايت نه داونلود شوی دی.
**www.aqeedeh.com/pa**

برښنا ليک: **book@aqeedeh.com**

**د موحدينو ګروپ ويب پاڼو**

| | |
|---|---|
| www.mowahedin.com | www.aqeedeh.com |
| www.videofarsi.com | www.islamtxt.com |
| www.zekr.tv | www.shabnam.cc |
| www.mowahed.com | www.sadaislam.com |

په عقيدې سايت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسايت د همغږۍ په معنا نه ده.

contact@mowahedin.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# د کتاب فهرست


**د کتاب فهرست ........................................................أ**

**تر هر څه دمخه ...................................................... ۱**

**ځو نوري خبري..................................................... ۷**

**د توبې لغوي او شرعي تعريفونه ............................ ۱۰**

لومړی: د توبې لغوي تعريف.................................. ۱۰

دوهم: د توبې شرعي تعريف................................. ۱۰

د ژبې توبه.................................................................. ۱۲

درواغجنه توبه ........................................................... ۱۳

له څه شي څخه توبه وکاږو؟.................................. ۱۵

د توبې او استغفارترمنځ توپير................................ ۱۶

مغفرت ....................................................................... ۱۷

عفو ............................................................................ ۱۸

نصوح توبه................................................................. ۱۹

د توبې فضايل او ديني او دنيوي ګټې .................... ۲۱

د توبې د ګټو په هکله زما خپل حال....................... ۲۷

د توبې وجوب............................................................. ۳۰

توبه سمدسي واجب ده............................................ ۳۱

د توبې ځنډول............................................................ ۳۱

د ګناه د بيا کولو له بېري توبه نه کښل ........................ ۳۲
د خلکو د خبرو له بيري توبه نه کښل ........................ ۳٤
هرڅوک بايد توبه وکاږي ........................................ ۳۵
په اسلام کي د توبې ارزښت ................................... ۳٦
د رسول اللهﷺ توبه او استغفار................................ ۳۸
د توبې دروازه پرانيستې ده........................................ ۳۹
ګنهکارته دوږخي مه واياست ..................................... ٤۱
زموږ د دې ټولو بخولو لامل زموږ ګنهونه دي.................... ٤۲
د توبې شرطونه..................................................... ٤٤
د توبې مقامات...................................................... ٤۸
د ګناه له زياتوب څخه زړه تور سي او زنګ يې ووهي.......... ٤۹
يوازي د ګناه پرېښوول هم بسنه نه کوي ........................ ۵۰
د توبې قبلېده ....................................................... ۵۱
د کومو خلکو توبه نه قبليږي، آيا د مرتد او زنديق توبه قبليږي؟
........................................................................ ۵۳
آيا چي له يوې ګناه څخه توبه وکاږي او بله کوي دا صحيح ده؟
........................................................................ ۵٦
راځئ تر مړيني دمخه هر څه ژر توبه وکاږ و؟ ................... ۵۷
د توبې لمونځ او د هغې مستحبه طريقه.......................... ٦۰
د توبه کوونکو څو کيسې.......................................... ٦۲
د آدمعليه السلام د توبې کيسه:........................................ ٦۲
د سلو تنو د وژونکي د توبې کيسه:................................ ٦٤
د ستر مفکر سيد قطبرحمه الله د توبې کيسه: ......................... ٦٦

د نامتو دعوتګرعالم شیخ أحمد القطان د توبې کیسه:............٧٠
د نامتو مفکر علامه محمد اسد له یهویت څخه د توبې کیسه: ..٧٧
د یوه روسي جنرال د توبې کیسه:..................................٨٧
د مصر د څو نامتو ممثلو ښځو توبه:...............................٩٦
**اخیستلیک ..................................................... ١٠١**
**د لیکوال لنډه پېژندنه ........................................... ١٠٣**

په دې کتاب کې د انسان په ژوند کې د ډېرې سترې، مهمې،
ارزښتناکې او ژغورونکې پېښې، يعني توبې او استغفار،
د توبې د احکامو، مواقعو اعمالو، طريقو، ګټو او
فضايلوپه هکله لنډې، خو هر اړخيزې څرګندونې
سوې او د ځينو رشتينو توبه کوونکو
نادر او ارېانوونکې حالات
بيان سوې
دي.

قال رسول اللهﷺ:
«التَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لا ذَنْبَ لَهُ».

## قرآني مرغلري

﴿أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۚ إِنَّنِي لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ ٢ وَأَنِ ٱسْتَغْفِرُواْ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيْهِ يُمَتِّعْكُم مَّتَٰعًا حَسَنًا إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى وَيُؤْتِ كُلَّ ذِي فَضْلٖ فَضْلَهُۥۖ وَإِن تَوَلَّوْاْ فَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٖ كَبِيرٍ ٣﴾ [هود: ٢-٣].

قرآن کريم پيغمبرﷺ ته لارښوونه کوي چي خلکو ته ووايي:

«له الله پرته د بل چا عبادت مه کوئ، زه د هغه لخوا تاسي ته خبروونکی او زېری درکوونکی يم. او له خپل پروردګار څخه د ګناهونو بخښنه وغواړئ او توبه ورته وکاږئ. نو هغه به تر يوې ټاکلي مودې (د مرګ تر ګړيه له ژوند څخه) د ښه خوند اخيستلو موکه درکړي او هر هغه چا ته به چي ډېر ښه عملونه يې کړي وي زيات اجر ورکړي. او که تاسي مخ واړوئ نو زه پر تاسي باندي د يوې لويي ورځي له عذابه اندېښمن يم».

# تر هر څه دمخه

إن الحمد لله نحمده ونشكره ونستهديه ونستغفره ونتوب اليه ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له واشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

الهي زما ټينګه او نصوحه توبه ده. ما تاته رجوع کړې ده. زه هر څه له تا څخه غواړم، په دې لړ کې زه له تا څخه زما د کړو ګنهونو بخښنه هم غواړم. زه بې له تا پر بل هيچا تکيه نه کوم. يوازې ستا په هيله او اميد يم. تاته مي غاړه ايښې ده. پر تامي ځان سپارلی دی. پر تامي توکل دی. ستا رضا مي هدف دی. لکه چې هر څه دې راکړي دي، همدغسې هر څه لتا څخه غواړم. تا ته شکرونه کاږم، يوازي ستا عبادت کوم، له تا څخه مرسته غواړم او تا ته مي پناه دروړې ده. نو الهي ته مي مل او ملګری سه!!

الهي ما وبخښه. زما توبه قبوله کړه. د ګهونو له قيده مي وژغوره. د نفس او شيطان او هوا او هوس له شره مي په امان کړه. زما ظلوم او جهول انسان او زما د مات او ګوډ قلم تر تېروتنو او ښويېدنو راتېر سه. علم او عمل مي ستا لپاره کړه. ريا او شهرت غوښتنه مي تر سترګو بده وايسوه. الهي ستا ديدار مي په نصيب کړه. ستا د دوستانو په ډله کې مي داخل کړه. الهي ستا په قضا مي رضا کړه. په بخولو او کړاوونو کې صبر را کړه. ستا چې پر ما پېرزو وي، په هغو مي قانع کړه. حلاله روزي راکړه، له حرامو مي وساته او پر ګناه او تعدی

وس مه راکوه. الهي د همت د خاوندانو او ستا د لاري د لارویانو او نېکانو ژوند او د حق د خاوندانو برخلیک او د شهیدانو مړینه را په برخه کړه... آمین یا ارحم الراحمین.

درونو لوستونکې!

لکه چي څرګنده ده غفلت، هېره او تلوار او د نفس او هوا او هوس او خوندونو او شهوتونو، واک غوښتني، استکبار، ځان غوښتني، د مادیاتو د تر لاسه کولو، وینو تویولو، فسادونو او داسي نورو ظلمونو اوجنایتونو غرایز او صفات د انسانان په ختې او طبیعت کي اخښل سوي دي. ځکه نو انسان زیاتره له آخرت څخه غافله وي او دنیوي خوندونو او د خپلو همنوعانو پر حقونو تېري ته لېوال وي او د هغو نعمتونو پر ځای چي په هغه دنیا کي ورکول کیږي، د دې دنیا نعمتونو ته ترجیح ورکوي او دا شیان ښکلي او ښه ورته ایسي. له دې امله دی چي لوی څښتن فرمایي:

﴿زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلۡبَنِينَ وَٱلۡقَنَٰطِيرِ ٱلۡمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ وَٱلۡفِضَّةِ وَٱلۡخَيۡلِ ٱلۡمُسَوَّمَةِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ وَٱلۡحَرۡثِۗ ذَٰلِكَ مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلۡمَـَٔابِ ١٤﴾ [آل عمران: ١٤].

ژباړه: «خلکو ته د هغو شیانو (مادیاتو) مینه ښه ایسول سوې ده چي د هغو د نفساني غوښتنو سره سم وي، لکه ښځي، زامن، د ډېرو سرو او سپینو زرو زېرمي (د ډول ډول شتو ذخیرې)، ټکیالي (په نخښه سوي، ممتاز او ښکلي) اسونه او نور څاروي او د ونو او کرني مځکي. دا هر څه د (دې) دنیا د ژوند سامان (او فاني ښکلا) باله سي. (خو، د حق د لاري د لارویانو) د تل تر تله انجام ښایست (یعني د جنت ډېر ښه ژوند) یوازي

د الله سره دی. (او هغه پوهیږي چي په آخرت کي نېکچارو ته څه ورکړي)».

دا د اللهﷻ له سترو حکمتونو څخه یو حکمت دی چي انسان چي د لوی څښتن په عبادت مامور سوی او مکلف سوی دی وازمایي، څو مطیع او سر کښه له سرغړوونکي او نافرمانه څخه بېل او ځرګند سي، او هغه کسان معلوم کړي چي د خپل نفس او هوا د خوښي پر چارو باندي هغه چاري وړاندي کړي چي د لوی څښتن خوښیږي او په تر سره کولو سره یې د هغه رضا ترلاسه کیږي. لوی څښتن فرمایي:

﴿ٱلَّذِی خَلَقَ ٱلۡمَوۡتَ وَٱلۡحَیَوٰةَ لِیَبۡلُوَكُمۡ أَیُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلࣰاۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِیزُ ٱلۡغَفُورُ ۝٢﴾ [الملك: ۲].

ژباړه: «هغه (الله) مرګ او ژوند د دې لپاره پیدا کړ، چي ومو ازمایي، چي له تاسي څخه څوک د کړني له مخي غوره (او اخلاص من) دی او هغه د داسي بشپړځواک څښتن دی (چي هیڅ شی یې نه سي عاجزه کولای او هغو ګنهکارانو ته چي توبه وکاږي) ډېر بخښونکی دی».

داسي به ډېر لږ پېښیږي چي انسان له ګنهونو او ناوړو چارو څخه ګردسره ځان خوندي ساتلی وي. که یو څوک هر څوني هلي ځلي او کوښښ هم وکړي چي له ګنهونو او ناوړو چارو څخه ځان وساتي، بیا به هم هماغه ضعیف او ظلوم او جهول انسان وي چي د شهوتونو په وړاندي بې وسه وي او بیا به یې هم پښې د منکراتو او ناسمو کارونو تر سره کولو ته ورښوییږي. البته پر کومو کسانو چي د خدایﷻ ځانګړی فضل سوی وي، د هغو خبره بېله ده.

حضرت رسول اللهﷺ فرمایي:

«كُلُّ ابْنِ آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ»[١] .

ژباړه: ټول بنيادمان تېروزي، خو د تېروتونکو غوره کسان هغه دي چې توبه وکاږي او خدای ته له ګناهونو او معصيتونو څخه په طاعتونو او عبادتونو سره رجوع وکړي.

په دې توګه ويلای سو چې غفلت، تېروتني او ښويېدني د انسان په خټه او طبيعت کې اخښلي دي. خو د لوی څښتن ﷻ سنت او قانون دا دی چې په خپل لطف او کرم يې د توبې کښلو چاره ښېخي ډېره آسانه کړې ده او هغه څوک چې د توبې کښلو اراده وکړي، کافر وي، که مشرک، مرتد وي، که منافق، ظالم وي او که بل هرڅوک، مطلب هر ګنهکار چې وي د توبې دروازه يې ورته پرانيستې ده او پر خپلو بندګانو يې دا لورونه فرمايلې ده چې د هغو ګناهونه ور وبخښي او ښويېدني او نادودي يې ور محو کړي. رسول الله ﷺ فرمايي:

«وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ لَمْ تُذْنِبُوا لَذَهَبَ اللَّهُ بِكُم وَلَجَاءَ بِقَوْمٍ يُذْنِبُونَ فَيَسْتَغْفِرُونَ اللَّهَ فَيَغْفِرُ لَهُمْ»[٢] .

ژباړه: زما دي په هغه ذات قسم وي چې زما نفس (ځان) يې په واک کې دی چې که تاسي ګناه نه کولای، نو لوی څښتن به تاسي له منځه وړي وای او داسي قوم به يې رامنځ ته کړی وای چې ګناه به يې

---

١- ترمذي، کتاب القيامة والرقاق، ٤٩/ ١١٤باب، (٢٤٩٩) حديث. دغه حديث شيخ الباني حسن بللی دی.

٢- مسلم، کتاب التوبة، باب سقوط الذنوب ١١ ـ (٢٧٤٩) حديث.

کولای او بیا به یې له الله تعالی څخه بخښنه غوښتلای او الله به بخښلای.

د لوی ښتن د لوی او عظیم الشان دربار دروازه تل پرانیستې ده. او پر خپلو بنده ګانو یې رحم او شفقت زښت زیات دی. هغه هرچا ته د خپلې بخښني او مهربانۍ په پراخه لمن کي ځای ورکوي، خو چې هغه رشتيني توبه وکاږي اورجوع ورته وکړي. له دې امله دی چې ویل سوي دي چې توبه د بنده د ټول عمر دنده ده او دا د بنده پیل او پای او دعبودیت له لومړیو، منځنیو او وروستیو منازلو څخه باله سي، بنده بې له توبې بله چاره نه لري. نو موږ ټول باید په دې پوه سو چې مېړه او نېکمرغه هغه دي چې د عمر وروستی او انجام يې سم سي، رسول اکرمﷺ فرمايي:

«إِنَّ الْعَبْدَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ النَّارِ وَإِنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَإِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَإِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيمِ» (متفق علیه)[۱].

ژباړه:يو بنده به د خلکو په مخ کي په لومړيو کي د دوږخي کارونه کوي، خو له جنتيانو څخه به وي او يو بنده به د خلکو په وړاندي په لومړيو کي د جنتي کارونه کوي، خو له دوږخيانو څخه به وي، بې شکه چې اعتبار د اعمالو پای او خاتمې ته دی.

دغه راز قاعده ده چې: «العبرة بكمال النهاية لا بنقص البداية» (اعتبار وروستيو بشپړتيا وو ته دی، نه لومړنيو نيمګړتياوو ته).

زه به کوښښ وکړه چې په دې کتاب کي پر دې موضوع باندي جذباتي خبري ونه کړم، بلکي که خدایﷻ کول په دې ليکنه کي به د

---

۱- مشکوة، کتاب الایمان، باب باب الایمان بالقدر (۸۳) حديث.

علمي موازينو سره سم د توبې او د هغې د لارو چارو، شرايطو، احکامو او له ګنهونو څخه د ډېږي کولو په هکله څه لنډي څرګندوني وکړم. خدایﷻ دي وکړي چي زما دا نيمګړی کوښښ زما او د نورو د رشتيني توبې کښلو لپاره بشپړ لارښود وګرځوي. لوی څښتن ته مي دعا ده چي زما او نورو توبه کوونکو توبه قبوله کړي او په قول او عمل کي اخلاص را په برخه کړي، له تېروتنو او ښوييدنو څخه مي وساتي او دې کتاب ته د منلو او قبوليت شرف وبخښي. راځئ د توبې کښلو طريقې او احکام مطالعه کړو، د ګنهونو د بخښي لاملونه ومومو او د هغو د غوره کولو او خپلولو هڅه وکړو. په دې هيله او دعا چي زموږ د توبې کښلو او د اللهﷻ په حضور کي د هغې د منلو لامل او مرستندوی وګرځي. والله المستعان وعليه التکلان.

په پای له اللهﷻ څخه د دې کتاب د چاپ او خپرېدو په چارو کي برخه اخيستونکو او د هغه لوستونکو ته د ثوابونو او ښې بدلې غوښتونکی يم.

وصلى الله وسلم على نبينا محمد وعلى آله وصحبه اجمعين.

**عبد المالک همت، همت ټاټوبی، د ده افغانانو نوآباد، کابل، د ۱۳۸۹ل. کال د لړم د مياشتي دوه ويشتمه**

# څو نوري خبري

ای درووند لوستونکې!

پوه سه چي الله تعالی ابلیس د یوې سجدې پر نه کولو چي امر یې ورته کړی وو، د ډېر لوی عزت له مقامه را وپرځاوه او د تل لپاره یې وتراټه. آدم عليه السلام یې د یوې ګولې پر خوړلو له جنته وایست او دې خاورینې نړۍ ته یې واستاوه. دغه راز یې امر کړی دی چي زنا کار دې هغه ځای ته چي روایښت نه لري د یوې ګوتي په کچه دځانګړي آلت د ننایستلو په جرم په ډېره بده وضعه و وژل سي. همداراز یې د درو دراهمو پر غلا د غله د لاس پرېکولو امر کړی دی.

نو ای مسلمانه وروره! همدغسي نورو جزاوو ته فکر وکړه او پوه سه چي کېدای سي پر یوه ګناه لا نه پر یوه ګناه دې د دوږخ اور ته ورتېل وهي. ﴿وَلَا يَخَافُ عُقْبَـٰهَا ۝١٥﴾ [الشمس: ١٥]. «او الله د دوی د تباه کولو له کومې بدې پایلې څخه بېره نه لري».

ګرانه وروره!

ګنهونه او معاصي د انسان پر زړه او بدن باندي په دې او هغه دنیا کي دوني بدې، ناوړې، ضرر ناکي او خطرناکي اغېزې لري چي یو خدای جل جلاله ښه پوهېږي. یوه پیاوړي لیکوال په خپل کتاب کي دغسي اغېزي ډېري زیاتي را اخیستي دي[1]، خو زه به یې دلته یو څو درته ولیکم:

---

١- د سعد یوسف ابوعزیز، موسوعة الاخلاق الاسلامیة (١/ ١٢٤) مخ.

لومړی: د ګناه اغېزه له علم څخه بې برخیتوب دی؛ ځکه چي علم او پوهه یو نور او رڼا ده چي لوی څښتن د بنده زړه په روښانه کوي، خو ګناه دغه رڼا وژني.

دوهم: د ګناه بله ناوړه اغېزه د رزق او روزۍ کمښت دی؛ ځکه تقوا او پرهېزګاري د رزق ډېروونکې ده او عدم تقوا او ګناه د رزق له منځه وړونکې ده.

درېیم: د ګناه بله ناوړه اغېزه یو ډول بېره او وحشت دی چي د ګنهکار په زړه کي د ده او لوی څښتن تر منځ پیدا کیږي.

څلورم: د ګناه بله ناوړه اغېزه یو ډول کرکه ده چي د ګنهکار او خلکو تر منځ پیدا کیږي. په تېره د ګنهکار او ښو خلکو ترمنځ. ځینو اولنو فرمایلي دي: «ما که څه هم ګناه د خدای تعالی په وړاندي کړې وي، خو اغېز یې زما په وړاندي زما په آس او مېرمن کي ووینم».

پنځم: د ګناه بله ناوړه اغېزه د کارونو مشکل کېده دي. ګنهکار چي هرکار ته لاس واچوي ستونزي او تکالیف ور پېښ سي.

شپږم: د ګناه بله ناوړه اغېزه د زړه او بدن بې سېکي او ضعف دی. د مومن ځواک او قوت په زړه کي وي، نو چي زړه یې قوي وي، بدن یې هم قوي وي او چي په ګنهونو سره یې زړه تیاره او بې سېکه سي بدن یې هم بې سېکه سي.

اووم: د ګناه بله بده اغېزه د عمر لنډ والی او بې برکتي ده. لکه نېکۍ او ښېګڼې چي د عمر د اوږدېدو لامل کیږي همدغسي ګنهونه او بدۍ د عمر د لنډېدو لامل کیږي. په تېره د ظلم د ګناه د تر سره کوونکي عمر ډېر لنډ وي. که تاسي د ظالمو واکمنو عمرونو ته ځیر سئ، در معلومه به سي چي هغو ډېر لنډ عمر درلودلی وي.

دا وه د ځينو ګنهونو ضررونه.

که بيا هم تا سي ددغو جزاوو او بدو اغېزو يادول له ګنهونو څخه نه راګرځوي، او پر زړه مو اغېز نه ښندي، نو د ګنهونو شرعي جزاوو ته فکر وکړئ، کومي چي د خدایﷻ او پيغمبرﷺ لخوا ټاکلي سوي دي. لکه د لاس پرې کېده، درې وهل، سنګساول، وژل، زنداني کول او داسي نور.

که دا هم ستاسي پر زړه تاثير نه ښندي، نو هغو سزاګانو ته پام وکړئ او زړه مو ځني وبېروئ چي خدای تعالی په آخرت کي ګنهکارانو ته ټاکلي دي. ځکه چي ببره د لوی ځښتن هغه شلاخه ده چي زموږ بې لاري او بې ادبه نفسونه پر لار او مؤدب کوي.

نو ښاغلې لوستونکې!

له دغو جزاګانو او ضررونو او ډېرو نورو ناوړو پايلو څخه ستاسي د ژغورني لپاره موږ دا ځو ټکي چي د قرآن کريم، نبوي سنتو او لويو عالمانو له کتابونو څخه مو را ټول کړي دي، درته بيانوو، هيله ده، لوستل يې تاسي ته ګټور واقع سي. والله الموفق لما يُحب ويرضى.

# د توبې لغوي او شرعي تعريفونه

## لومړی: د توبې لغوي تعريف

توبه په لغت کي: له معصيت (ګناه او نافرمانۍ) څخه د طاعت پر لور رجوع ته وايي. او د (تاب الله عليه) معنا ده: الله د هغه توبه قبوله کړه.

ابو منصور وايي: د (تاب) معنا ده: خدای ته وروګرځېد او رجوع يې ورته وکړه او له ګناه څخه يې لاس واخيست، توبه يې وکښل او پر پښېمانه سو. او د (تاب الله عليه) معنا ده: هغه يې وباخښه. او داچي لوی څښتن فرمايي: ﴿وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا﴾ [النور: ٣١]. معنا يې ده: ای مومنانو! ټول د الله طاعت ته وروګرځئ او له هغو مخالفتونو او ناوړو کارونو او اخلاقو څخه چي د لوی څښتن د احکامو په مقابل کي مو کړي او درلودل توبه وکاږئ.

لوی څښتن توبه قبلوونکی دی، کله چي بنده لـه خپلي ګناه څخه توبه وکاږي، د هغه توبه په خپل فضل سره قبلوي[1].

## دوهم: د توبې شرعي تعريف

توبه پـه شـريعت کي پـر تېـرو نـاوړو کـارونواو ګنهونـو (کړنـو او ويناوو) باندي د هغو په بدوالي باندي په پوهېدو سره پښـېماني او د تل لپاره د هغو د پرېښوولو په هکله ټينګ عزم او هـوډ دی، البتـه کـه

١ – د ابن منظور لسان العرب د «توب» ماده.

يې له چا څخه په ظلم او ناحقه ترلاسه کړي وي، هغه به بېرته ورکوي او يا به بخښنه ځني غواړي. او دا توبه به هم لوی ښتن ته او د هغه په حضور کي او د هغه لپاره وي، نه د دنيوي ګټې او کوم ضرر د مخنيوي لپاره[1].

د توبې تعریف ډېرو عالمانو په خپلو الفاظو کړی دی، خو موږ دلته د لاندي درو تنو لويو امامانو تعريفونه را اخلو:

حضرت حسن بصريرحمه الله فرمايلي دي: توبه داده چي څوک له ګناه څخه په زړه کي پښېمانه سي، په ژبه له خدایﷻ څخه بخښنه وغواړي، په جوارحو (د بدن په غړو) د هغې تر سره کول پرېږدي او په زړه کي يې پټه وساتي او بيا ور ونه ګرځي[2].

امام غزاليرحمه الله د يو لړ تعريفونو په ترڅ کي د توبي دا ډول تعریف هم کړی دی: توبه داده چي څوک ګنهونه سمدستي پرېږدي، په راتلونکې کي يې د پرېښوولو هوډ او عزم وکړي او کوم تقصيرات چي پخوا ځني تر سره سوي دي، په ښو اعمالو يې تدارک او جبران کړي[3].

امام ابن القيمرحمه الله فرمايلي دي: توبه له هغو څخه چي لوی ښتن يې نه خوښوي، هغو ته چي لوی ښتن يې خوښوي رجوع او

---

۱- د ابن حجر العسقلاني فتح الباري ۱۲۳/۱۱مخ او د محمد بن إبراهيم الحمد، التوبة وظيفة العمر، المكتبة الشاملة.

۲- د ابن مفلح الآداب الشرعية، المكتبة الشاملة.

۳- إحياء علوم الدين ٤/٤مخ.

ګرځېده دي، په پټه وي که په ښکاره وي. چې اسلام، ایمان او احسان او نور ټول مسایل پکښې راځي[1].

په الطریق الی التوبة کتاب کي یې د توبې نسبتاًجامع تعریف داسي کړی دی: توبه په شریعت کي د ګناه په بدوالي باندي په پوهېدو سره، د هغې پرېښوول، د هغې پر تر سره کولو باندي پښېمانتیا او پر هغې باندي د واک پیدا کولو په صورت کي د هغې د بیا نه کولو په هکله ټینګ عزم او هوډ، د امکان په صورت کي د خدای له بنده ګانو څخه په زور او ظلم د اخیستلو سوو شیانو، بېرته هغو یا د هغو ورثه وو ته ورکول، او د قضا سوو او ضایع سوو فرایضو بېرته اداکول دي. چي دا به لوی ښتن ته په اخلاص، له هغه څخه د ثواب په هیله او د هغه له عقاب څخه په بېره کي وي، او تر زکندن او له لویدیځ څخه د لمر تر راختو دمخه به وي.

یادونه: که د حقوقو د ښتنانو او د هغو د ورثه وو پته نه لګېده، نو بیا په زور او ظلم اخیستل سوی مال د هغه د خاوندانو لخوا خیرات کړئ او پخپله یې د ثواب هیله مه کوئ.

## د ژبې توبه

البته که په پورته ډول توبه ونه کښل سي او مازي په ژبه توبه توبه لري او له زړه څخه یې د ګناه خوند او لذت نه وي وتلي، نو دې ته علما فاسده توبه وایي، چي دا نه ده صحیح، بلکي له دي څخه هم باید توبه وکښل سي. رشتیا هم دا توبه نه ده، بلکي د توبې الفاظ دي. نامتو عالم ډاکټر یوسف قرضاوي وایي:د عوامو د اندونو په

---

۱- د محمد بن إبراهیم الحمد، التوبة، دمدارج السالکین په حواله.

خلاف مازي په ژبه توبه کښل، توبه نه شمېرل کيږي. يعني توبه کښل داسي ساده خبره هم نه ده، بلکي توبه تر دې سخته او يوه ستره چاره ده. البته په توبه تلفظ کول مطلوب دی، خو تر قطعي تصميم او د لوی څښتن په وړاندي پر ګناه باندي تر اقرار او اعتراف وروسته به وي. اما يوازي په ژبه استغفار او د توبې اعلان، د زړه بې له هوډ او تصميمه ــ د ذوالنون مصري په وينا ــ د دروغجنو توبه ده.

## دروا‌غجنه توبه

منصور بن عمار وايي چي ما يو اشنای درلود چي د ګنهونو په تر سره کولو سره يې پر ځان ظلم کاوه. خو يو وخت يې توبه وکښل. مابه هغه ډېر ليدی چي په ښو کارونو، عبادت، لمانځه روژو نيولو او تهجد او داسي نو رو به بوخت وو.

بيا هغه وو چي څو ورځي مي نه ليدی. بيا چا راته وويل چي هغه ناروغه دی. نو زه يې د پوښتني لپاره کور ته ورغلم. کله چي مي دروازه ورو ټکول لور يې راووتل او راته ويې ويل چي څوک دي په کار دی؟ ما ورته وويل چي پلار ته دي ووايه چي پلانی راغلی دی. نو هغه وو چي ماته يې کورته د ننوتلو اجازه راکړه. کله چي کورته ورننوتلم ومي ليد چي د کور د غولي په منځ کي يې پر کټ باندي اړخ وهلی دی. او مخ يې خورا ډېر تور سوی وو. سترګي يې بې نوره سوي وې او شونډان يې وچ سوي او ترخي ترخي چاودلي وه. ما په داسي حال کي چي له قوارې څخه يې وبېرېدم، ورته وويل: (لا اله الا الله) ډېر ډېر وايه. هغه ستر ګي په ډېر تکليف پرانيستې، راته ويې کتل او بېرته بې سده سو. بيا مي ورته وويل: وروره د (لا اله الا الله)

کلمه ډېره ووایه او بیا مي هم کلمه ورته تکرار کړه. دغه مهال یې سترګي پرانیستې او راته ویې ویل: ای منصوره وروره! دا داسي کلمه ده چي زما او د هغې ترمنځ واټن راغلی دی. ما وویل لاحول ولا قوة الا بالله العلی العظیم. بیا مي ورته وویل: وروره ستا هغه لمونځونه، روژې، تهجد او عبادتونه او ښه کارونه څه سول؟ راته ویې ویل: دا د خدای لپاره نه وه. او ما په درواغو توبه کښلې وه. او دا کارونه ما د دې لپاره کول چي خلک ښه را باندي ووایي. دا ټول په ریا وه. کله چي به زه په کور کي یوازي سولم ډول ډول ناروا وي به مي کولې، نه لمونځ وو، نه بل څه، شراب به مي خوړل، ډول ډول سازونه او سندري به وې او زه به وم او په دې ډول مي د خدای پر ضد هر ناوړه عمل تر سره کاوه. تر دې چي ناروغه سوم او د مرګ تر پولي ورسېدم. نو مي دغي لور ته وویل چي: قرآن کریم راته راوړه. کله چي مي قرآن کریم په لاس کي ونیو ومي ویل: الهي ستا د دغه قرآن په برکت ماته شفا راکړه، زه ژمنه درسره کوم چي بیا به هیڅکله بد کارونه نه کوم. نو هغه وو چي لوی څښتن ﷻ رحم راباندي وکړ او روغ سوم.

کله چي جوړ سوم شیطان زما او د لوی څښتن ترمنځ هغه کړې ژمنه راڅخه هېره کړه او بېرته مي هغو خپلو ناوړو کارونو، خوندونو او ساز او سرود ته لاس واچاوه. څو موده همدغسي راباندي تېره سوه چي بیا ناروغه سوم. دا ځل بیا د مرګ تر پولی ورسېدم، نو مي د خپل پخواني عادت سره سم مېرمني ته امر وکړ چي د کور غولي ته مي وباسي. بیا مي قرآن مجید راواخیست او څو آیته مي تلاوت کړه او بیا مي لوی څښتن ته زاری وکړې چي ستا د دغه کلام په حق او

برکت مي دا وار لا هم جوړ کړه، بیا داسي نه کوم. خدایﷻ مي بیا پر حال رحم وکړ او بیا یې جوړ کړم. خو ما بیا هغه ناوړه کارونه پیل کړل. چي دا دی بیا دغسي ناروغ سوم. بیا مي قرآن کریم را واخیست چي تلاوت یې کړم، خو داخل هیڅ حرف نه راته معلومیږي. نو پوه سوم چي خدایﷻ را باندي په قهر سوی دی. نو مي سر آسمان ته پورته کړ او ومي ویل: ای لویه خدایه! دا رنځ را څخه واخلې! نو یو ږغ مي تر غوږو سو، چي راته وایي: کله چي ناروغ سې توبه کاږې او کله چي روغ سې بیا ته یې او هغه ستا ناوړه کارونه!

منصور بن عمار وایي چي زما ترسترګو اوښکي را غلې او ځني را ووتلم. خو تر کوره لا نه وم رسېدلی چي خبر سوم چي سا یې ورکړه.

هو ګرانه لوستونکې! توبه، په ژبه توبې کښلو ته نه وایي! بلکي توبه په پټه او ښکاره په زړه پر ګنهونو پښېماني او تېر تریخ او ناوړه حالت ته نه ورګرځېده باله سي.

## له څه شي څخه توبه وکاږو؟

توبه له کوچنیو او لویو (صغیره او کبیره) ګنهونو څخه ایستل کیږي. او هر انسان، په تېره توبه کوونکی باید په هغو ناوړو کړو چي توبه ځني کاږي پوه سي او ویې پېژني، که څه هم په اجمالي توګه وي، څو ډډه ځني وکړي او که چیري په اخته سوی وي، توبه ځني وکاږي. او لکه چي څرګنده ده لوی ښښتنﷻ په خپل عمیم فضل او کرم د توبې ډېره ارته دروازه پرانیستې ده. هغه په خپل سپېڅلي

کتاب قرآن کریم کې د توبې کښلو په هکله ډېر ځایونه امر کړی دی، خپل بنده ګان يې ورته هڅولي دي او د هغې د قبلولو ژمنه او وعده يې کړې ده. هغهﷻ د هرچا توبه قبلوي، کافر وي، که مشرک، منافق وي، که فاسق، مرتد وي که کوم بل طاغي او باغي، ملحد او زنديق وي که ظالم يا په نورو ناوړو چارو او ګنهونو اخته وي.

## د توبې او استغفار ترمنځ توپير

د استغفار ماده «غفر» ده، چې د استفعال د باب مصدر دی. د استغفار معنا ده د مغفرت او بخښني او د ګناه د معافی غوښتل.

لکه چې څرګنده ده، کله کله يوازې توبه بې له استعفاره ذکر کيږي، لکه چې لوی څښتن فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلْمُتَطَهِّرِينَ ﴿٢٢٢﴾﴾ [البقرة: ٢٢٢].

ژباړه: «بې شکه چې الله خپل هغه بنده ګان خوښوي چې بيا بيا رجوع ورته کوي (يعني له ګنهونو څخه توبه کاږي او د بخښني غوښتنه ځني کوي)، او هغه کسان خوښوي چې پاک خواپاکي اوسي (له فواحشو او ککړتياوو څخه ليري ګرځي)».

البته په قرآن کريم کې دغسي نور آيتونه هم سته.

خو کله کله بيا توبه د استغفار سره ملګرې وي. لکه چې لوی څښتن فرمايي:

﴿وَأَنِ ٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوٓا۟ إِلَيْهِ يُمَتِّعْكُم مَّتَٰعًا حَسَنًا إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى وَيُؤْتِ كُلَّ ذِى فَضْلٍ فَضْلَهُۥ﴾ [هود: ٣].

ژباړه: «او (دغه قرآن کريم لارښوونه کوي) چې: که تاسي له خپل پرورد ګار څخه (د پخوانيو) ګنهونو بخښنه وغواړئ او رجوع ورته وکړئ

(او په راتلونکې کي د ګنهونو له تر سره کولو څخه توبه وکاږئ او پر دې توبه باندي همېشه توب وکړئ). نو هغه به (ستاسي د رشتياني استغفار او مخلصانه توبې په سبب) تر يوې ټاکلي مودې (د مرګ تر ګړيه) پوري (له رزق او پراختيا او د دې جهان د ژوندانه له ښېګڼو څخه) د (ګټې ترلاسه کولو او) ښه خوند اخيستلو موکه درکړي او (په آخرت کي به د خپل عدل سره سم) هر د فضل او احسان خاوند ته د هغه د فضيلت او احسان (علم او عمل) زيات اجر ورکړي».

دغسي نور آيتونه هم په قرآن کريم کي سته.

په دې توګه استغفار د زړه له کومي پر ګناه باندي پښېماني او بيا د هغې د نه کولو ژمنه ده. او علامه ابن القيم بيا ويلي دي چي استغفار د تېر شر او معصيت څخه د وقايې غوښتنه ده او توبه رجوع او د هغه شر او ګناه څخه چي په راتلونکې کي ځني ببريږي د وقايې غوښتنه ده. البته کله چي توبه او استغفار بېل بېل ياد سي، نو يو د بل په مسمى کي داخل سي. په دې توګه توبه رجوع ده او استغفار له ګناه څخه مفارقت باله سي[1].

## مغفرت

مغفرت له «غفر» څخه اخيستل سوى دى. چي معنا يې ده: د ګناه بخښل او سترګي ځني پټول. لکه چي تر توبې او استغفار وروسته الله تعالى پر خپل بنده خپل رحمت لوروي او بخښي يې.

---

۱- د ابن القيم مدارج السالکين ۲۳۶/۱

## عفو

د عفوي معنا هم بخښنه او ګردسره تر ګناه او تېروتني تېرېدنه او د ګنهونو له منځه وړنه ده. د مغفرت معنا مازي بخښل دي، اما د عفوي معنا ګردسره تر ګناه تېرېدل او د هغو له منځه وړل دي. عفو تر مغفرت وروستۍ مرحله ده. داسي وبوله چي د ګناه بخښنه مغفرت دی او د ګناه د جرم بېخي له عملنامې څخه ایسته کول «عفو» ده. ګواکي د عفوي په نتیجه کي ګنهکار داسي سو لکه ګردسره چي یې ګناه نه وي کړې.

له لوی څښتن څخه بخښنه د عفوي په الفاظو غوښتل ډېره ښه ده. لکه چي د قدر د شپې ځانګړې دعا داده:

«اللَّهُمَّ إِنَّكَ عُفُوٌّ كَرِيمٌ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي».

ژباړه: ای لویه څښتنه! ته معافوونکي او تر حد تېر بخښونکي او د کرم څښتن یې او عفو او تېرېدنه خوښوې، ځکه نو ما معاف کړه او تر ګنهونو مي راتېر سه.

ګنهکار چي توبه وکاږي او له الله تعالی څخه د مغفرت غوښتنه وکړي، نو یې الله تعالی وبخښي او چي بنده زیاته پښېمانتیا څرګنده کړي او له خدایه عفو وغواړي، نو الله د ده د ندامت او ډېري بېري له امله له عفوي څخه هم کار اخلي او بالکل یې معافوي او له عملنامې څخه یې ګناه محو کوي. البته د رشتیاني توبه کوونکي سره دا هم کوي چي د هغه د ګنهونو پر ځای نېکۍ لیکي[1].

---

۱- د مفتي ثناء الله محمود سچی توبه کیجئے ۲۵ مخ.

## نصوح توبه

نصوح توبه هغې توبې ته وايي چې رشتينې، خالصه او حقيقي او قطعي وي، هيڅ شبهه او علت پکښې نه وي او بيا هيڅ ماته نه سي او له ټولو ګناهونو څخه وي. د دې توبې يادونه په قرآن کريم کي يو وار په التحريم سوره کي سوې ده، په دې ډول:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ تُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ تَوۡبَةٗ نَّصُوحًا عَسَىٰ رَبُّكُمۡ أَن يُكَفِّرَ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيُدۡخِلَكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ﴾ [التحريم: ٨].

ژباړه: «ای مومنانو! الله ته (داسي) رشتينې توبه وکاږئ (چي بيا هيڅ ور ونه ګرځئ او هيڅ اراده يې ونه کړئ)، ګوندي الله ستاسي څخه ګناهونه ورژوي او تاسي ته په داسي جنتونو کي ځای در کړي چي تر ونو لاندي يې ولې بهيږي».

په التوبة وظيفة العمر کتاب کي وايي چي نصوح توبه هغه ده چي يوازي د خدای له بيري وي او د جاه او جلال او چوکۍ د خونديتوب مطلب پکښې نه وي او نه د مال او خپل واک د ساتني لپاره وي. همدا راز د دې لپاره هم نه وي چي خلک يې ښه ووايي او د هغو د بد ويلو څخه د تښتېدو لپاره وي. البته که دغسي نصوح توبه څوک وکاږي لوی څښتن به يې ټول ګناهونه وبخښي او چي پر دغه توبه ټينګ ودريږي بدۍ په يې په نېکيو واوړي.

د توبة النصوح په باره کي د علمای کرامو نور بېل بېل قولو نه هم سته. چي له هغو څخه ځيني دادي:

١ - نصوح هغه توبه ده چي وروسته يې د ګناه خوا ته ګرځېده داسي ناممکن سي، لکه تيو ته چي د شيدو ورګرځېده ناشوني

دي.

۲- نصوح هغه توبه ده چي ورپسې یې د بنده په زړه کي تل دا بېره وي چي زما توبه به قبوله سي که نه؟ او د دې تر څنګ پر کړو ګنهونو باندي سخت پښېمانه هم وي.

۳- نصوح توبه هغه ده چي تر هغې وروسته انسان بیا بیا توبې کولو ته اړ سي.

٤- نصوح توبه هغه ده چي په زړه کي پښېماني، په ژبه استغفاروي او ګناه پرېږدي او په راتلونکې کي د ګناه نه کولو ټینګ هوډ او عزم وکړي.

٥- نصوح توبه داده چي د ګناه بدي تل د بنده په ذهن کي ور ګرځئ. ګواکي تل هغهویني.

٦- نصوح توبه داده چي د ګناه د دروند والي له امله یې دا پراخه مځکه تنګه په نظر ورځي او تل د ګناه د وریادېدو له امله نفس تنګه وي.

۷- نصوح توبه داده چي د خلکو سره ټولي شخړي او لانجې ختمي کړي، د خلکو حقوق ورکړي، ځان له هر څه څخه فارغ کړي او په نېکو اعمالو اخته سي.

۸- په پلاوو پلاوو د ګناه له امله خپل ځان ملامت کړي او ټول عمر پښېماني پر څرګنده کړي، څو د نورو ګنهونو له آفته فارغ سي.

۹- ګناه تر سره کول یې له ذهن څخه داسي ووزي چي هیڅ یې په یاد کي نه ور ګرځئ. او د دې لپاره چي توبه بنه قبوله سي د لوی څښتن سره زیات محبت کوونکی سي او د بل چا مینه

له زړه څخه وباسي.

۱۰- نصوح توبه قبولي سوي توبې ته وايي. او په هغې کي د درو شرطونو موجوديت اړين دى: ۱- د توبې د نه قبلېدو بېره. ۲- د قبلېدو هيله. ۳- په ښو کارونو مشغولېدل.

ځيني بيا وايي چي دغه څلور شرطونه ورته ضروري دي:

(الف) په ژبه استغفار.

(ب) د بدن غړي له ګناه څخه ليري کول.

(ج) په زړه کي د ګناه نه کولو پوخ عزم کول.

(د) له بدو مجلسونو څخه ډډه کول.

## د توبې فضايل او ديني او دنيوي ګټې

هر هغه عبادت چي لوی څښتن ﷻ يې خپلو بنده ګانو ته د تر سره کولو امر کړی دی، هرومرو فضيلتونه، بېلي بېلي ګټې او اسرار اوښېګڼي لري. او په دې کي شک نسته چي توبه افضل د عباداتو ده، بلکي د حنبلي مذهب يو ستر امام ابن رجب رحمه الله وايي چي: «توبه د ټول عمر وظيفه ده»[1].

موږ به هڅه وکړو چي د توبې له بېخي ډېرو فضايلو، اسرارو، ديني او دنيوي ګټو څخه يو څه بيان کړو:

۱- د توبي له سترو فضايلو څخه د توبه ايستونکي سره د الله ﷻ مينه او محبت دی، لوی څښتن ﷻ په قرآن کريم کي د توبې يادونه تقريباً اتيا ځايه په بېلو بېلو لارو کړې ده. لکه چي کله الله تعالی خپل بنده ګان توبې ته هڅوي، کله هم د توبې

---

۱- د حافظ ابن رجب لطائف المعارف، ۳۴۹ مخ.

ارزښت او درنښت بیانوي، کله هم د توبه کوونکو تعریف کوي، لکه چې فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلۡمُتَطَهِّرِينَ ﴿٢٢٢﴾﴾ [البقرة: ۲۲۲].

ژباړه: «بې شکه چې الله خپل هغه بنده ګان خوښوي چې بیا بیا رجوع ورته کوي (یعني له ګنهونو څخه توبه کاږي او د بخښني غوښتنه ځني کوي)، او هغه کسان خوښوي چې پاک خواپاکي اوسي (له فواحشو او ککړتیاوو څخه لیري ګرځي)».

په دې توګه د توبې عبودیت لوی څښتن ته تر ټولو غوره او خوښ عبودیت دی. ابن قیمؒ فرمايي که لوی څښتن ته توبه تر ډېرو شیانو غوره او خوښه نه وای نو به یې خپل بنده ګان په ګنهونو نه اخته کولای، دا د توبې او توبه کوونکي سره د اللهﷻ ځانګړې مینه ده چې هغه په ګناه اخته کوي، بیا یې د توبې کښلو ته هڅوي او بیا فرمايي چې زه توبه کښونکي او خواپاکي خلک خوښوم.

۲- دغه راز د توبې له فضایلو څخه په هغې باندې د لوی څښتن خوشالي ده. په دې هکله د رسول اللهﷺ دې متواتر حدیث ته پام وکړئ:

«لَلَّهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ حِينَ يَتُوبُ إِلَيْهِ مِنْ أَحَدِكُمْ كَانَ عَلَى رَاحِلَتِهِ بِأَرْضِ فَلاَةٍ فَانْفَلَتَتْ مِنْهُ وَعَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ فَأَيِسَ مِنْهَا فَأَتَى شَجَرَةً فَاضْطَجَعَ فِي ظِلِّهَا قَدْ أَيِسَ مِنْ رَاحِلَتِهِ فَبَيْنَا هُوَ كَذَلِكَ إِذَا هُوَ بِهَا

قَائِمَةً عِنْدَهُ فَأَخَذَ بِخِطَامِهَا ثُمَّ قَالَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ اللَّهُمَّ أَنْتَ عَبْدِى وَأَنَا رَبُّكَ. أَخْطَأَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ»[۱].

ژباړه: کله چې بنده توبه وکاږي او خدای تعالی ته رجوع وکړي، نو الله تعالی د هغه په توبه دونه زیات خوشاله کیږي، لکه له تاسي څخه چې یو څوک په بتې بیابان کي پر خپله اوښه سپور وي او خواړه او اوبه یې پر بار کړي وي او بیا دغه اوښه د دغو خوړو او اوبو سره یو ځای ځني ورکه سي. او هغه یې له بېرته پیدا کېدو څخه نهیلی سي او د یوې وني تر سیورېي لاندي اړخ ولګوي. په دغه حال کي نابېره ووینې چې اوښه یې ورته ودریږي. تر مهار یې ونیسي. بیا یې له ډېري خوشالۍ څخه خوله خطاوزي او ووایي: پروردګاره!ته زما بنده یې او زه ستا رب!!

البته هر مسلمان هیله لري او غواړي چې لوی څښتن محبت ورسره ولري او په توبه یې خوشاله سي.

ابن القیم پر پورتني حدیث باندي د څرګندونو په ترځ کي وایي: د لوی څښتن دغسي خوشالي له توبې پرته د بل هیڅ عبادت په هکله نه ده بیان سوې. څرګنده ده چې دغه خوښي د توبه کوونکي پر حال احوالو او زړه باندي ستر اغېز ښندي او له دغي خوښۍ تر دې زیات او بل ډول تعبیر نه سي کېدای. په دې ډول ګنهکار بنده په توبه سره د لوی څښتن د محبوب درجې ته رسیږي. او د خدای حبیب او دوست باله سي.

---

۱- صحیح مسلم، کتاب التوبة، باب في الحض علی التوبة والفرح بها (۶۸۵۴/ ۲۷۴۷) حدیث.

۳- د توبې بله ښېګڼه د دواړو نړیو سعادت او نېکمرغي ده. لـوی څښتن فرمايي:

﴿وَأَنِ ٱسْتَغْفِرُواْ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيْهِ يُمَتِّعْكُم مَّتَٰعًا حَسَنًا إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى وَيُؤْتِ كُلَّ ذِى فَضْلٍ فَضْلَهُۥ﴾ [هود: ۳].

ژباړه: «او (دغه قرآن کريم لارښوونه کوي) چې: که تاسي له خپل پروردګار څخه (د پخوانيو) ګنهونو بخښنه وغواړئ او رجوع ورته وکړئ (او په راتلونکې کي د ګنهونو له تر سره کولو څخه توبه وکاږئ او پر دې توبه باندي همېشه توب وکړئ). نو هغه به (ستاسي د رشتياني استغفار او مخلصانه توبې په سبب) تر يوې ټاکلي مودې (د مرګ تر ګړيه) پوري (له رزق او پراختيا او د دې جهان د ژوندانه له ښېګڼو څخه) د (ګټي ترلاسه کولو او) ښه خوند اخيستلو موکه درکړي او (په آخرت کي به د خپل عدل سره سم) هر د فضل او احسان خاوند ته د هغه د فضيلت او احسان (علم او عمل) زيات اجر ورکړي».

مفسرينو کرامو فرمايلي دي چي په پورتني آيت کي د اسـتغفار او توبې حکم سوی دی او پکښي فرمايلي يې دي چي توبـه او اسـتغفار کوونکي الله تعالی په دنيا کي د ښه ژوند خاونـدان کـوي، پـراخ رزق او غوره او سپېڅلی ژوند ورپه برخه کوي.

٤- د توبې بل فضيلت د خير ښېګڼي، برکتونو، ظاهري او بـاطني عافيت او د زړونو د ډاډ، د نېکمرغـی، هوسـايی، سـوکالی او ښـې روغتيـا رامـنځ تـه کېـده، د پـر وخـت اوښـو او ګټـورو اورښـتونو اورېـده، د آفتونـو او ډول ډول توپـانونو لرېـده، پـر دښمنانو باندي بری او قوت او شـوکت او امـن او ټيکـاو دی. لوی څښتن د هودﷺ له قوله فرمايي:

﴿وَيَٰقَوۡمِ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِ يُرۡسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيۡكُم مِّدۡرَارٗا وَيَزِدۡكُمۡ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمۡ وَلَا تَتَوَلَّوۡاْ مُجۡرِمِينَ ۝٥٢﴾ [هود: ٥٢].

ژباړه: «ای زما ولسه! (ایمان راوړئ او) له خپله پروردګاره څخه (د خپلو ګنهونو او تېروتنو) بخښنه وغواړئ، بیا رجوع ورته وکړئ، هغه به پر تاسي باندي له آسمانه په شېبو شېبو اورښتونه (او برکتونه) واوروي (چي له امله به يې ستاسي کښې زياتي سي)، او ستاسي په اوسني ځواک (او عزت او پرتم) کي به نور زياتوب راولي او (ای زما قومه!) د ګنهکارانو غوندي مخ مه اړوئ. (او پر ګنهونو باندي ټينګار او مداومت مه کوئ)».

٥- دغه راز د لوی څښتن دې ژمني ته پام وکړئ:

﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ۝٥٥﴾ [النور: ٥٥].

ژباړه: «له تاسي څخه چي څوک ايمان راوړي او ښه عملونه وکړي، الله د هغو سره وعده کړې ده چي هرومرو به يې په مځکه کي خپل داسي خليفه ګان وګرځوي، لکه تر دوی دمخه خلک چي يې خپل خليفه ګان ګرځولي وه. د هغو لپاره به په هغه دين سره ځواک وبخښي چي ورته غوره کړی يې دی، او د هغو د بيري (اوسنی) حالت به په امن بدل کړي، (بس) هغوی دي زما بندګي وکړي او زماسره دي څوك نه شريکوي. او څوك چي تر دې وروسته کفر غوره کړي (او ناشکري وکړي) نو همداسي کسان فاسقان (او نافرمانه) دي».

٦- د توبې بله ګټه داده چي د بنده ګنهونه او سيئات په نېکيو او حسناتو بدليږي. لوی څښتن فرمايي:

﴿إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَٰلِحًا فَأُوْلَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمْ حَسَنَٰتٍۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ۝٧٠﴾ [الفرقان: ۷۰].

ژباړه: «خو چي څوک توبه وکاږي او ايمان راوړي او نېک عمل وکړي نو الله د دغسي خلکو (ګنهونه بخښي اوتېر او پخواني ګنهونه او) بدۍ يې په نېکيو بدلوي او الله ډېر بخښونکي او ډېر مهربان دی. (او نه دا چي بدۍ يې بخښي، بلکي په نېکيو يې اړوي)».

لنډه دا چي په قرآن کريم او نبوي احاديثو کي په ډېرو ځرګندو الفاظو د توبې او استغفار ډېري زياتي دنيوي او اخروي ګټې بيان سوي دي. ځکه نو پر ټولو، غير مسلمينو، مرتدانو، زنديقانو او د مسلمانانو پر عوامو او خواصو، واکمنو او رعيتو بانديې؛ مطلب پر ټولو انسانانو، په تېره پر ګرده اسلامي امت باندي لازمه ده چي ګنهونه پرېږدي او توبه وکاږي او له لويه څښتنه په توبه، استغفار او عفو غوښتلو سره ځانونه د عزت او شوکت او د دې دنيا او هغې دنيا له ګټو څخه برخمن کړي.

۷- توبه کوونکي ته ملايکي د مغفرت دعاوي کوي، د قرآن کريم دي آيتونو ته پام وکړئ:

﴿ٱلَّذِينَ يَحْمِلُونَ ٱلْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُونَ بِهِۦ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْۖ رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَعِلْمًا فَٱغْفِرْ لِلَّذِينَ تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ۝٧ رَبَّنَا وَأَدْخِلْهُمْ جَنَّٰتِ عَدْنٍ ٱلَّتِي وَعَدتَّهُمْ وَمَن صَلَحَ مِنْ ءَابَآئِهِمْ وَأَزْوَٰجِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ۝٨ وَقِهِمُ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ وَمَن تَقِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهُۥۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ۝٩﴾ [المؤمن: ۷-۹].

ژباړه: «د لوی څښتن د عرش وړونکي ملايکي او هغه چي د عرش شاوخوا حاضري اوسيږي ټولي د خپل رب د ثنا او ستايني سره د هغه پاکي بيانوي، هغوی پر هغه ايمان لري او د مومنانو لپاره بخښنه غواړي او وايي: ای زموږ ربه ته په خپل علم او رحمت سره پر ټولو شيانو احاطه لرې، نو توبه کوونکي او هغه کسان چي ستا د لاري پيروي کوي، وبخښه او د دوږخ له عذابه يې وساته».

علمای کرامو فرمايلي دي چي په قرآن کريم کي تر ټولو هيله او اميد پيدا کوونکی آيت همدغه پورته ياد سوی آيت دی. ځکه که يوه ملايکه هم ټولو مومنانو ته له الله تعالی څخه مغفرت او بخښنه وغواړي، نو الله تعالی هغوی بخښي. خو په دغه مبارک آيت کي ويل سوي دي چي د عرش وړونکي فرشتې او د هغه شاو خوا استوګني مقربي فرشتې ټولي توبه کوونکو مومنانو ته دعاوي کوي.

وګورئ پر الله تعالی باندي مومن، په تېره توبه ايستونکی مسلمان څونه ګران دی، هغه په مزه مزه په ځای کي پروت وي خوب کوي او ملايکي د بخښني دعاوي ورته کوي.

## د توبې د ګټو په هکله زما خپل حال

شکرخداکه‌هرچه‌طلب کردم‌ازخدا　　برمنتهای‌همت‌خود کامران‌شدم

لکه چي موږ ټول پوهيږو انسان يو ضعيف موجود دی. له دې امله له سهوي او خطاخالي نه دی او له هر چا څخه په يو ډول نه يو ډول ګناه تر سره کيږي. لکه چي ان زموږ لومړنی پلار ابوالبشر آدم او حوا انا د بشري ضعفونو له مخي شيطان تېر ايستل او له امله يې د جنت له نعمتونو څخه د مځکي ستونزو او مصيبتونو ته ولېږل سول. له يوې خوا جني او انسي شيطانان تل تر تله لاس په کار دي او د

انسانانو په تېرايستلو او ښويولو پسې دي. له بله پلوه د انسان نفس اماره بالسوء (په بدو کارونو امر کوونکی) دی. دغه راز دا دنيا هم يوه ډېره مکاره بوډۍ ده، چې انسان غرور او خوندونو او شهوتونو ته وربولي. او له بله پلوه انسان د ژوند په لومړيو پړاوونو کې کم سنه وي، خام او بې تجربې وي، بې علمه وي، ځوان وي، احساساتي وي. چې له دې امله ژر غولېږي او د ټولني شيطان صفته ساکښان او د طواغيتو ډول ډول ګوډاګيان يې له حسن نيت او ښو احساساتو څخه بده ګټه اخلي.

له بده مرغه زموږ په ګران اسلامي هيواد کې داسې کسان، ياډلي يا بنسټونه چې د دغسې شيطانانو د ناوړو فعاليتونو مخه ونيسي او ځوانان او نور مسلمانان د هغو په مکرونو پوه کړي او د اسلامي پوهي په سمبالولو سره يې له بې لارۍ او انحراف څخه وژغوري هم دومره دي چې ګردسره پر نشت حساب دي.

پر دې بنسټ زه د دې کتاب ليکوال هم د نورو ډېرو کسانو غوندي له تېروتنو څخه نه يم خلاص او ډېري خطاوي او ګناوي مې له لاسه وتلي دي. کله چې لا ما توبه نه وه کښلې باور وکړئ چې په ډېر ښه ژوند کې به مي زړه پرېشانه وو. تل به مي طبيعت خراب وو. روحي سکون او خوشالي مي په يو ډول نامرئي اضطراب او خفګان اوښتې وه او د يو ډول نه ډاډ او غم غوسې سره به لاس او ګرېوان وم. دنيوي کار مي هيڅ نه برابرېدی. مفلسۍ او خوارۍ مي په کور کې مېنه کړې وه. په ځان او په زړه به ستړی ستومان او لالهاند وم. د يو ډول ګنسيت سره به مخامخ وم او علمي او ادبي کار مي سره له دې چې پوهېدم له لاسه نه کېدی. خو کله چې مي د لوی څښتن ﷻ

په درانه حضور کي پر تېرو ګنهونو ټينګه او نصوح توبه وکښل او پښېماني مي پر څرګنده کړه او په راتلونکې کي مي د خدایﷻ سره ټينګه ژمنه وکړه چي نور به ګناه نه کوم او خپل تېر ګنهونه به په ښو کارونو جبيره کوم. نو وروسته چي زه په پر له پسې توګه له الله تعالی څخه د خپلو ګنهونو د مغفرت او عفوې غوښتنه کوم، او اوس هم ډېر شرمنده يم او ځني بېرېږم، خو د عفوې او رحمت په بې پايه سمندر يې د دې ګنهونو د پرېوللو او بخښلو هيله لرم. په ډېره څرګنده توګه مي احساس کړې ده چي يو ډول خوشالۍ لاس راکړی دی، دزړه ډاډ او سکون مي موندلی. ذهن او فکر مي تېز سوی، د اسلامي ليکنو سره مي مينه زياته سوې او چي د هر مطلب په باب مي د ليکني قصد کړی دی ډېره راته آسانه سوې او په ډېر ښه ترتيب سر ته رسېدلې ده. پخوا په ډول ډول ناروغيو اخته وم، دوا به مي کول، خو نه به راباندي لګېده. اما اوس مي الحمد لله ناروغی ښه سوې او که څه نوې ناروغي را پېښه سي په درملنه ښه سي.

له بلي خوا مي په رزق او روزي کي پراخي راغلې او ژوند مي ډېر هوسا او له خوشاليو ډک او مالامال سوی دی. چي زه د لوی څښتنﷻ پر دې لورونو او نعمتونو باندي شکر کاږم، پر تېرو ناسمو کړنو باندي پښېمان او په ټينګه توبه ګار يم، په بيا بيا مي توبه ده، خدای تعالی دي د هغه پاک او سپېڅلي دربار ته د هر څه زياتي رجوع نور توفيق او د ښو او سمو کارونو وس هم راکړي آمين. لوی څښتن څه ښه فرمايلي دي:

﴿مَن كَانَ يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ٢ وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسۡبُهُۥٓۚ﴾ [الطلاق: ۲-۳].

ژباړه: «هر څوک چې له خدایه وېرېږي او پرهېزګاره سي الله (له هر کړاوه) د ژغورني لار ورته برابروي. او له هغه ځایه چې تصور یې هم نه کوي روزي رسوي او هر څوک چې پر الله توکل وکړي (خپل هر کار هغه ته وسپاري) خدای یې بس او کافي دی».

نو راځئ زما ډېرو درنو ورونو چې په اخلاص او صداقت سره نصوحه توبه وکاږو، څو د خدای تعالی له خوښې او دغسي نعمتونو او لورونو څخه برخمن سو.

## د توبې وجوب

په دین کي توبه کښل ډېره ستره چاره باله سي او په اسلام کي ډېر ستر ځای او منزلت لري. له دې امله د ظاهري او باطني، فقهي او اخلاقي علومو ټولو علمای کرامو د قرآن کریم او نبوي سنتو د نصوصو پر بنسټ فرمایلي دي چې له ګنهونو څخه توبه سمدستي (علی الفور) واجب ده. ان چې ابو محمد سهل‌رحمه‌الله ویلي دي چې خلکو ته تر توبې بل ډېر واجب شی نسته او څو ک چې د توبې د پوهي په هکله معلومات نه لري د سخت عذاب سره به مخامخ سي. ان که څوک ووایي چې توبه نه ده فرض هغه کافر باله سي[1].

۱- دابو طالب المکي قوت القلوب في معاملة المحبوب، المکتبة الشاملة.

امام نووي رحمه الله فرمايي: د تـوبې سمدسـي وجـوب پـه قـرآن كـريم، نبوي سنتو او د امت په اجماع ثابت دی. يو بل عـالم فرمـايي چـي د توبې سره يو ځای د هغې درې اجزاوي، يعني په ګناه باندي علم، پـر هغې پښېماني او پرېښوول يې هم واجب دي.

## توبه سمدسي واجب ده

په دې كي هيڅ شک او شبهه نسته چي توبه تر ګنهونو ترسره كولو وروسته فوري او سمدستي واجب ده. دا ځكه چي ګنهونه او معاصي هلاكـوونكي او خطرنـاک بلـل پـه نفـس ايمـان كـي داخـل دي. او دا واجب هغه څوک ادا كولای سي چي د هغه له وجوبه خبر وي.

## د توبې ځنډول

د توبې كښلو په هكلـه ډېـر خلـک ځيـني تېروتنـي كـوي، چـي دا د توبې د مفهوم په اړه له ناخبرۍ او د توبې چاري ته د لږ پام اړولـو او بې پروايی څخه پيښيږي چي له دغو خطاوو څخـه يـوه هـم د تـوبې ځنډول دي.

د توبې سمدستي نه كښل او ځنډول يې ډېـر تـاواني كـار دی. دا د انسانانو ډېره لويه خطا ده. ډېرو خلكو ته د توبې كښل يو ډېر كوچنی او عادي كار ايسي. ډېر خلک پوهيږي چي ګناه مي كـړې ده او يـايې اوس هم تر سره كوم، خو توبه نـن او سبا تـه ځنـډوي، ځيـني كسـان توبه د تحصيل د دورې تر پای ته رسېدو پوري ځنډوي، ځيني يې تر واده پوري ځنډوي، ځيني يې تر حج او د عمر د پوختيا پوري ټالوي او په دې سر نه خلاصوي چي د ګناه له ترسره كولو څخه په پيـل كـي د زړه سختي رامنځ ته كيږي. بيا كراركرار انسـان كفـر او ګمراهـۍ تـه

رسوي. په دې هکله به تاسي ته د ابليس او بلعم باعور کيسې يادي وي. له دوی څخه په پيل کي يوه يوه ګناه تر سره سوه، خو ورپسې يې خبره تر کفر او ګمراهۍ ورسېده او د تل لپاره وترټل سول. له دې امله په توبه کښلو کي تلوار او هوښياري او کوښښ په کار دی. که تاسي هرڅه ژر توبه وکاږئ نو هيله کېدای سي چي هرڅه ژر پر ګنهونو باندي د مداومت ناروغي ستاسي له زړه څخه ووزي او د ګنهونو د شومتيا او نحسيت بار ستاسي له زړه څخه ليري سي.

ابن قيم رحمه الله فرمايي: که څوک ګناه تر سره کړي پر هغې باندي سمدستي توبه واجب ده او که يې وځنډوي د ځنډېدو له امله ګناهکار کېږي. که بيا وروسته له دې ګناه څخه توبه وکاږي، نو بله توبه به يې پر غاړه پاته وي چي هماغه د توبې د ځنډېدو توبه ده. په دې حساب بايد دغسي څوک دوې توبې وکاږي.

## د ګناه د بيا کولو له بېري توبه نه کښل

ځيني ګنهکار انسانان غواړي چي توبه وکاږي، خو دا کار له دې بيري نه کوئ چي بيا به ګناه ځني تر سره سي. چي دا يوه تېروتنه ده. ګنهکار بايد هر څه ژر توبه وکاږي. ځکه ده ته څه معلومه ده که خدای مکړه نابېره مرګ ورته راغی، بيا خونو افسوس او ارمان هيڅ ګټه نه کوي. که څوک توبه وکاږي او بيا خدای مکړه ګناه ځني وسي بيادي پر هغې هم توبه وکاږي. لوی څښتن نه دا چي پر دغسي بيا بيا توبه کښلو په غوسه کيږي، بلکي خوشاله کيږي. په دې هکله د رسول الله دې حديث ته پام وکړئ:

«إِنَّ عَبْدًا أَصَابَ ذَنْبًا وَرُبَّمَا قَالَ أَذْنَبَ ذَنْبًا فَقَالَ رَبِّ أَذْنَبْتُ وَرُبَّمَا قَالَ أَصَبْتُ فَاغْفِرْ لِي فَقَالَ رَبُّهُ أَعَلِمَ عَبْدِي أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ بِهِ غَفَرْتُ لِعَبْدِي ثُمَّ مَكَثَ مَا شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ أَصَابَ ذَنْبًا أَوْ أَذْنَبَ ذَنْبًا فَقَالَ رَبِّ أَذْنَبْتُ أَوْ أَصَبْتُ آخَرَ فَاغْفِرْهُ فَقَالَ أَعَلِمَ عَبْدِي أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ بِهِ غَفَرْتُ لِعَبْدِي ثُمَّ مَكَثَ مَا شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ أَذْنَبَ ذَنْبًا وَرُبَّمَا قَالَ أَصَابَ ذَنْبًا قَالَ قَالَ رَبِّ أَصَبْتُ أَوْ قَالَ أَذْنَبْتُ آخَرَ فَاغْفِرْهُ لِي فَقَالَ أَعَلِمَ عَبْدِي أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ بِهِ غَفَرْتُ لِعَبْدِي ثَلَاثًا فَلْيَعْمَلْ مَا شَاءَ»[۱].

ژباړه: کله چي يو بنده ګناه وکړي، نو ووايي چي ای ربه! ما ګناه وکړه نو ما وبخښه! نو د هغه رب عَزَّ وَجَلَّ ووايي: زما بنده پوهيږي چي هغه داسي يو رب لري چي هم ګناه بخښي او هم يې د ګناه په سبب نيسي، ځکه نو ما خپل بنده وباخښه. بيا بنده تر دغوني موديٍ پوري چي د الله خوښه وي له ګناه څخه ډډه وکړي، خو بيا بله ګناه وکړي او بيا ووايي: ای ربه! ما يوه بله ګناه وکړه، نو ما بيا وبخښه! نو د هغه رب عَزَّ وَجَلَّ بيا ووايي: زما بنده پوهيږي چي هغه داسي يو رب لري چي هم ګناه بخښي او هم يې د ګناه په سبب نيسي، ځکه نو ما بيا خپل بنده وباخښه. بيا دغه بنده تر دغوني موديٍ پوري چي د الله خوښه وي له ګناه څخه ډډه وکړي، خو بيا دريم ځل ګناه وکړي او بيا ووايي: ای ربه! ما يوه بله ګناه وکړه، نو ما بيا وبخښه! نو د هغه رب عَزَّ وَجَلَّ بيا ووايي: زما بنده پوهيږي چي هغه داسي يو

۱- صحيح البخاري، کتاب التوحيد، ۳۵ باب (۷۵۰۷). او مسلم او مسند احمد.

رب لري چي هم ګناه بخښي او هم يې د ګناه په سبب نيسي، ځکه نو ما بيا خپل بنده د ديم وار لپاره وباخښه. نو تر څو چي په ګناه اخته کيږي او ماته توبه کاږي زه ي توبه قبلوم.

## د خلکو د خبرو له بيري توبه نه کښل

د ځينو کسانو توبه کښل زړه غواړي، او د تو بې ګټې او طريقه هم ور معلومه وي، خو د ځينو خلکو له خبرو او عيب لګولو څخه بيريږي او په وهم کي وي چي ماته په متشدد او وسواسي او داسي نورو ونه وايي. رشتيا هم زموږ په ټولنه کي داسي خلک سته چي پر يوه خوا سړى نه پرېږدي، که ګناه کوې وايي دا ګناهکار دى او که توبه کاږې وايي دا بيا له کومه دونه ښه سړى او زاهد سو. خو سمه خبره داده چي که کوم ګنهکار توبه کاږي د خلکو په خبرو پسي دي سر نه ګرځوي، ځکه د خلکو د خبرو له بيري توبه نه کښل سم کار نه دى، دى بايد له خدايه وبيريږي، نه د خلکو له خبروڅخه.

بيا د توبه کوونکي لخوا د خلکو ناسمي خبري او رېدل د خداى لخوا يو ډول ازميښت دى. په دې توګه خداى تعالى دى امتحانوي چي آيا دى په خپله توبه کي رشتينى دى او که دروغجن. که په لومړيو وختونو کي د خلکو پر خبرو له صبر او حوصلې څخه کار واخلي، نه داچي توبه به يې د لوى څښتن په نزد رشتينې او قبوله سي او له دې امله به نېکمرغه سي، بلکي هغه خبري کوونکي به هم ده ته وګوري او هغه به هم توبه وکاږي.

## هرڅوک باید توبه وکاږي

بې له پیغمبرانو چې له ګنهونو څخه پاک او معصوم دي، بل هیڅوک له ګناه څخه خالي نه دی. که څوک له ګنهونو څخه وژغورل سي، نو د شیطان له وسوسو څخه نه سي ژغورل کېدلای. ځکه چې شیطان تل د انسان په تېرایستلو پسې دی او د خدای له یاده یې غافله کوي. له دې امله دی چې لوی څښتن ټول مسلمانان په عامه توګه په توبه کښلو امر کړي دي، لکه چې فرمایي:

﴿وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ۝٣١﴾ [النور: ۳۱].

ژباړه: «او ای مومنانو! تاسي ټول د الله په وړاندي توبه وکاږئ، څو ژغورنه او برى درپه برخه سي».

نو له دې څخه څرګنده سوه چې ټول وګړي په توبه کښلو امر سوي دي. البته هر یو په خپله کچه. لکه چې ځیني په ګنهونو او معاصي ووکي غرق وي. ځینو طاعتونه تر سره کړي او د ناروااوو یې ځانونه ژغورلي وي، مګر په مکروهاتو لګیاوي او مستحبات یې پرې ایښي وي.

نو پر لومړۍ ډلي باندي توبه واجب ده، له دې امله چې پر خپلو ځانونو یې ظلم کړی دی، او لوی څښتن فرمایي:

﴿۞قُلۡ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسۡرَفُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ لَا تَقۡنَطُواْ مِن رَّحۡمَةِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًاۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ۝٥٣﴾ [الزمر: ۵۳].

ژباړه: «(ای پیغمبره!) زما هغو بنده ګانو ته ووایه چې پر خپلو ځانونو یې زیاتی کړی دی، د الله له رحمت څخه مه نهیلي (مایوسه) کېږئ، یقین ولرئ چې الله ټولي ګناوي بخښي، هغه خو ډېر بخښونکی، زیات مهربان دی».

ابن کثیر‌رحمه الله د دغه آیت په تفسیر کي لیکي: لوی څښتن په دغه آیت کریمه کي ټولو ګنهکارانو ته کافر وي، که بل څوک د توبې او رجوع لپاره بلنه او دعوت کړی دی. او همدا راز په دغه مبارک آیت کي ویل سوي دي چي الله تبارک وتعالی هغه چا ته چي توبه وکاږي ګردي ګناوي بخښي هر څوني چي وي، که بېخي د سمندر د ځګ غوندي هم وي.

او پر دوهمه ډله توبه مستحب ده دا لـه دې املـه چـي مسـتحبات یې پرې ایښي دي. لکه چا چي سنن رواتب، د شپې قیامـه، د تطـوع صدقې ورکول پرې ایښي وي یایې مکروهات تر سره کـړي وي، لکـه په چپه لاس خوړل او څښل یا په ولاړي خوړل او داسي نور.

## په اسلام کي د توبې ارزښت

توبه د اسلام په سپېڅلي دین کي سـتر ځـای او منزلـت لـري. ابـن قیم‌رحمه الله فرمایي: د توبې په نومونه کي اسلام، ایمان او احسـان او نـور ټول مقامات داخلیږي. ځکه نو عالمانو ویلي دي چـي لـه ګنـاه څخـه توبه سمدستي واجب ده او د لوی څښتن په دې وینا استدلال کوي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ تُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ تَوۡبَةٗ نَّصُوحًا﴾ [التحریم: ۸].

ژباړه: «ای مسلمانانو! الله ته په نصوح توبـه سـره (خالصـانه، د زړه لـه کومي او له پښېمانۍ څخه ډکه) توبه وکاږئ».

دغه راز د لوی څښتن په دې وینا هم استدلال کوي:

﴿وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٣١﴾ [النور: ۳۱].

ژباړه: «او ای مومنانو! تاسي ټول د الله په وړاندي توبه وکاږئ، څو ژغورنه او بری درپه برخه سي».

له دغو آیتونو څخه څرګنده سوه چې د لوی څښتن لخوا ټولو مومنانو ته د توبې د کښلو امر سوی دی، او اصل دادی چې امر سمدستي د وجوب لپاره وي. امام نوويﷺ فرمایلي دي: د قرآن کریم، نبوي سنتو او د امت د اجماع ټول د لایل د توبې وجوب جوتوي. ابن قیمﷺ د پورتني آیت په اړه فرمايي: دا آیت مدني دی او په مدني سوره کي راغلی دی او لوی څښتن په هغه کي مومنان او خپل غوره بنده ګان مخاطب کړي دي چې تر ایمان راوړلو، صبر کولو، هجرت او جهاد وروسته اللهﷻ ته توبه وباسي او بیا یې ژغورنه او بری په توبه معلق کړی او تړلی دی او دا خبره یې پکښي ښوولې یې ده چې پر دغو ټولو ښو کارونو سر بېره چې کله تاسي توبه وکاږئ، نو هیله ده چې وژغورل سئ، نو له دې څخه څرګنده سوه چې د ژغوني هیله او امید باید توبه کوونکي وکړي.

دغه راز لوی څښتن فرمايي:

﴿وَمَن لَّمۡ يَتُبۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ١١﴾ [الحجرات: ۱۱].

ژباړه: «او څوک چې توبه ونه کاږي، نو ظالمان دي».

په دې آیت کي د لوی څښتن بنده ګان پر دوو ډلو توبه کوونکو او ظالمانو باندي وېشل سوي دي. او هغه څوک چې توبه ونه کاږي د ظالم نوم ورته ایښوول سوی دی. څنګه چې دا خبره څرګنده سوه، نو باید پوه سو چې توبه د لوی څښتن لور ته د لارویانو په لار کي یو ستر پړاو دی، نو چې څوک غواړي چې د صالحانو د کاروان سره یو ځای سي او د پیغمبرانو ملګری غوره کړي، نو دي د دوی د غوندي کړنه وکړي.

لوی څښتن فرمايي:

﴿وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّٰلِحِينَۚ وَحَسُنَ أُوْلَٰٓئِكَ رَفِيقٗا ٦٩﴾ [النساء: ٦٩].

ژباړه: «او څوک چي دالله او پیغمبر اطاعت وکړي، نو دهغو خلکو سره به ملګري وي چي الله پېرزوینه پر کړې ده، چي پیغمبران، صادقان، شهیدان او صالحان دي، او څونه ښه ده دا ملګرتیا چي چاته په برخه سي؟ الهي له دغو کسانو له ملګروڅخه مو وګرځوې!».

## د رسول الله ﷺ توبه او استغفار

عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: كَانَ يُعَدُّ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَجْلِسِ الْوَاحِدِ مِائَةُ مَرَّةٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَقُومَ: «رَبِّ اغْفِرْ لِي وَتُبْ عَلَيَّ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الْغَفُورُ»[1].

ژباړه: له حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چي ما په یوه مجلس کي شمېرل چي رسول الله ﷺ د مخه تر دې چي ولاړ سي (له مجلسه پاڅي) سل وا ره دا دعا وکړه: «ای ربه! ما وبخښه او زما توبه قبوله کړه. بې شکه چي ته توبه قبلوونکی او بخښونکی یې».

قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «وَاللَّهِ إِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللَّهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ فِي الْيَوْمِ أَكْثَرَ مِنْ سَبْعِينَ مَرَّةً»[2].

ژباړه: حضرت اوبو هریرة رضي الله عنه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل: په لوی څښتن لوړم چي زه د ورځي تر اویا وارو زیات له لوی څښتن څخه بخښنه غواړم او توبه ورته کاږم.

---

۱- ترمذي، کتاب الدعوات، باب مایقول اذا قام (۳٤۳٤) حدیث.

۲- صحیح البخاري، کتاب الدعوات، باب استغفار النبي (٦۳۰۷ / ۱) حدیث.

د حضرت رسول اللهﷺ دونه زیات توبه او استغفار د دې لپاره نه وو چي نعوذ بالله هغه په ګناه اخته کېدی، ځکه چي هغه له ګناه څخه پاک او معصوم وو.، بلکي د دې لامل داوو چي رسولﷺ د عبدیت او بنده ګي تر ټولو لوړ مقام او دریځ ته رسېدلی وو. له دې امله هغه په خپله پو هېدی چي ښایي زما څخه د الله تعالی په بنده ګي او عبادت کي کوم کمی راغلی وي او زه هغه بنده ګي ونه کولای سم چي د لوی او ذوالجلال څښتن د شان سره وړ او لایقه ده.

دغه راز د هغهﷺ موخه له دې دغونه استغفار او توبې څخه دا وه چي خپل امت توبې او استغفار ته وهڅوي.

حضرت علي کرم الله وجهه به فرمایل: د ځمکي پر مخ د الهي عذاب څخه د خوندي توب او امن دوه پناه ځایونه وه، چي یو اوس نسته او بل پاته دی. ځکه نو دغه دوهم پناه ځای غوره کړئ. کوم پناګاه چي اوس زموږ په منځ کي ژوندی نه دی پاته، هغه رسول اللهﷺ دی. او کوم چي پاته دی هغه استغفار دی. لوی څښتن فرمایي:

﴿وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمۡ وَأَنتَ فِيهِمۡۚ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ مُعَذِّبَهُمۡ وَهُمۡ يَسۡتَغۡفِرُونَ ۝٣٣﴾ [الأنفال: ۳۳].

ژباړه: «او (ای پیغمبره!) تر څو ته د دوی په منځ کي اوسي الله عذاب نه ورکوي. او همداراز الله دوی ته عذاب نه ورکوي په داسي حال کي چي هغوی د استغفار یعني بخښني غوښتنه کوي».

## د توبې دروازه پرانیستې ده

دا هم د لوی څښتن لوی رحمت او فضل دی چي پر خپلو بنده ګانو یې د توبې دروازه پرانستې ده. په یوه «حسن» حدیث کي راغلي دي:

عَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ؛ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهَّ صَلَّى اللهُّ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِنْ قِبَلِ مَغْرِبِ الشَّمْسِ بَابًا مَفْتُوحًا عَرْضُهُ سَبْعُونَ سَنَةً. فَلَا يَزَالُ ذَلِكَ الْبَابُ مَفْتُوحًا لِلتَّوْبَةِ، حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ نَحْوِهِ. فَإِذَا طَلَعَتْ مِنْ نَحْوِهِ. لَمْ يَنْفَعْ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا»[١].

ژباړه: له صفوان بن عسال څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د لمر لوېدو خواته يوه دروازه پرانيستې ده چي د بره او ږد والی يې د اويا کالو د مزله په اندازه دی. دغه دروازه لوی څښتن تر هغه مهاله د توبې لپاره پرانيستې پرې ايښې ده، څو لمر له لوېديځ څخه راخيژي. نو کله چي لمر له لوېديځ څخه راوخوت بيا نو چاته هغه ايمان ګټه نه رسوي چي دمخه يې نه وي راوړی يابه په خپل ايمان کي څه خير ونه مومي.

له دې څخه معلومېږي چي لوی څښتن پر خپلو بنده ګانو تر مور او پلار هم مهربانه دی.

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّهُ قَالَ: قَدِمَ عَلَى رَسُولِ اللهَّ صَلَّى اللهُّ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْيٍ فَإِذَا امْرَأَةٌ مِنْ السَّبْيِ تَبْتَغِي إِذَا وَجَدَتْ صَبِيًّا فِي السَّبْيِ أَخَذَتْهُ فَأَلْصَقَتْهُ بِبَطْنِهَا وَأَرْضَعَتْهُ فَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللهَّ صَلَّى اللهُّ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَتَرَوْنَ هَذِهِ الْمَرْأَةَ طَارِحَةً وَلَدَهَا فِي النَّارِ قُلْنَا لَا وَاللَّهِ وَهِيَ تَقْدِرُ عَلَى أَنْ لَا تَطْرَحَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَلَّهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ هَذِهِ بِوَلَدِهَا»[٢].

---

١ - ابن ماجة، كتاب الفتن، باب طلوع الشمس من مغربه (٤٠٧٠) حديث.

٢ - مسلم، كتاب التوبة، باب سعة رحمة الله(٦٨٧٢ / ٢٧٥٤) حديث.

ژباړه: حضرت عمرﷺ وايي چې رسول اللهﷺ ته يو شمېر اسيران (قيديان) ورغله په دغو اسيرانو کې يوې ښځې کوم څوک لټاوه چې نابېره يې يو کوچنی وموند او هغه يې واخيست او په ځان پورې يې ټينګ ونيو او تې ته يې واچاوه. رسول اللهﷺ ماته وويل: آيا دغه مېرمن به دغه کوچنی اور ته واچوي؟ ما ورته عرض کړه: په خدای قسم چې تر څو د دې وس وي دا کوچنی به اور ته وانه چوي. رسولﷺ وفرمايل: لکه څنګه چې دغه مور پر دغه کوچني مهربانه ده، الله تعالی پر خپلو بنده ګانو تر دې ډېر مهربان دی.

سبحان الله! لوی څښتن د څونه لوی فضل او احسان خاوند دی!

## ګنهکار ته دوزخي مه واياست

عَنْ جُنْدَبٍ؛ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَ «أَنَّ رَجُلًا قَالَ: وَاللَّهِ لَا يَغْفِرُ اللَّهُ لِفُلَانٍ. وَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى قَالَ: مَنْ ذَا الَّذِي يَتَأَلَّى عَلَيَّ أَنْ لَا أَغْفِرَ لِفُلَانٍ. فَإِنِّي قَدْ غَفَرْتُ لِفُلَانٍ وَأَحْبَطْتُ عَمَلَكَ» أَوْ كَمَا قَالَ[١].

ژباړه: حضرت جندبﷺ وايي چې رسولﷺ وفرمايل: يوه سړي وويل چې په خدای قسم چې خدای تعالی پلاني سړي ته بخښنه نه کوي. خو لوی څښتن تعالی وفرمايل دا کوم سړی دی چې په مايې ولوړل او وايي چې زه پلانی سړی نه بخښم. (هغه دي پوه سي چې) ما هغه سړی وباخښه او ستا عمل مې، ضايع کړ. يعني ستا لوړه مې دروا غ کړه.

١- مسلم، کتاب البر والصلة، باب النهي عن تقنيط الانسان ١٣٧- (٢٦٢١) حديث.

حقیقت دا دی چې زموږ ځیني خلک داسي دي چې خپل ځانونه پاک او سپېڅلي ورته ایسي او که بل چا په پخوا مهالونو کې څه ګناه کړې وي او توبه یې پر کښلې وي، او خدای بخښلی وي خو دی په خبر وي، نو دی یې نه بخښي او په هر مجلس کې یې د انسي او جني شیطانانو په ټونګ غیبت او چغلي کوي. په داسي حال کې چې دغسي وګړي په دې نه پوهیږي چې د الله تعالی رحمت ډېر پراخ او عام دی او د ده ګنهګارو بنده ګانو ته هم د ده د رحمت په پراخه لمن کې د پناه اخیستلو ځای سته او بخښي یې.

په دې توګه دغه په اصطلاح سپېڅلی مسلمان ایله بېله خپل ځان په ګناه ککړ کړي. سمه خبره داده چې د هیچا په هکله باید په قطعي توګه ونه ویل سي چې دا جنتي دی یا دوږخي، ځکه دغسي خبري جواز نه لري. هو! که قرآن او حدیث چا ته جنتي یا دوږخي ویلي وي، هغو ته جنتي یا دوږخي ویل پروا نه کوي.

## زموږ د دې ټولو بخولو لامل زموږ ګنهونه دي

د لوی ښتن پر دې مځکه باندي په دې یوویشتمه پېړۍ کې دا دونه ظلمونه او نادودي او دا تکلیفونه، کړاوونه او نه ډاډ، بې امنیتي او بخولي او پرېشانۍ دې بوډۍ مځکي دمخه نه وي لیدلي او که یې لیدلي وې دونه نه وې. اوس خو چې هره خوا ګورو پر مسلمانانو باندي د ظلمونو ژرندي چلیږي او ډول ډول خطرات او آفات ورته متوجه دي. پر مسلمان امت باندي کفري نړۍ له هري خوا تېري او یرغلونه کوي. او په خوارېدو او سپکاوي او له منځه تلو یې اخته دي.

په افغانستان کي دی که په پاکستان کي، په کشمير کي دی که په هندوستان کي، په فلسطين کي دی که په ایران کي، په فليپين کي دی که په برما کي، په چيچين کي دی که په کوسوو کي هر ځای مسلمان په ويرونو اخته او په ساندو سر دی. که لږ څه ځير سو نو خامخا دې پايلي ته رسيږو چي د دې ټولو غميزو لامل زموږ ناوړه عملونه او بد نيتی، بد ګومانی، يو د بل غيبت او چغلی او بې اتفاقی او په تېره له توبې او د ځان له اصلاح کولو څخه د ټول امت غفلت دی. قرآن کريم په دې اړه فرمايي:

﴿ظَهَرَ ٱلۡفَسَادُ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ بِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِي ٱلنَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعۡضَ ٱلَّذِي عَمِلُواْ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ٤١﴾ [الروم: ٤١].

ژباړه: «خلکو چي په خپلو لاسونو څه ګټلي (شرک، کفر او نور ډول ډول ناوړه غملونه يې تر سره کړي) دي، د هغو له امله په وچه او سمندر (بحر وبر) کي فسادخپور سوی دی (لکه وچ کالي، د اوربښتونو لږ والی، د ناروغيو ډېرښت او ډول ډول وباوي او نور)، څو چي الله په هغو باندي د هغو د ځينو عملونو (او ګنهونو) خوند وڅکي (سزا ورکړي) ښايي چي هغوی راوګرځي. (دغفلت له خوبه را پاڅي، له ګنهونو لاس واخلي او توبه وکاږي او خپل ځانونه او چاري اصلاح کړي)».

يو عالم د دغه آيت په اړه په خپل يوه کتاب کي ليکي چي د «خلکو چي په خپلو لاسونو څه ګټلي» څخه موخه فسق، فجور، ظلم او زياتی او دهريت، د سيکولريستي افکارو منل او خپرول او داسي نور دي.

دغه راز قرآن کريم فرمايي:

﴿وَمَآ أَصَٰبَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٖ ٣٠﴾ [الشورى: ٣٠].

ژباړه: «پر تاسي چي هر مصيبت راغلی دی، هغه ستاسي د لاسونو د تر سره کړو کارونو له امله دی. او هغه (لوی څښتن) ستاسي تر ډېرو (ناوړو) کارونو درتېرېږي».

له پورته آيتونو او څرګندونو څخه اشاره رسيږي چي که له بخولو او بلاوو څخه ژغورنه غواړو، نو علاج يې له ناوړو کارونو او عملونو څخه لاس اخيسته دي. يعني له معاصيو او ګنهونو څخه توبه او استغفار ئې ډېر ښه او غوره علاج دی.

## د توبې شرطونه

علمای کرامو د قرآن کريم د آيتونو او نبوي سنتو پر بنسټ فرمايلي دي چي ګناه چي هر څه وي او هرڅوني کوچنۍ هم وي له هغې څخه توبه واجب ده. بيا ګناه دوه ډوله ده. يوه هغه ګناه ده چي په الله تعالی پوري اړه لري، يعني په حقوق الله کي څه کمی سوی وي. د دې ګناه د توبې څو شرطونه دي، چي بايد تر سره سي، څو د لوی څښتن لخوا دا توبه ومنل سي. دغه شرايط دادي:

١ - ګناه بايد ګردسره او سمدستي پرېښول سي او بيا ګناه کوونکی له هغې څخه ځان ليري وساتي. لوی څښتن فرمايي:

﴿وَٱلَّذِينَ إِذَا فَعَلُواْ فَٰحِشَةً أَوۡ ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ ذَكَرُواْ ٱللَّهَ فَٱسۡتَغۡفَرُواْ لِذُنُوبِهِمۡ وَمَن يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ إِلَّا ٱللَّهُ وَلَمۡ يُصِرُّواْ عَلَىٰ مَا فَعَلُواْ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ١٣٥﴾ [آل عمران: ١٣٥].

ژباړه: «او هغه کسان چي کله کومه د شرم وړ ناروا چاره ورڅخه تر سره کيږي، يا يې کله دکومې ګناه په کولو پر خپلو ځانو ظلم کړی وي، نو سمدستي الله يادوي او له هغه څخه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړي، او له الله څخه پرته بل څوک دی چي ګناهونه وبخښي؟ او هغوی د پوهې او ادراک سره په خپلو کړنو ټينګار نه کوي».

٢- بايد پر ګناه باندي پښېماني څرګنده سي. البته که څوک پر ګناه باندي پښېماني او ندامت څرګند نه کړي توبه يې نه صحيح کيږي. او دا شرط په ټولو شرطونو کي مهم دی، لکه چي رسول اللهﷺ عايشې بي بيرضي الله عنها ته وفرمايل:

«يَا عَائِشَةُ إِنْ كُنْتِ أَلْمَمْتِ بِذَنْبٍ فَاسْتَغْفِرِي اللَّهَ فَإِنَّ التَّوْبَةَ مِنْ الذَّنْبِ النَّدَمُ وَالِاسْتِغْفَارُ»[1].

ژباړه: ای عايشې که تا کومه ګناه کړې وي، نو له لوی څښتن څخه يې بخښنه وغواړه، ځکه چي له ګناه څخه توبه پښېماني او بخښنه غوښتل دي.

٣- بايد توبه کښل د لوی څښتنجل جلاله سره د اخلاص په رڼا کي وي. البته دا په ټولو عبادتو نو کي شرط دی، لکه چي لوی څښتن فرمايي:

﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ وَيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُواْ ٱلزَّكَوٰةَۚ وَذَٰلِكَ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ ۝٥﴾ [البينة: ٥].

ژباړه: «او دوی ته خو يوازي دا حکم سوی وو چي د الله عبادت دي په پوره اخلاص وکړي. دين دي خالص د هغه مني، له باطل څخه دي

---

١- مسند احمد، (١٢٠٨) حديث. وصححه الألبانيرحمه الله في السلسلة الصحيحة.

حق ته مخ ګرځوي او لمونځ دي کوي او زکات دي ورکوي او هم دا ګردسره رشتینی سم دین دی».

٤- باید توبه پر خپل وخت باندي وي. د توبې کښل دوه وخته لري، یو عام وخت دی چي د ټولو خلکو لپاره او تر قیامته دی، کله چي قیامت راورسیږي بیا توبه نه قبلیږي. په دي هکله د رسول الله دې حدیث ته پام وکړئ:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهَّ صَلَّى اللهُّ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ تَابَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِ»[١].

حضرت ابو هریره رضي الله عنه وایي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چي د لویدیځ لخوا د لمر تر راختو دمخه توبه وکاږي لوی څښتن یې توبه قبلوي.

البته بل د هر چا لپاره ځانګړی وخت دی، او هغه تر زکندن د مخه مهال دی او کله چي د بنده د ژوند وروستۍ سلګۍ سي د توبې دروازه پر وتړل سي. لوی څښتن جل جلاله فرمایي:

﴿وَلَيْسَتِ ٱلتَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلْمَوْتُ قَالَ إِنِّى تُبْتُ ٱلْـَٰٔنَ وَلَا ٱلَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمْ كُفَّارٌ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٨﴾﴾ [النساء:١٨].

ژباړه: «او دهغو خلکو لپاره توبه نسته چي پر له پسې بدکارونه کوي تر دې پوري چي کله له هغو څخه دیوه دمرګ نېټه راورسېږي، نو به ووایي چي ما اوس توبه وکښل. او همدغه راز دهغو کسانو لپاره هم توبه نسته

١- مسلم، کتاب الذکر، باب استحباب الاستغفار٤٣ـ (٢٧٠٣) حدیث.

چي دمرګ تر وخته پوري پر کفر باندي پاته سي. ددغه ډول خلکو لپاره خو موږ دردناکه سزاچمتو کړې ده».

٥- ټینګ هوډ او اراده به کوي چي په راتلونکې کي به ګناه نه کوي.

٦- که یې د بنده ګانو حقوق خوړلي وي، د هغو حقوق به بېرته ورکوي او یا به بخښنه ځني غواړي. خو که یې د چا غیبت یا چغلي کړې وي یا یې ظالم حکومت یا کفارو ته د کوم مسلمان په هکله جاسوسي کړې وي یا یې پر چا ناحقه تور تړلی وي یا یې داسي نور کړي وي، نو پر واجب ده چي حق خبره رامنځ ته او روښانه کړي، ځکه چي ده په دغسي ناوړو چارو ظلم کړی دی. لوی څښتن فرمايي:

﴿إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَبَيَّنُواْ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَتُوبُ عَلَيۡهِمۡ وَأَنَا ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ۝١٦٠﴾ [البقرة: ١٦٠].

ژباړه: «هو! هغه خلک چي توبه وکاږي او خپل ځان اصلاح کړي (او عقیده سمه کړي او کړي ګنهونه په ښو اعمالو جبیره کړي) او (حق او هغه الٰهي احکام چي پټ کړي یې دي) په زغرده بیان کړي، نو زه د دغسي خلکو توبه قبلوم او زه (ماته د رجوع کوونکو) توبه قبلوونکی او (پر دغسي کسانو) ډېر رحم کوونکی یم».

خو که د دغسي خبرو په روښانولو او ښکاره کولو سره کوم ستر فساد او جنجال رامنځ ته کیږي، نو بیا د فقهي قاعده داده چي: «دَرْء الْمَفَاسِد أَوْلى مِنْ جَلْب الْمَنَافِع» یعني د مفاسدو له منځه وړل د مصالحو تر جلبولو او په لاس راوړلو غوره باله سي. په دې صورت کي دي هغه

چا ته چي دغسي ظلم يې ورسره کړی وي له لوی څښتن څخه بخښنه وغواړي او په ښو دې يادونه وکړي. والله اعلم.

البته که له دغو شرطونو څخه يو هم تر سره نه سي، نو توبه سمه او صحيح نه ده. ځينو عالمانو د توبې د شرطونو په جمله کي ځيني نور تفصيلات هم ليکلي دي له هغو څخه ځيني دادي:

توبه به په ځانګړې توګه د لوی څښتن لپاره وي، نه د کوم بل شي په موخه او مقصد. لکه چي د ګناه کولو قدرت يې ختم سي نو توبه وکاږي. يا بيا خطا او ګناه نه سي کولای، يا د خلکو له بيري توبه وکاږي. يا يې ګناه واک او چوکۍ ته ضرر رسوي نو توبه وکاږي، يا يې ګناه روغتيا ته تاوان رسوي، نو توبه وکاږي، يا ګناه کوي، خو لار ورته پيدا نه کړای سي، نو ووايي چي زما توبه ده دا کار نه کوم. يا د شرابو رانيولو پيسې ونه لري او ووايي چي زما له شرابو خوړولو څخه توبه ده يا له توبې څخه موخه د خلکو ستايني او تعريفونه نه وي، او...

## د توبې مقامات

عالمانو د توبې درې مقامه ښوولي دي:توبه، انابت او اوابت.

توبه د لوی څښتن د عذاب له بېري ده. انابت د ثواب د ترلاسه کېدو لپاره دی. او اوابت د لوی څښتن د فرمان وړلو او منلو لپاره دی. پر دې بنسټ توبه د عامو مسلمانانو مقام باله سي. انابت د اولياوو او د خدایﷻ د مقربينو مقام دی او اوابت د انبياوو او مرسلينو مقام ګڼل سوی دی.

ځکه نو د اطاعت سره يوځای له کبايرو څخه د رجوع نوم توبه دی. او د لوی څښتن په مينه او محبت کي له کوچنيو ګنهونو څخه د رجوع نوم انابت دی او له خپله ځانه (خودی څخه) د لوی څښتن لور ته د رجوع نوم اوابت دی.

## د ګناه له زياتوب څخه زړه تور سي او زنګ يې ووهي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَذْنَبَ كَانَتْ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ فِي قَلْبِهِ فَإِنْ تَابَ وَنَزَعَ وَاسْتَغْفَرَ صُقِلَ قَلْبُهُ فَإِنْ زَادَ زَادَتْ فَذَلِكَ الرَّانُ الَّذِي ذَكَرَهُ اللَّهُ فِي كِتَابِهِ:».

﴿كَلَّا ۖ بَلْ ۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾﴾ [المطففين: ١٤].

ژباړه: حضرت ابو هريرهرضي الله عنه وايي چي رسوالله ﷺ وفرمايل: کله چي مسلمان ګناه وکړي، په زړه کي يې يو تور ټکي پيدا سي، نو که توبه وکاږي او له ګناه لاس واخلي او له لويه څښتنه بخښنه وغواړي زړه يې بيرته پاک سي، او که نور ګنهونه پسي وکړي، نو هغه تور ټکي لوی سي او ټول زړه يې تور او زنګ خوړلی کړي. نو همدغه زنګ خوړل دي چي لوی څښتن يې په هکله ويلي دي:

«داسي نه ده، بلکي د دوی عملونو د دوی پر زړونو زنګ لګولی دی».

«که نور ګنهونه پسي وکړي، نو هغه تور ټکي لوی سي او ټول زړه يې تور او زنګ خوړلی کړي».

د دې عبارت مطلب دادی چي څنګه چي په ګنهونو کي پرله پسې زياتوب راځي، همدغسي پر له پسي او کرار کرار په زړه کي هغه تور ټکي لوييږي، تر څو چي ټول زړه تک تور او زنګ خوړلی کړي او د زړه رڼا او نور له منځه يوسي. چي بالاخره يې اغېزه او نتيجه دا سي

چې د مسلمان زړه له نوره بې برخې سي. لکه چې نه ګټور علوم ارزښت ورته لري او نه يې نېک اعمال تر سترګو ښه ايسي. او نه د عقل او حکمت خبري تاثير پر کوي. په دې توګه هغه د شفقت او رحمت له ډېر غوره صفت څخه خالي سي، چې نه پر خپل ځان رحم کوي او نه د بل چا سره د رحم او شفقت کړنه کوي او په نهايت کي يې په زړه کي د ظلم، جهل او شر او فتنو تيارې ځای ونيسي او پای يې پر ګناه جرأت دونه زيات سي چې د معصيت او ګناه ژوند غوره کړي. لوی څښتن مودي په خپل فضل او مرحمت له دغه حاله وساتي، آمين.

## يوازي د ګناه پرېښوول هم بسنه نه کوي

يوه بله مهمه خبره داده چې که يو څوک د خپلو ځينو غوښتنو (خواهشاتو) پيروي وکړي او بيا خدای تعالی د توبې توفيق ورکړي، نو يوازي د دغو غوښتنو د پيروۍ پرېښوول توبه نه بلل کيږي، بلکي تر دغو ګناوو د مخه چې يې هر څوني ګناوي کړي دي، د هغو تلافي هم ضروري ده. د ا ځکه چې کوم انسان چې کله کومه ګناه کوي، نو يې پر زړه باندي يو ډول تياره پرېوزي، لکه چې څوک پر هينداره باندي ساوکاږي، نو هينداره پيکه سي. او څه نه پکښي معلوميږي. اوس نو که د ګنهونو دغه تياره پوړ پر پوړ خپره سي، نو زنګ ځني جوړ سي. چې دغه کيفيت لوی څښتن په قرآن کريم کي داسي بيانوي:

﴿كَلَّا ۖ بَلْ ۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ۝١٤﴾ [المطففين: ١٤].

ژباړه: «داسي نه ده، بلکي د دوی عملونو د دوی پر زړونو زنګ لګولی دی».

اوس نو که دغه زنګ نور هم زیات سي نو د انسان په طبیعت اوړي او تر دې وروسته نو الله تعالی د بنده پر زړه مهر لګوي. ځکه په دغسي زړه کي د لاربنووني اثر او وړتیا ختمه سي. لکه پر هینداره چي خوپ ولویږي او تر ډېره وخته پاکه نه سي، نو په زنګو اوړي او بالاخره یې شفافیت له منځه ولاړ سي او داسي حالت ته ورسیږي چي پاکول یې ناشونی کار سي. او څنګه چي کار نه ځني اخیستل کیږي نو یې ایسته وغورځوي.

همدغسي توبه دې ته نه وایي چي ووایي په راتلونکې کي زه ګناه نه کوم. بلکي پر زړه چي د ګنهونو کومه تیاره پرېوتې ده، د هغې له منځه وړل هم اړین باله سي. لکه د هینداري لپاره چي دا کافي نه ده چي بیا به سا نه پر کاږم، بلکي مخکنۍ خیري به هم ځني پاکیږي. همدغسي له ګنهونو څخه پر زړه تیاره خپریږي او د نېکیو له تر سره کولو څخه زړه روښانه سي او د ګناوو تیاره ځني لیري سي او د هینداري غوندي پاک سي. ځکه نو انسان ته په هر حال کي د ګنهونو د تیارو د لیري کولو لپاره په ښو اعمالو بوختیا په کار ده.

## د توبې قبلېده

تر توبې کښلو وروسته د توبه کوونکي په ذهن کي دا سوال ورګرځي چي آیا د هغه توبه د رب العزت په دربار کي قبوله سوې ده، که څنګه؟ د دی سم او درست جواب لوی ښتن توبه کوونکي ته د خوب یا مراقبې په حال کي ورکوي. او وروسته د انسان په زړه

کي د نېکيو تر سره کولو ته هڅوونکي جذبې او خيالات پيدا سي. چي ځني معلومېږي چي د هغه توبه قبوله سوې ده. په دې اړه ځينو علمای کرامو بيا د توبې د قبلېدو لس علامې ليکلي دي، په دې توګه:

١- چاچي رشتينې توبه کښلې وي، نو خپله ژبه له ټولو ګناوو څخه ساتي. له درواغو، غيبت، چغلۍ، چټي خبرو او ښکنځلو او داسي نورو څخه ډډه کوي. له دې ټولو څخه يې بد راسي او پر ځای يې د قرآن کريم په تلاوت، ذکر او داسي نورو بوختيږي.

٢- همدغسي د نس له ګنهونو څخه هم ډډه کوي، يعني حلال شته خوري، له حرامو څخه پرهيز کوي.

٣- خپلي سترګي د لوی ښتن له نافرمانۍ څخه ژغوري. او د حرامو له ليدو کتو څخه ډډه کوي. دنيا ته د رغبت په سترګو نه، بلکي د عبرت په سترګه ګوري.

٤- غوږونه د سندرو، درواغو، چغلۍ او چټي خبرو له اورېدو څخه ليري ساتي.

٥- خپل لاسونه حرامو شيانو ته نه غځوي. او نه چا ته تکليف ورکوي، همداراز نامحرم ته لاس نه ورکوي او روغبړ نه ورسره کوي. بلکي خپل لاسونه د الله د رضا لپاره پورته کوي.

٦- خپلي پښې د ګناه له ځايه ليري ساتي، په هغو د ګناه او معصيت پر ځای، هغو ځايونو ته ځي چي د الله رضا وي. يعني جوماتونو، د خير ښېګڼو او جهاد ځايو نو ته درومي.

٧- زړه له هر ډول ککړ تيا څخه پاکوي. په دنيا کي عداوت او بغض او حسد د دنيا لپاره نه کوي، بلکي يوازي د الله تعالی

لپاره بغض کوي او مینه محبت هم د الله لپاره کوي.

۸- سر تو نوکه د اللهﷻ او پیغمبر ﷺ سره مینه او محبت ګرځېدلی وي او د خدای پر بنده ګانو باندي مهربان، خیرخواه او نصیت کوونکي وي.

۹- هر څه چي کوي د الله د رضا لپاره یې کوي.

۱۰- په ښو کارونو کي هیڅ ډول ځان ښکاره کول او ریا نه کوي.

## د کومو خلکو توبه نه قبلیږي، آیا د مرتد او زندیق توبه قبلیږي؟

د هر چا توبه قبلیږي، خو بنستیز شرط یې دادی چي توبه کوونکی به د ایمان خاوند وي. نو هغه کسان چي له اسلامه پرته د کوم بل مذهب، لکه یهودیت، عیسویت،، الحاد، دهریت، کمونیزم، سیکولریزم او داسي نورو څخه د یوه پیرو وي که له خپل باطل مذهب څخه توبه ونه کاږي او اسلام رانه وړي او ومري، نو پر کفر مړ دی. البته که کوم مسلمان له اسلامه اوښتی او د کمونیستي یا سیکولریستي الحادي عقیدې یا کومي بلي باطلي عقیدې په خپلولو سره مرتد سوی وي، که تر مړیني دمخه توبه ځني وکاږي او بېرته اسلام راوړي او دا نېکمرغي یې لوی څښتن ور په برخه کړي، نو دغه توبه یې قبلیږي.

پر دې سربېره اسلام دا رعایت هم ورسره کړی دی چي د بېرته مسلمان سوي مرتد هغه ګنهونه چي د ارتداد په حال کي یې کړي دي او هغه عبادتونه چي د ارتداد په وخت کي یې پرې ایښي دي، د هغو قضا او جبیره نه باندي لازموي. د قرآن کریم آیت دی:

﴿قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِن يَنتَهُواْ يُغۡفَرۡ لَهُم مَّا قَدۡ سَلَفَ وَإِن يَعُودُواْ فَقَدۡ مَضَتۡ سُنَّتُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٣٨﴾ [الأنفال: ٣٨].

ژباړه: «ای پیغمبره! ته دې کافرانو ته ووایه چي که اوس هم راواوړئ، نو څه ګنهونه چي دمخه در څخه سوي دي ټول به در معاف سي، خو که دوی هماغه مخکنی چلند بیا تکرار کړي، نو له پخوانیو قومونو سره چي څه سوي دي، هغه ټولو ته ښکاره دي».

ان په تفسیرات احمدي کتاب کي وایي چي امام ابوحنیفه‌رحمه الله د مرتد په هکله د دغه آیت په استناد وایي: مرتد چي له سره اسلام راوړي د مرتد توب د مهال او تر هغه دمخه پاته سوو عباداتو قضا راوړل نه پر لازمیږي او لکه کفار چي د اسلام په راوړلو سره د ټولو ګنهونو څخه معافیږي، نو مرتد هم دغه حکم لري. که چیري دی هم په اسلام کي داخل سي د ارتداد له ګناه او نورو ټولو ګناوو، لکه لمونځونو، او روژو د قضا او د شرعي د احکامو د نه عملي کولو د ګناه په هکله بخښنه ورته کیږي. همدا راز ځیني علما وایي چي که مرتد توبه وکاږي او اسلام راوړي، هغه نیکۍ او حسنات چي د ارتداد پر مهال یې کړي دي هم یې ثواب ورکول کیږي، خو ځیني وایي چي د دغه مهال د نیکیو ثواب یې ساقط دی او نه ورکول کیږي.

دغه راز د زندیق په هکله امام فخر الدین رازي په خپل تفسیر کي لیکي د زندیق په هکله فقهاوو اختلاف کړی دی چي آیا توبه یې قبلیږي که نه؟ صحیح داده چي توبه یې قبوله ده، په دې دلایلو:

لومړی د الانفال د سورې (٣٨) آیت (کوم چي دمخه د ژباړي سره لیکل سوی دی) د کفر ټول ډولو نه په بر کي نیسي. که وویل

سي چې د زنديق له حاله خو څوک نه خبرېږي چې آيا هغه لـه خپلـه زنديق توبه اسلام ته را اوښتی دی که څنګـه؟ امـام فخـر رازي وايـي چې د شريعت احکام پر ظواهرو بنادي، او موږ په ظـاهر حکـم کـوو. نو چې زنديق ووايي چې زه اسلام ته بېرته راګرځېدلی يم، نـو لازمـه ده چې دا خبره يې ومنل سي.

دوهم دا چې زنديق چاره نه لري چې بيرتـه اسـلام تـه رجـوع ونـه کړي او توبه ونه کاږي. نو چـي بېرتـه اسـلام هـم راوړي او توبـه هـم وکاږي او ونه منل سي، نو په دې صورت کي خو تر وس لوړ تکليف ورته لازمېږي.

د رېيم دا قول د خدای تعالی دی چې وايي:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِى يَقْبَلُ ٱلتَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِۦ وَيَعْفُواْ عَنِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴿٢٥﴾﴾ [الشورى: ٢٥].

ژباړه: «او الله هغه مهربان ذات دی چې د خپلو بنده ګانو توبه قبلوي او د دوی تر پښېمانۍ وروسته د دوی بد کارونه وربخښي».

دغه راز رسول اللهﷺ فرمايي:

«الْإِسْلَامَ يَجُبُّ مَا كَانَ قَبْلَهُ» (مسند احمد، دغه حديث، حديث پوهانو صحيح بللی دی).

ژباړه: اسلام راوړل مخکني ګنهونه، لکه کفر او نور معاصي محـو کوي او له منځه يې وړي.

نوچي کافر مسلمان سي، د بـدني او مـالي عبـاداتو او د ده د هغـو ګنهونو چې پر نفس او مال باندې د جنايتونو له امله ورڅخـه صـادر سوي، قضا نه پر لازمېږي. د اسلام راوړلو په صورت کي ده تـه عفـو

ده او د اسلام راوړلو په ساعت کي داسي ګرځي لکه له مور څخه چي تازه زیږیدلی وي[1].

## آيا چي له يوې ګناه څخه توبه وکاږي او بله کوي دا صحيح ده؟

لوی څښتن خو پر ټولو مکلفو انسانانو باندي د توبې کښل له ټولو غټو او کوچنيو ګنهونو څخه واجب کړي دي. خو که يو مسلمان له يوې ګناه څخه توبه وکاږي او نوري ګناوي تر سره کوي، نو آيا دا توبه قبليږي؟

دا له هغو ډېرو مهمو مسائلو څخه ده چي د علمای کرامو پام يې ور اړولی دی. له دوی څخه ځيني دغه توبه صحيح بولي او ځيني يې صحيح نه بولي. ابن القيمؒ وايي دا ډېره مشکله مسئله ده چي بايد غور پر وسي او له دواړو قولونو څخه يو قول غوره سي. بيا هغه د علماوو د دواړو ډلو دلايل وړاندي کړي او بالاخره يې ويلي دي: زما په نزد که دوې يو ډول ګناوي وي او له يوې څخه توبه وکښل سي او پر بلي اصرار او مداومت او ټينګار کوي، نو دا توبه نه ده صحيح. اما که له يوې ګناه څخه توبه وکاږي او بله داسي ګناه کوي چي د دغي ګناه له ډوله نه وي او کوم تعلق نه ورسره لري، نو دا توبه صحيح ده. لکه څنګه چي يو څوک له سود خوړ لو توبه وکاږي اما شراب خوري، نو له ربا څخه يې توبه صحيح ده. خو که د سود په دوو ډولو کي له يوه ډول څخه توبه وکاږي او له بل ډول څخه يې ونه کاږي او اصرار پر کوي، يا د چرسو له څکولو څخه توبه وکاږي او

١- په د هکله دي د تفصيل لپاره د بحر الرائق٢١٤/٥ او د ردالمحتار٣٣١/٣مخ او تفسيرات احمدي او تفسير کبير وکتل سي

شراب خوري نو دا توبه نه ده صحيح. دا داسي ده لکه يو څوک چي د يوې ښځي سره له زنا څخه توبه وکاږي او د بلي سره يې کوي[1].

البته دغه څه چي ابن القيمؒ ويلي دي ډېر غـوره او ارجـح قـول باله سي.

## راځئ تر مړيني دمخه هر څه ژر توبه و کاږ و؟

د صالحو اولنو له خويونو څخه يو هم داوو چي کله به ناروغه سو، له دې څخه به بېرېدی چي ښايي د ده د اجل وروستی وخت وي او ده نه توبه وکښل او نه يې پر ده باندي د خدای او بنده ګانو حقوق ورکړل، او هغې دنيا ته دهغو نافرمانو انسانانو په ډله کي ولاړ، لکه هغه مريی چي د خپل بادار په حرم کي يې بد کار کړی وي او بيا يې نيولی وي او د بادار د غضب په حالت کي يې ور ته حاضر کړي.

يو ځل حسان بن منانؒ ناروغه سو. د هغه يو دوست د عيادت لپاره ورغی او د حال پوښتنه يې ځني وکړه، هغه ورته وويـل: «کـه د دوږخ له اوره وژغورل سم ډېره به ښـه وي». حسـان ځني وپوښـتل: «اوس ته څه غواړې؟». هغه ورته وويـل: «تـر مـرګ دمخـه يـوه ډېـره اوږده شپه غواړم چي لمونځ او استغفار پکښي وکولای سم».

نوکرانه لوستونکې!

د دغسي حسرت له ورځي څخه د ژغورني لپاره همدا اوس راځئ چي سمدستي بې ګټي او کبرې وړې لاري پرېږدو او همدا نن دسـتي

---

۱- دموسی بن ذاکرالحربي، التوبه کتاب، د مدارج السالکين په حواله، المکتبة الشاملهة.

د فلاح، ژغورني او بریالیتوب لار واخلو! ځکه چې لوی څښتن هم سمدستي د توبې کښلو امر کړی دی لکه چې فرمايي:

﴿وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٣١﴾ [النور: ٣١].

ژباړه: «او ای مومنانو! تاسي ټول د الله په وړاندي توبه وکاږئ، څو ژغورنه او برى درپه برخه سي».

نه ګورئ چې په دې شپو ورځو کې مرګ مازي زموږ تر سترګو نهام دی، کله چې را سي هیڅ مهلت نه راکوي، نابېره را ځي او لوی او کوچنی او زوړ او ځوان او موړ او مسکين نه ګوري. مالک بن دینار فرمایي: يو وخت زما د ګاونډي کور ته د عيادت لپاره ورغلم. کله چې مي وليد د نفس غرغړ يې وو او په ډېر سخت حالت کې وو. کله به پر سد سو، کله به بې سده سو. دمخه به دی تل د دنيا په ټولو اخته وو او د خدای عبادت به ځني پاته وو.

دغه مهال ما ورته وويل:خدای ته توبه وکاږه او تر دغه ګمرهي دي تېر سه. ګوندي خدای شفا درکړي او په خپل فضل او احسان تر ګنهونو در تېر سي. ويې ويل: افسوس چې هغه چې راتی، دادی راغلی دی او زه همدا اوس مرم، نو افسوس دی پر هغه عمر چې په باطلو کې مي تېر کړ.

لوی څښتن رشتيا ويلي دي:

﴿أَن تَقُولَ نَفۡسٞ يَٰحَسۡرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِي جَنۢبِ ٱللَّهِ وَإِن كُنتُ لَمِنَ ٱلسَّٰخِرِينَ ٥٦ أَوۡ تَقُولَ لَوۡ أَنَّ ٱللَّهَ هَدَىٰنِي لَكُنتُ مِنَ ٱلۡمُتَّقِينَ ٥٧ أَوۡ تَقُولَ حِينَ تَرَى ٱلۡعَذَابَ لَوۡ أَنَّ لِي كَرَّةٗ فَأَكُونَ مِنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٥٨﴾ [الزمر: ٥٦-٥٨].

ژباړه: «داسي نه چي وروسته څوک ووايي چي «افسوس زما پر هغه تقصير چي ما د الله په شان کي وکړ، بلکي برعکس زه خو په ملنډو وهونکو کي شامل وم». يا ووايي چي «کاشکي الله ماته لار ښوونه کړې وای، نو زه به هم له پر هېز ګارانو څخه وم». يا د عذاب په ليدلو سره ووايي چي «کاشکي ماته يو بل فرصت په لاس راسي او زه هم له ښه عمل کوونکو څخه سم»».

نو ډېر محترم ورور!

ښه داده چي همدا اوس دستي توبه وکاږو او خدای مکړه بې له توبې تر دنيا تېر نه سو. دا ښه نه ده چي بې له توبې له لوی څښتنه د مغفرت هيله ولرو. درسته ده چي خدای غفور او رحيم دی، خو که موږ له ناوړو چارو توبه نه کاږو، نو بيا قهار هم دی. ما او تاته همدا اوس د توبې کښلو وخت سته. بيا داسي نه سي چي دا وخت مو له لاسه ورکړی وي. کله چي نابېره مرګ راته راسي بيا خبره وجاړېږي. دغه مهال هر اميد او هيله قطع کيږي او يوازي به ارمان او درد او الم او حسرتونه راته پاته وي. د لوی څښتن دې وينا ته به يو ځل بيا پام واړوو:

﴿وَلَيْسَتِ ٱلتَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلْمَوْتُ قَالَ إِنِّي تُبْتُ ٱلْـَٰٔنَ وَلَا ٱلَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمْ كُفَّارٌۚ أُوْلَـٰٓئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ١٨﴾ [النساء:١٨].

ژباړه: «او دهغو خلکو لپاره توبه نسته چي پر له پسې بدکارونه کوي تر دې پوري چي کله له هغو څخه ديوه دمرګ نېټه راورسېږي، نو به ووايي چي ما اوس توبه وکښل. او همدغه راز دهغو کسانو لپاره هم توبه نسته

چي دمرګ تر وخته پوري پر کفر باندي پاته سي. ددغه ډول خلکو لپاره خو موږ دردناکه سزاچمتو کړې ده».

نو ګرانه وروره راځه چي تر مړيني دمخه همدا اوس توبه وکاږ واو په دې ډول د لوی څښتن جل جلاله خوښـي او د دې او هغې دنيا سعادت او نېکمرغي په لاس راوړو.

## د توبې لمونځ او د هغې مستحبه طريقه

عَنْ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَا مِنْ عَبْدٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا فَيُحْسِنُ الطُّهُورَ ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ يَسْتَغْفِرُ اللَّهَ إِلَّا غَفَرَ اللَّهُ لَهُ»[١].

ژباړه: حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه وايي چي ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل چي ويل يې: له کومه بنده څخه چي کومه ګناه تر سره سي، بيا اودس په ښه توګه تازه کړي، بيا پاڅي او دوه رکعته لمونځ وکړي، بيا له الله تعالی څخه د ترسره سوي ګناه بخښنه او معافي وغواړي، نو الله تعالی هغه بخښي.

په رد المحتار کي وايي چي د توبې لمونځ له مندوباتو څخه دی.

په کتابونو کي يې د توبې مستحبه طريقه په دې ډول ښوولې ده:

لومړی غسل وکړئ يا اودس تازه کړئ. پاک کالي واغوندئ، بيا دوه رکعته لمونځ د زړه په حضور، د توبې په نيت وکړئ. په سجده کي په ډېره خشوع او خضوع او په عجز او خاکساري لوی څښتن جل جلاله

---

١- ابوداود، کتاب الصلاة، باب في الاستغفار(١٥٢١) حديث. د يادولو وړ ده چي دغه حديث، حديث پوهانو صحيح بللی دی.

ته وژاړئ. خپل نفس ملامت کړئ، په دې کي حتی المقدور کمی مه کوئ. له خپلو ګنهونو او تېروتنو څخه توبه وکاږئ. د شرمنده ګۍ او پښېمانۍ سره یو ځای لاسونه پورته کړئ او په پلاوو پلاوو دا دعا ووایاست:

اللَّهُمَّ إِنِّي أَتُوبُ إِلَيْكَ منها، لا ارجع اليها ابداً. اللهم مغفرتك اوسع من ذنوبي ورحمتك ارجىٰ عندي من عملي.

ژباړه: ای لویه څښتنه! زه ستا په حضور کي له خپلو ټولو ګنهونو څخه توبه کاږم او په ټینګه اقرار کوم چي بیا هیڅکله ګناه نه کوم. او ای باري خدایه! زه باور لرم چي ستا بخښنه زما تر ګناه ډېره پراخه ده او زما د عمل په نسبت زه ستا رحمت ته ډېر امیدوار یم.

البته دا دعوامو توبه ده چي د ژوند او ګناه تر منځ یې کومه غټه بېلوونکي پوله نه وي. او په ګنهونو او معصیت اخته وي. د دوی دغه توبه دوی د دې زېري مستحق کوي چي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلْمُتَطَهِّرِينَ ۝٢٢٢﴾ [البقرة: ٢٢٢].

ژباړه: «بې شکه چي الله خپل هغه بنده ګان خوښوي چي بیا بیا رجوع ورته کوي (یعني له ګنهونو څخه توبه کاږي او د بخښني غوښتنه ځني کوي)، او هغه کسان خوښوي چي پاک خواپاکي اوسي (له فواحشو او ککړتیاوو څخه لیري ګرځي)».

خو پاته سوه خواص کوم چي د لوی څښتن اطاعت کوونکي بنده ګان دي او ژوند یې له ګناه او معصیت څخه لیري وي، د هغو توبه داده چي دوی له هغو ناوړو اخلاقو چي د زړه پاکېده ځني واجب باله سي، توبه وکاږي. همدا راز «د خدای د عاشقانو» توبه داده چي که د بشریت په تقاضا کوم وخت د الله په ذکر کي غفلت ځني

سوی وی او په ماسوی الله اخته سوی وي، نو دي سمدستي د الله لور ته رجوع وکړي او له خپل دې کمي څخه دي توبه وکاږي.

## د توبه کوونکو څو کیسې

**د آدم عليه السلام د توبې کیسه:**

الله تعالی زموږ لومړني پلار ابوالبشر آدم عليه السلام او حوا انا ته وفرمایل چي تاسي په جنت کي واوسئ او د هغه له مېوو څخه له یوې وني پرته د نورو ټولو مېوې خورئ. خو د هغو د بشري ضعفونو له مخي، دښمن (جني شیطان) هغوی تېر ایستل او ورته ویې ویل تاسي لوی څښتن د دې وني د مېوو له خوړلو نه یاست منع کړي. که زما خبره ومنئ او د دې وني مېوه وخورئ تاسي به ملایکي سئ او یا به تل د جنت له نعمتونو څخه برخمن سئ. نو هغه وو چي د هغه په وسوسه او اغوا یې له هغي وني څخه چي د لوی څښتن لخوا منع سوي وه مېوه وخوړل. له دې امله لوی څښتن هغوی د جنت له نعمتونو څخه د مځکي ستونزو او مصیبتونو ته ولېږل. په دې ډول لوی څښتن هغو او د هغو راتلونکي توکم ته وښول چي د انسان بدمرغي د لوی څښتن په نافرماني کي ده او سعادت او نېکمرغي یې د خدای په اطاعت او حکم منلوکي نغښتې ده.

دغه راز لوی څښتن د حضرت آدم اولادې ته په دې ډول څرګنده کړه چي ستاسي دښمنان (جني او انسي شیطانان) تاسي د لوی څښتن له طاعت او فرمان وړلو څخه را ګرځوي او د هغه له دنیوي او اخروي نعمتونو څخه مو بې برخي کوي او هغو ته یې وښوول او ورته ممکنه یې کړه چي تاسي باید د شیاطینو مکرونو او غولونو ته

متوجه اوسئ، د قيامت تر ورځې د شياطينو سره وجنګېږئ او د هغو د تېر ايستنو او غولونو په وړاندې مقاومت وکړئ. څو هغوی ونه کړای سي چې د آدم صالح اولادونه خپل غوندې بې لارې او دوږخيان کړي.

کله چې د دې ګناه له امله حضرت آدم او بي بي حوا مځکې ته راکوز سول نو پر خپلو کړو پښېمانه سول، توبه يې وکښل او د لوی څښتن په حضور کې يې د مغفرت او بخښنې غوښتنه وکړه. دغه مهال لوی څښتن د هغو لاسنيوی او لارښوونه وکړه او د معافۍ غوښتلو دغه دعا يې ور وښوول:

﴿رَبَّنَا ظَلَمْنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٢٣﴾﴾ [الأعراف: ٢٣].

ژباړه: «ای زموږ ربه! موږ پر خپلو ځانونو ظلم وکړ، اوس که ته موږ ونه بخښې او پر موږ رحم ونه کړې نو موږ به خامخا پوپنا سو».

نو هغه وو چې لوی څښتن ﷻ د دوی توبه قبوله کړه. اوس هم چې کوم څوك پر خپله تېروتنه پښېمانه سي او دغه دعا ډېره ډېره ووايي نو د هغه تېروتنې به معاف سي. کتابونه وايي چې تر هر لمانځه وروسته د دغې دعا يو يا درې واره ويل د توبې د قبلېدو لپاره ډېره ګټه لري.

لوی څښتن ﷻ دې وکړي چې د اتلو افغانانو د دې زښتو زياتو سرښندنو او هلو ځلو په بدله کې زموږ له ګران اسلامي ټاټوبي څخه د پردو کفارو د تېري او يرغل ټغر ورټول سي او د لوی څښتن ﷻ د کلام او د هغه د ستر پيغمبر ﷺ د سنتو سره سم يو متمدن اسلامي نظام پکښې ټينګ سي او پر موږ ټولو باندې په خپل رحمت او

لوربینه سره په خپل ګران اسلامي هیواد کې هوسا او سرلوړی ژوند راپه برخه کړي. د دغسې ورځې په هیله.

**د سلو تنو د وژونکي د توبې کیسه:**

حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه بیانوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې په لومړنیو ولسونو کې یوه سړي نهه نوي مړي کړي وه. وروسته هغه غوښتل چې معلومه کړي چې دغه مهال د ځمکې پر مخ تر ټولو لوی عالم څوک دي؟ چا د یوه راهب پته ورکړه، نو هغه وو چې راهب ته ورغی او ورته ویې ویل:ما نهه نوي تنه وژلي دي، آیا زما توبه قبلیږي؟ راهب ورته وویل چې نه ستا توبه څنګه قبوله سي! نو هغه دغه راهب هم وواژه او د سلو مړو شمېر یې پوره کړ. بیا یې پوښتنه وکړه چې د ځمکې پر مخ تر ټولو لوی عالم چیري دی؟ چا د یوه عالم پته ورکړه. هغه عالم ته ورغی او ورته ویې ویل: ما سل تنه وژلي دي، آیا زما توبه قبلیږي؟ هغه ورته وویل: هو، ولي نه قبلیږي؟ د توبې د قبلېدو هیڅ شي نه مانع کیږي. ته پلاني ځای ته ولاړ سه، هلته ځیني خلک د لوی څښتن په عبادت اخته دي، ته هم ورسه هلته د لوی څښتن په عبادت ورسره اخته سه او خپل وطن ته بېرته مه ستنېږه، ځکه چې دا ښه ځای نه دی. نو هغه وو چې دغه د سلو تنو قاتل د دغه ځای په نیت رهي سو. کله چې نیمی لاري ته ورسېد اجل یې ورسېد او مړ سو. اوس د ده په اړه د رحمت او عذاب د ملایکو تر منځ لانجه رامنځ ته سوه. د رحمت ملایکو ویل چې: دې توبه کښلې ده او لوی څښتن ته د جوع پر لار روان وو. د عذاب ملایکو وویل: ده هیڅکله هم ښه کار نه وو کړی. نو یوه ملایکه د انسان په بڼه ورغله او دواړو ملایکو هغه د دریېم پرېکړه کوونکي په

توګـه ومنـل. هغـه ورتـه وويـل لـه دغـه ځايـه تـر دواړو وطنـو پـوري دمځکي کچه واخلئ، د هري خوا واټن چي کـم وو، دی د هغـې خـوا بلل کيږي. کله چي ملايلـو د دواړو لـورو مځکـه انـدازه کـړه، د هغـي خوا اندازه لږ وه چي دغه سړی ور روان وو. نـو د رحمـت ملايکـو د هغه روح د ځان سره يووړ[1].

څنګه چي ده په اخلاص توبه کښلې وه، نو الله هغه د ښو خلکو د وطن خواته مړ کړ.

له دې څخه معلومه سـوه چـي هغـه چاپېريـال چـي انسـان پکښـي اوسـيږي د انسـان پـر کـړو وړو سـتر اغېـز لـري. ښـه مـاحول او ښـه ملګري او همنشينان انسان د ښـو خواتـه بـولي، ځکـه نـو ښـايي چـي چاپېريال اصلاح سي او يا انسان په ښه چاپېريال او د نېکو خلکـو پـه ملګرتيا او ګاونډ کي واوسي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الرَّجُلُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ»[2].

ژباړه: حضرت ابو هريرهؓ وايي چي رسول اللهﷺ وفرمايـل: هـر سړی د خپل دوست پر طريقه وي، نو وګورئ چي له تاسي څخـه يـو څوک د چاسره اړيکي او دوستي لري.

---

١- صحيح البخاري، كتاب الانبياء، ٥٦ باب، (٣٤٧٠) حديث اومسلم، كتاب التوبة، (٢٧٦٦) حديث.

٢- ترمذي، باب ماجاء في اخذ المال، (٢٣٠٠) حديث، شيخ الباني دغه حديث حسن بللی دی. المكتبة الشاملة.

**د ستر مفکر سید قطب رحمه الله د توبې کیسه:**

شاوخوا یوه پېړۍ دمخه شهید سید قطب رحمه الله په یوه متدینه کلیواله کورنۍ کې د مصر د اسیوط په یوه کوچني کلي کې وزیږېد. د کوچنیوالي ورځې یې په همدغه کلي کې تېرې سوې. مور او پلار یې مینه درلوده چې سید قطب قرآن کریم حفظ کړي، نو هغه وو چې تر لس کلنۍ د مخه یې قرآن کریم حفظ کړ. خو نولس کلنۍ ته په رسېدو سره لکه چې ده پخپله ویلي دي تر یوو لسو کالو پوري ملحد وو. بیا یې تر یوو لسو کالو وروسته له الحاد څخه توبه وکښل او بېرته مسلمان سو. په دې هکله دی په خپله وایي: «زه یوولس کاله ملحد پاته سوم او بیا بېرته د خدای لاري ته را واوښتم او د ایمان ډاډ مي تر لاسه کړ»[1].

په ۱۹٤۸ م. کال سید د هغه مهال د پوهني وزارت په یوه پلاوي کي له قاهرې څخه امریکې ته ولاړ. او په همدغه سفر کي لوی څښتن د نوي لاري لار ښوونه ورته وکړه.

د ده سفر د سمندر له لاري وو. په بېړۍ کي داسي حوادث پر راغله چي د ده پر وروستي ژوند یې اغېز وښند او د ده لار یې ور په ګوته کړه. دی چي کله د امریکې بندر ته ورسېد او له بېړۍ څخه ووت له بندر څخه لانه وو وتلی چي خپله سمه لار یې وپېژندل او په نوې دنیا کي یې د خپل رسالت نخښې وکښلې.

اوس خبري خپله سید ته پرېږدو چي دی مو ږ ته ووایي چي په بېړۍ کي څه پر راغله: «شاوخوا پنځلس کاله پخوا مصري بېړۍ د

---

۱ - وګورئ د ډاکټرمحمد عبدالعزیز المسند العائدون الی الله، المکتبة الشاملة.

اتلس سمندر له لاري نيويارک ته تله. په دې بېړۍ کي (١٢٠) تنه نر او ښځي سپاره وه چي موږ شپږ تنه يې اسلام ته منسوب وو. موږ ته دا فکر پيدا سو چي په دغه بېړۍ کي د جمعې لمونځ وکړو. خدای پوهيږي چي موږ دغه لمونځ نه کاوه. خو کله چي موږ وليدل چي يو عېسوی مبلغ خپل تبليغ او ديني دود په بېړۍ کي تر سره کوي او کوښښ يې وکړ چي موږ ته هم تبليغ وکړي، نو زموږ ديني احساسات هم پر ښور راغله او ومو پتېيل چي د جمعې لمونځ په بېړۍ کي ادا کړو. د بېړۍ مشر چي يو انګرېزی وو، موږ ته د لمونځ کولو زمينه برابره کړه او اجازه يې راکړه چي لمونځ وکړو. د بېړۍ کارکوونکو، آشپزانو او خدمه وو ته يې چي ټول د نوبه وه او مسلمانان وه هم اجازه ورکړه چي هغه کسان چي په بېړۍ کي يې د دندي نوبت نه وو هم زموږ سره د جمعې لمونځ وکړي. هغوی ډېر خوشاله سول چي د لومړي ځل لپاره په بېړۍ کي د جمعې لمونځ کيږي».

«ما د جمعې خطبه وويل او لمونځ مي په جاعت ورکړ. دغه مهال د بېړۍ زياتره نامسلمان مسافر پر موږ را وګرځېدل او موږ ته يې کتل. تر لمانځه وروسته ډېر کسان موږ ته راغله او موږ ته يې د «قداسو» (پاکانو)[1]. د ژغورني له امله مبارکي وويل!!! دوی زموږ له لمانځه څخه صرف دغونه پوهېدلي وه.

---

١- قداس د عېسويانو په نزد حصرت عيسی ته د ډوډۍاو شرابو نذر ونياز وړاندي کولو ته وايي.

خو له دغي ډلي څخه یوه مېرمن چي وروسته موږ پوه سولو چي هغه د یوګوسلاویایوه مسیحی ده او د «مارشال تیتو» له دوږخ او د هغه له کمونیزم څخه را تښتېدلي وه. زموږ له لمانځه څخه سخته متاثره سوې وه. له سترګوڅخه یې اوښکي بهېدلې او نه یې سوای کولای چي خپل احساسات او عواطف تر واک لاندي راولي... موږ ته راغله او زموږ سره یې ډېره توده او له میني ډکه ستړې مسي وکړه او په ماته ګوډه انګرېزي یې راته وویل: «زه نه سم کولای د هغه ژور تاثیر او خشوع او خضوع او نظم او نظام او روح په وړاندي چي ستاسي لمونځ یې لري خپل ځان په واک کي ولرم»[1].

تر دې ټولو خبرو وروسته او د دې ایماني حالت په سیوري کي سید په یو ډول خوښی سره خپل ځان مخاطب کړ او ویې ویل: «آیا زه چي امریکا ته ځم، نو باید هلته د یوه عادي پلاوي د غړي غوندي وګرځم کوم چي په خورک او خوب بسنه کوي او که موږ باید په ځانګړو او ټاکلو نخښو وپېژندل سو؟

او آیا باید په اسلام او د هغه په آدابو تمسک وکړو او د هغه په طریقه ملتزم او سو او که د هوسایني او د شهوت او حرام لذت په تسکین پسي وګرځو؟».

سید وایي چي ما وپتیله چي باید ملتزم او متعهد مسلمان واوسم. او لوی ښښتن اراده کړې وه چي ما وازمایي چي آیا زه په دې خپل هوډ کي رشتینی یم او که دا مازي یوه په زړه کي را ګرځېدلې خبره ده؟

---

١ - الظلال ٣، ١٧٨٦ مخ.

البته د لوی څښتن ابتلا او ازموینه دا وه چي زه څو شیبې وروسته د اسلام لار غوره کړم. کله چي زه خپلي کوټې ته ننوتلم، سمدستي دروازه را وټکېده... کله چي مي دروازه خلاصه کړه که ګورم چي یوه ښایسته نجلۍ و لاړه ده چي د بدن مفاتن یې ټوله ښکاري... هغې په انګرېزي راته وویل: آیا کېدای سي ښاغلې چي زه نن شپه ستا مېلمنه سم؟

خو ما معذرت ځني وغوښت او ورته ومي ویل چي په دې کوټه کي یو چپرکټ دی او هغه هم د یوه تن لپاره دی. خو هغې راته وویل کېدای سي چي پر یوه چپرکټ دوه تنه بیده سي!!

دې له بې شرمۍ څخه کار واخیست او کوښښ یې وکړ چي په زور کوټې ته را ننوزي، خو ما دروازه پسي بنده کړه او دا په دهلېز کي پر مځکه ولوېده او زه پوه سوم چي دا د نشې په حال کي وه... ما خدای ته شکر وایست چي له دې مصیبته یې وژغورلم... او ما هم له دغه مهاله پر هغه لار تله پیل کړه چي په نخښه کړي مي وه.

سیدؒ تر دې وروسته د ډېرو ازموینو سره مخامخ سو، خو له ټولو څخه بریالی راووت او پر خپل نفس اماره بالسوء یې بری ومونډ.

کله چي امریکا ته ورسېد، د خپلو لیدلو کتلو په هکله یې موږ ته وویل: ما د امریکا په متحدو ایالتونو کي د سر په سترګو د اللهﷻ د دې وینا مصداق ولید:

﴿فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦ فَتَحۡنَا عَلَيۡهِمۡ أَبۡوَٰبَ كُلِّ شَيۡءٍ حَتَّىٰٓ إِذَا فَرِحُواْ بِمَآ أُوتُوٓاْ أَخَذۡنَٰهُم بَغۡتَةٗ فَإِذَا هُم مُّبۡلِسُونَ ٤٤﴾ [الأنعام: ٤٤].

ژباړه: «بیاکله چي هغو هغه نصیحت هېر کړ چي ورته سوی وو، نو موږ د هر ډول سوکالۍ دروازې د هغو لپاره پرانیستې، تر دې پوري چي کله هغوی په هغو نعمتونو کي چي وربخښل سوي وه ښه ډوب سول، نو موږ په ناڅاپي ډول هغوی ونیول او په دې وخت کي د هغو دا حالت وو چي له هري ښېګڼي څخه نهیلي وه».

په امریکا کي تر دوو کالو تېرولو وروسته سید بېرته مصر ته ستون سو. خو داسي را ستون سو چي هماغه پخوانی سړی نه وو، بلکي یو متعهد مسلمان وو چي د اسلامي رسالت دعوتګر او اسلامي موخي څښتن وو. لوی څښتن دي پر سید او موږ ټولو ورحمیږي او جنتونه دې په نصیب سي، آمین.

**د نامتو دعوتګر عالم شیخ أحمد القطان د توبې کیسه:**

شیخ احمد القطان چي له مشهورو دعوتګرانو او نامتو خطیبانو څخه دی د خپلي توبې کیسه خلکو ته په یوه خطابه کي داسي کوي:

په ژوند کي هم پر انسان باندي ډول ډول حالات او تجربې او د پند او عبرت خبري راځي. پر ما باندي د ځوانۍ او کم تجربه ګۍ یوه عجیبه احساساتي مرحله تېره سوې ده. ما سره د دې چي اسلام ته عقیده نه درلوده، اتلس کاله مي په اسلامي مدرسو کي زده کړي وکړې او پای هم په داسي حال کي فارغ سوم چي په هیڅ دین متدین نه وم. دغه مهال چي ما هري خواته کتل لار راڅخه ورکه وه او له ځانه به مي پوښتل چي لار کومه ده؟ او آیا زه په ژوند کي همدغسي عبث پیدا سوی یم؟ ما په خپل زړه کي یو ډول ناکراري، اضطراب او نالیدلی غم او ویراحساساوه. هر لور ته مي د نهیلۍ توري لوخړي تر

سترګو کېدې او هر څه چرت چې به مې وواهه بيا بـه هـم ژونـد بـې مفهومه او توره تياره راته ښکارېدی.

زه په ١٩٦٩م. کال له دار المعلمين څخه فارغ سوم. په دغـه کـال او تر دغه کال دمخه زما په ژوند کې عجيبې پېښې رامنځ ته سوې. د دغو تيارو او ويرونو په تورتم کې کمونيست ګوند راته متوجـه سـو او زه يې په غېږ کـې ونيـولم. د دغـه ګونـد کـارکوونکو زمـا قصـيدې او شعرونه پـه خپلـو مجلـو او جرايـدو کـې خپـرول او زمـا د هڅـوني او تشويق په موخه يې زما پر ليکنو باندې ډول ډول کره کتنې او ليکنـې کولې. دا ليکنې دونې عجيبې وې چې له امله يې ان ما ته خپـل ځـان مهدي منتظر؟ غوندې ښکاره سو. زما دا سې ليکنه نه وه چې دوی به نـه اسـتقبالول. چـې دا د دوی لـه چلونـو او د جلـب او جـذب لـه تاکتيکونو څخه يو چل او تاکتيک وو. دوی غوښتل چې په دې ډول ما ښکار کړي او په خپل دام کې مې واچوي. دوی پر ما څېړنه وکـړه او ويې پتېيل چې زما له هويت او هيلو او هوسونو څخه ګټه واخلـي او له دغې لارې ما ورجلب کړي.

دوی وپوهېدل چې زه د شعر او ادب سـره مينـه لـرم، نـو هغـه وو چې زما د قصيدو ديوان يې چاپ کړ او زما لپاره يـې مياشـتنۍ ادبـي غونډې او ناستې جوړولې. او په دې ډول يې ماته په غـوړو کـې زهـر راکول.

زه يې خپلو ځانګړو کتـابتونونو تـه بېـولم او راتـه ويـل بـه يـې هـر کتاب چې ستا په کار دی وايې خپله او بيه نه لري. ما وليدل چې پـه دې کتابتونونو کې ډول ډول کتابونه، چې ښکلې قطع او صحافت يې

در لود موجود وه. له دغو کتابونو څخه د ځینو سر لیکونه وه: (د مارکسیزم د فلسفې اصول) او (د کمونیزم مبادی) او داسې نور.

پر دې سر بېره یې دا کار هم وکړ چې زه یې ځینو هوټلونو او سماوارونو ته بېولم. په دغو ځایونو کې به دوی زه پر زړو چوکیو کښېنولم او په زړو ګیلاسونو کې به مو چای چیښلې. په دې هوټلونو کې به اکثره مزدوران او کارګران ناست وه. کله چې به پر سړک کوم څوک په امریکایي موټر کې تېر سو، دوی به راته ویل وګورئ دغه سړی ستا د پلار او نیکه د وینو په بیه په دې موټر کې ناست دی... خیر دی داسې ورځ به راسي چې دغه موټر به په هیواد کې د راتلونکي ستر انقلاب په برکت ځنې واخلې. دغه انقلاب ته اوس موږ د (عمان) د «ظفار» په ولایت کې او په کویټ کې مبارزه کوو او ته به ډېر ژر د دغه انقلاب یو مشر سې.

کله چې به ما دغه خبري او رېدې، د زړه درد او غم به مي نور هم زیات سو. دا ځکه چې که ته خپل زړه په هغه ذات چې نوم یې رحمان دی مشغول نه کړې، خامخا یې شیطان اشغالوي. زړه د یوې ژرندي مثال لري، که ښه او پاک غنم ور واچوې ښه اوړه به درته راوباسي، خو که رېګ ورواچوې رېګ به در ته راوباسي.

د لوی څښتن مقدرات دي چې تر درو میاشتو وروسته یوه شپه زما ملاقات د ملګرو د مشر سره وسو. خو بیا هغه مصر ته ولاړ، یوه میاشت ورک وو او بیا بېرته راغی.

په دغه شپه ما ولیدل چې مشر او ملګرو یې د سهار پر اذان خندل او ملنډې یې پر وهلې. د دغې شپې غونډه له ماخوستنه تر سهاره روانه وه. دوی په دې غونډه کې یو ډول بې مفهومه خبري کولې. د

مثال په ډول «د تاریخ مادي تفسیر» او «سوسیالیزم او کمونیزم په ښځه او شتمنۍ کې». او داسې ډېرې خبرې یې کولې چې زما فطرت هیڅ نه سوای منلای. دا داسې خبرې وې چې باید ما د هغو پر سر شخړه ورسره کړې وای، خو زما حیا به له مناقشې څخه منع کولم ځکه چې دوی مفکرین، ادیبان، شاعران او لیکوالان بلل کېدل، نو ما څنګه د دوی سره بحث کړی وای؟ نو به پټه خوله سوم. بیا چې د سهار خوا سوه او اذان ناري سو، دغم کسانو د (الله اکبر) په اورېدو سره نعوذ بالله، پر لوی څښتن باندې ناوړې خبرې کولې. بیا مؤذن وویل: (أشهد أن محمّدا رسول الله) نو پر حضرت محمد ﷺ یې ناوړې خبرې وکړې.

له دغه ځایه زما په زړه کې یو ډول ایماني او فطري ولوله پر جوش راغله. رشتیا ده چې کله لوی څښتن د خپلو بندهګانو په هکله د خیر او ښېګڼې اراده وکړي، وروسته تر دې چې تیارې او ناخوالې پر راولي د خیر او ښېګڼې اسباب ور ته برابر کړي.

د خبرو په بهیر کې د ملګرو مشر وویل: «ما په مصر کې رشتیانی سوسیالیم د خلقي شاعر الابنودي سره په ملاقات کې ولید. او هغه یوازنی شخص دی چې سوسیالیزم یې په بشپړه توګه پلی کړی وو».

زما په زړه کې راوګرځېده چې عجبه ده... د دې علامه او نخښه به څه وي؟!!.

هغه وویل: «کله چې د هغه له کوره سهار وختې راوتلود دروازې سره د هغه مېرمنې هغه هم پر مخ مچ کړ او زه یې هم پر مخ مچ کړم. او کله چې موږ د هغه په کور کې بیده سولو مېرمن یې زما او د

هغه په منځ کي بیده سوه...». دا کټ مټ د هغه خبري وې چي ما ولیدلې. لوی څښتن به د قیامت په ورځ حساب ورسره وکړي.

کله چي د ملګرو مشر دغه خبري وکړې پر سترګو مي توره تیاره سوه او یو ډول نفس تنګي راته پیدا سوه. دغه مهال مي په زړه کي وویل: آیا دا هم یوه مفکوره ده؟!! آیا دې ته هم آزادي وایي؟!! آیا دا هم انقلابي لار ده؟!!

نه! نه! هیڅکله نه!! زما دي د کعبې شریفي په رب قسم وي چي دا شیطاني او ابلیسي خبري دي!!

دغه مهال د غونډې یوه برخوال ورته وویل: استاذه ته چي دا د سوسیالیزم ښه پلي کېده بولې، نو ولي خپلي مېرمني ته اجازه نه ورکوي چي زموږ مجلس ته راسي او زموږ سره یې شریکه کړې؟ هغه وویل: «پر ما باندي لا تر اوسه د بورژوازۍ او د مرتجع توب اغېزي پرتې دي. او ډېر ژر به داسي ورځ راسي چي موږ ټول د بورژوازۍ (پانګوالۍ) له اثراتو وژغورل سو...».

له دغي ورځي څخه زما په ژوندکي ستر تحول راغی. بیا زه له دغو ملګرو پرته د نورو ملګرو په لټه کي سوم. نو لوی څښتن مقدره کړې وه چي په «دیوانیه» کي زما د مسلمانو ورونو سره وګورم. دغو خلکو لمونځونه کول او کله کله د مازدیګر تر لمانځه وروسته د سمندر غاړي ته تله سیل او مېله به یې وکړه او بېرته به را ستانه سول. د خدای کړه دي له دغو کسانو څخه یو تن ماته راغی او راته ویې ویل:ای احمده وروره وایي چي له مصر څخه یو دیني عالم د شیخ حسن ایوب په نامه کویټ ته راغلی دی او د جرأت او ښوویناوو خورا ډېر صفتونه یې کیږي، نو آیا ته زموږ سره د هغه د وینا

د اوریدو لپاره نه ځې؟ ما ورته وویل ولې نه ځم، درځۍ چې ځو. بیا هغه وو چې ورسره ولاړم، اودس مې تازه کړ، مسجد ته ننو تلم، د مازدیګر لمونځ مې په جمع وکړ، بیا دغه مسلمان عالم د خپلې وینا اورولو ته پاڅېد او خبرې یې په ولاړه پیل کړې او نه یې غوښتل چې خبرې پر چوکۍ باندې په ناسته وکړي. هغه بوډا وو. د سر اوږېرې وریښتان یې سپین سوي وه. خو ایماني ځواک یې له ورایه له خبرو څخه ښکارېدی او ډېرې ښې او په زړه پورې خبرې یې وکړې. کله چې د هغه خبرې پای ته ورسېدې ما احساس کړه چې د لومړي ځل لپاره له یوې نړۍ څخه بلې نړۍ ته او له تیارو څخه نور او رڼا ته راوتلی یم، ما خپله سمه لار او په ژوند کې خپل هدف وپېژندل او پوه سوم چې زه د څه لپاره پیدا سوی یم او زما له پیدا کېدو څخه د الله تعالی اراده څه ده. او زما تګلار او وروستی برخلیک څه دی. بیا زه بې اختیاره دغه شیخ ته ورغلم سلام مې ورواچاوه او د غېږې روغبړ مې ور سره وکړ.

بیا زما ملګري له ما څخه پوښتنه وکړه چې دغه مجلس او د دغه دیني عالم وینا څنګه وه او څه اغېزه یې در باندې وښندل؟ ما ورته وویل ته اوس ودرېږه، پر ما باندې به دغه اغېز څو ورځې وروسته ووینې.

په همدغه شپه مې د دغه شیخ ټول کېسټونه واخیستل او تر سهاره مې واورېدل. مور مې د سهار ناری راته راوړ، خو ومې نه خوړ او همدغسې مې د دغه شیخ خبرې اورېدې او ورسره ژړل مې او داسې مې احساسول چې زه له سره زېږېدلی یم او یوې بلې نړۍ ته ور ننوتلی یم. د حضرت رسول اللهﷺ سره مې زښته زیاته مینه پیدا سوه

او هغه مبارک مي مثل اعلی او لاربنود سو. او په دې مي پيل وکړ چي د هغه د سيرت د لوستلو او اورېدلو له لاري پوه او خبر سم. ان چي د هغه ژوند ليک مي په ډېره لږه موده کي له زېړېدو تر وفاته په ياد کړ او په دې توګه مي د لومړي ځل لپاره احساس کړه چي اوس زه په ژوند کي انسان سوم. بيا مي د قرآن کريم تلاوت او حفظ ته ملا وتړل او داسي مي ګڼل چي د قرآن کريم هر آيت ماته مخاطب دي او زما په هکله خبري کوي.

قال الله تعالی:

﴿أَوَ مَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَٰهُ وَجَعَلْنَا لَهُۥ نُورًا يَمْشِى بِهِۦ فِى ٱلنَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُۥ فِى ٱلظُّلُمَٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا﴾ [الأنعام: ۱۲۲].

ژباړه: «آيا هغه څوک چي د مخه (د کفر او ګمرهۍ په سبب لکه) مړ (داسي) وو، بيا موږ (هغه ته د ايمان په ورکولو سره د قرآن کريم په رڼاکي) ژوند ور وباخښه او د هغه په لار کي مو (د ايمان له منارې څخه) يوه رڼا برابره کړه، چي دهغې په وړانګو کي هغه دخلکو په منځ کي د ژوند لاره وهي، د هغه مثال د هغه چا غوندي کېدلای سي چي په تروږمیو کي راګير سوی وي او په هيڅ شان ځني وتونکی نه وي؟».

هو، رشتيا ده چي زه مړ وم او لوی څښتن په خپل فضل او مرحمت ژوندی کړم... چي دا د لوی څښتن لوی احسان وو....

يو وخت زما هغو پخوانيو ورک لارو او غولوونکو ملګرو ته ورغلم او ومي غوښتل چي يو، يو د لوی څښتن لاري ته را وبولم، خو...

﴿إِنَّكَ لَا تَهْدِى مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَهْدِى مَن يَشَآءُ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ ۝٥٦﴾ [القصص: ٥٦].

ژباړه: «ته هرومرو داسي نه سې کولای چي څوک دي خوښ وي لارښوونه ورته وکړې، بلکي د الله چي چاته خوښه سي لار ښوونه ورته کوي او هغه په لارموندونکو ښه پوه دی».

اما يوه يې د خدای په اذن او فضل زما غونـدي توبه وکښـل، بيـا عمرې ته ولاړ، او بيا په يوه ترافيک پيښه کي مړ سو چي اجـر بـه يـې پر لوی څښتن وي.

اما کله چي د ملګرو د مشر سره مخامخ سوم، په يـو ډول بـې خونده خندا يې راته وخندل. ما ورته وويل: آيا ته د خدای لـه شـتون څخه منکر يې؟!! او کولای سې چي ماته قناعـت را کـړې چي نعـوذ بالله خدای نسته؟!! نو هغه بيا يوه ترخه خندا وکړه او ويې ويـل: ای احمـد اسـتاده. زمـا پـه تـا حسـد وسـو، ځکـه تـا اوس رشـتينې لار وموندل، امـا مـا همدغسـي پرېـږده... ځکـه زمـا خپلـه لار ده او سـتا خپله. بيا يې خدای په اماني را سره وکړه. له بده مرغه هغه تـر اوسـه لاهم پر هماغه خپلـه باطلـه لار روان دی. امـا د ده نـور ملګـري يـا د ډرامو ممثلان سول، يا شاعران سول او سازنده وو ته د نشې په حال کي سندري جوړوي او د سندرو ويـډيويې سـيډی يـې پـه بـازار کـي خرڅيږي. او نور يې پر نورو لارو روان سول.

پاکي دي وي هغه ذات ته چي له مړه څخه ژونـدی جـوړوي... او له دغه وخته څخه زه په دعوت الی الله اخته يم.

### د نامتو مفکر علامه محمد اسد له يهويت څخه د توبې کيسه:

علامه محمد اسدؒ په تېره پېړۍ کي يو ستر نوی مسلمان سوی عالم وو. د هغه لومړنی نوم ليو پولـډ وئـيس (Leopold Weiss) وو. په ۱۹۰۰ع. کال د اتريش د ليوو (Livow) په يوه يهودي کورنۍ کي

(دیهودو د فقهي ښوونکو ملایانو) په کاله کي وزیږیږد. (اوس لیوو په پولینډ کي شامل دی). نیکه یې یهودی ملا او پلار یې مدافع وکیل وو. په کوچنیوالي یې د دوی د کورني دود سره سم عبراني او آرامي ژبي زده کړې او د تلمود، بایبل او فارغوم د مذهبي کتابونو تعلیم یې ترلاسه کړ. په ۱۹۱٤ع. کال چي لومړی نړی واله جګړه ونښته هغه د ښوونځي زده کوونکی وو. دغه مهال له ښوونځي څخه وتښتېد او په جعلي نامه پوځ ته شامل سو. خو د هغه د پلار د شکایت له امله یې د عمر د لږوالي په سبب بېرته له پوځ څخه وایست. د جګړې تر پایته رسېدو وروسته یې د فلسفې او هنرونو په څانګه کي د ویانا په پوهنتون کي لوړي زده کړي وکړې او له دغه پوهنتون څخه یې د ماستری (ایم اې) سند تر لاسه کړ.

علامه محمد اسد پخپله لیکي:

«د تحصیل په دوران کي مي د شعور سترګي کرار کرار خلاصېدلې او پوهېدلم چي ټوله اروپا په ستره روحي ناکراري اخته ده، مذهبي او روحاني ارزښتونه له منځه ځي او د پیسه پالني او مادیاتو رپی (بیرغ) په ډېره چټکتیا سره پورته کیږي. پر هر اروپایي خطرې او بېري سیوری اچولی، په تېره ځوان توکم په تورو تیارو کي لالهانده ګرځي او هغو پوښتنو ته جواب نه مومي چي د دوی اذهان یې پرېشانه کړي دي. اروپا په یوه داسي بخوله اخته وه چي خلکو یې له ځان پالني، خود غرضی، پیسه پالني او لنډ مهالو خوندونو پرته بله موخه نه درلوده».

بالاخر هغه پوهنتون پرېښود او په ۱۹۲۰ع. کال له ویانا څخه پراګ ته ولاړ. هلته ډېر مهال د بې کاری او لوږي سره مخامخ سو او

پر خپلو پښو درېدو لپاره ډېر وځغاست. پای په یوه خبري آژانس، «یونایټیډ ټیلیګراف نیوز ایجنسي» کې د تلیفوني او وروسته د خبریال په توګه وټاکل سو. د هغه یو ماما د بیت المقدس په یوه روغتون کې مامور وو. د ۱۹۲۲ع. کال په پسرلي کي د هغه په بلنه هلته ولاړ. د دغه کال په وروستیو کي هغه په منځني ختیځ کي د یوې نامتو جرمنی جریدې فرینکفرټر زایټونګ ( Frankfurer Zeitung) د ګرځنده خبریال په توګه وټاکل سو. هلته ده ته څرګنده سوه چي څنګه د اروپا ټول ځواکونه په یوه سلا مسلمانان د خپلو مظالمو هدف ګرځوي او له مذهبي، فرهنګي، ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي پلوه یې فلجوي او عزت او پرځان وېسا یې له منځه وړي. په تېره په فلسطین کي د عربو او یهودو په هکله د هغو پالیسي څونه غیر انساني ده.

په ۱۹۲۳ع. کال هغه مصر ته ولاړ بیا د دغه کال په دوبي کي بیرته بیت المقدس ته وخوځېد، بیا له هغه ځایه دمشق ته رهي سو. هلته یې داسلامي عالمانو سره لیدني کتني وسوې، د هغه ځای مساجد او نور دیني مراکز یې هم وکتل او ډېر وخت یې په کتابتونونو کي تېرېدی. دغه مهال یې عربي ژبه څه زده کړه او د قرآن کریم په لارښوونو د جرمني او فرانسوي ژباړو په مټ پوه سو، چي بالاخره د اسلام د حقایقو سره په ښه توګه بلد سو. د ۱۹۲۳ع. کال په مني کي له سوریې څخه اروپا ته ولاړ. دغه مهال د اروپا انځورونه بالکل پردي ورته وایسېدل او د هغه ځای وګړي ذلیل او ناولي په نظر ورغله اوپه دنیا پسي د دوی له منډ تړړو یې بد راغله.

د ۱۹۲٤ع. کال په پسرلي کي د فرینکفرټر زایټونګ جریدې لخوا بیا مصر ته واستول سو. دغه مهال یې د ژورنالیزم په نړۍکي ښه دریځ ترلاسه کړی وو. په دې ترڅ کي یې د جامع الازهر د ځوان او متبحر اسلامي عالم امام مصطفی مراغي سره ولیدل او د دینونو په هکله یې معلومات ځني تر لاسه کړل. اوس نو هغه ته د قرآن کریم له مطالعې، د عربو د ژوندانه له مشاهدې او د شیخ مراغي له ویناوو څخه په ډېره څرګنده توګه جوته سوه او دې پایلي ته ورسېد چي د اروپایانو په دماغونو کي چي له اسلام څخه څه انځور سته هغه ګردسره په مسخ سوې بڼه ور ښوول سوی دی. اوس هغه بالکل ډاډه سوی وو چي په اسلام کي د دین او یوې ضابطې په حیث هیڅ کمی نسته او د مسلمانانو زوال د اسلام د خامۍ له امله نه دی، بلکي د مسلمانانو د ټولنیز او فرهنګي زوال یو لامل دی او هغه دا چي هغو د مهالونو په تېرېدو سره پر اسلامي تعلیماتو باندي د هغو د روح سره سم کړنه پرې ایښې ده.

دغه مهال هغه له شمالي افریقا څخه نیولې د افغانستان د پامیر تر لوړو څوکو ټوله اسلامي نړۍ وغوښته او بیا یې تقریباً خپل ټول عمر په همدې سیمو کي تېر کړ. د ۱۹۲۵ع. کال په وروستیو کي چي هغه له هرات څخه کابل ته تی د منځني افغانستان په واورو پوښلو ناوو زړه او کاته دواړه وړل. په لار کي د هغه آس ګوډ غوندي سو، د پښو نالونه یې سست سوي وه او په دوو مېخونو بند وه. ځکه نو د هغه افغان ملګري دوی ته نژدې ښارګوټي د هزاره جاتو دایزنګي ته بوتی.

د هزاره جاتو والي هم هلته اوسېدی، ځکه نو هغه د دغه والي ليدو ته ورغی. والي د اعليحضرت امان الله شاه غازي له نږدې خپلوانو څخه وو. د هغه د ډېر ټينګار له امله يې دوې ورځي ورسره تېري کړې. علامه محمد اسد فرمايي:

«بل ماښام د مېلمستيا تر ډېري ښې او مکلفي ډوډۍ خوړلو وروسته يوه افغان پر ستار باندي د داود او جالوت کيسه واورول. سندره په پښتو وه او والي ماته د هغې لنډ لنډ ټکي بيانول. په پای کي والي تبصره وکړه او ويې ويل داود کمزوری وو، خو ايمان يې قوي وو. ما سمدستي ورغبرګه کړه: د دې په خلاف تاسي په شمېر ډېر ياست، خو د ايمان له مخي کمزوري ياست. د دې خبري په اورېدو سره زما کوربه ماته په اريانتيا سره وکتل. زه څه وارخطا غوندي سوم او د ډول ډول سوالونو په مطرح کولو سره مي د خپلي خبري د تاويل کوښښ وکړ او ومي ويل: مسلمانانو ولي پرخپلو ځانونو باندي ډاډ او اعتماد هېر کړی دی؟ د هغو د عظمت او سترتوب لمر ولي تندري نيولی دی؟ د هغو د علم او هنر وړتياوي ولي کمزوري سوي دي؟ آيا نه سي کېدای چي مسلمانان له همت څخه کار واخلي او بېرته د هغه ځلاند او پرتمين دين لوري ته وروګرځي؟ دا څونه د عبرت خبر ده چي هغه مصطفی کمال اتاترک چي اسلام هيڅ ارزښت نه ورته لري، د مسلمانانو په سترګو کي د اسلام د بيا رغښت (رنسانس يا نشاة ثانيه) اتل جوړ سوی دی. زما کوربه په ځير ځير راته کتل او چي زما خبري خلاصي سوې نو يې وويل: ته مسلمان يې خو په ځان نه پوهېږې، ته ولي کلمه نه وايې او څله نه مسلمانېږې، ځکه تا د زړه له کومي اسلام منلی دی. ما ورته وخندل

او ورته ومي ویل: زه نه یم مسلمان، خو ما په اسلام کي یوه عجیبه ښکلا لیدلې ده او کله چي زه وینم چي د دې دین پیروان هغه په لوی لاس بد رنګه کوي ډېر په غوسه کیږم».

د دې ځوان والي دې خبرو پر علامه محمد اسد ډېر ستر اغېز وکړ. هغه په افغانستان کي تر څو اونیو سیاحت وروسته روسیې ته ولاړ او له هغه ځایه اروپا ته ستون سو. دغه مهال هغه په ۲٦ کلنۍ کي واده وکړ. مېرمني یې هم د ده خبري ومنلې. دواړو به د قرآن کریم ژباړه لوستل او د هغه پر لارښوونو به یې بحث کاوه.

د ۱۹۲٦ع. کال په سپتمبر کي یوه شپه دواړو برلین ته په ټرین کي سفر کاوه. په دې هکله خدای بخښلی علامه لیکي:

«موږ ته پر مخامخ سیټ دوه تنه مېړه او مېرمن ناست وه. له کالو، د الماسو له ګوتمیو، او کړو وړو څخه شتمن ښکارېدل، خو په څېرو کي یې د خوښۍ او ډاډ کومه نخښه نه لیدل کېده. ډېر بې برخي او وېرجن ایسېدل. ما شاوخوا وکتل او ومي لیدل چي هرڅوک خوشاله ښکارېدی، د هغه پر څېره مي هم د یوه پټ غم نخښه ولیدل، دونه پټ چي له دوی ټولو څخه یوه هم نه احساساوه.

ما خپل دغه احساس خپلي مېرمني ته ووایه. هغې هم زما خبر ومنل. رشتیا چي داسي ښکارېدل لکه دغه خلک چي په دوږخ کي ژوند کوي.

کله چي بیرته کورته را ستانه سوو د مېز پر سر مي هغه قرآن ولید چي ما یې تلاوت کاوه. ما وغوښتل چي قرآن کریم بند کړم او په الماریٔ کي یې کښېږدم، چي نابېره مي سترګي د قرآن د پرانیستي پاڼي پر دې سوره ونښتې:

﴿أَلۡهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ۝١ حَتَّىٰ زُرۡتُمُ ٱلۡمَقَابِرَ ۝٢ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ۝٣ ثُمَّ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ۝٤ كَلَّا لَوۡ تَعۡلَمُونَ عِلۡمَ ٱلۡيَقِينِ ۝٥ لَتَرَوُنَّ ٱلۡجَحِيمَ ۝٦ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيۡنَ ٱلۡيَقِينِ ۝٧ ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَئِذٍ عَنِ ٱلنَّعِيمِ ۝٨﴾ [سورة التكاثر].

ژباړه: «تاسي د شتمنۍ په ګټلو کي ډېر زیاتوب او یو له بله په ډېرولو کي لېوالتیا په غفلت کي اچولي یاست. تر دې پوري چي (په دې فکر کي) د قبر څنډې ته ورسېدلاست. هیڅکله داسي نه ده، ډېر ژر به تاسي پوه سئ. بیا (واورئ) هیڅکله داسي نه ده، ډېر ژر به تاسي پوه سئ. که تاسي د باوري پوهي له مخي (د دې چلند په عاقبت) پوهېدلای (نو ستاسي چلند به دغسي نه وای). تاسي به هرو مرو دوږخ وګورئ، بیا (واورئ) چي تاسي به په یقین سره هغه وګورئ. بیا به هرو مرو په هغه ورځ له تاسي څخه د دې نعمتونو په هکله جواب وغوښتل سي».

زه د یوې شېبې لپاره هیښ ودرېدلم، ما فکر کاوه چي کتاب زما په لاس کي پر خوځښت راغلی دی. ما خپلي مېرمني ته ور برغ کړه: وګوره، آیا دا د هغه څه جواب نه دی چي موږ تېره شپه په ریل کي ولیدل؟ موږ ته نه داچي زموږ د سوال جواب راکړه سوی وو، بلکي په دې اړه شکوک او شبهې هم پای ته رسېدلي وې. موږ ومنل چي دا په رشتیا سره د لوی څښتن ﷻ هغه کتاب دی چي دیارلس سوه کاله دمخه پر حضرت محمد ﷺ نازل سوی وو. خو په هغه کي په ډېره څرګندتیا سره داسي وړاند وینه سوې وه چي زموږ له پیچلي ماشیني دور پرته به په کوم بل دور کي نه وي پلې سوې.

اوس زما باور سو چي قرآن د کوم انسان د حکمت او پوهي پایله نه ده. انسان چي هرڅونه پوه او د حکمت څښتن سي بیا هم د هغه

عذاب وړاند وینه نه سي کولای چي شلمي پېړۍ ته ځانګړې سوې ده.

بله ورځ زه د برلین د مسلمانانو د ټولني مشر ته ورغلم او ورته ومي ویل چي زه اسلام منم. هغه په ما د شهادت کلمه وویل او ویې ویل چي ستا نوم لیو پولډ دی او په یوناني لیو زمري ته وایي، له دې امله موږ تاته سر له نن څخه محمد اسد وایو.

څو اوونۍ وروسته زما مېرمني هم اسلام راوړ. تر دې وروسته موږ اروپا د تل لپاره پرېښوول».

په دې توګه علامه محمد اسد او مېرمني یې له یهودیت څخه توبه وایستل او دواړه د اسلام په سپېڅلي دین مشرف سول. د علامه محمد اسد په پخواني نامه کي LEO راغلی دی چي د LEO او اسد دواړو معنا (زمری) ده.

د اسلام تر منلو وروسته محمد اسد د سعودي عربستان د پاچا ملک عبدالعزیز سلاکار وټاکل سو. هغه د حج فریضه ادا کړه او د شیخ الشهدا او لیث الصحرا عمر المختار (۱۸٦۲ ـ ۱۹۳۱) سره یې په جهاد کي هم برخه واخیسته. په دې ترځ کي هغه عربي ژبه زده کړه او د اسلام تاریخ یې مطالعه کړ. څنګه چي هغه په مکه مکرمه او مدینه منوره کي واوسېد، نو په هغو اصلي حالاتو کوم چي رسول کریمﷺ اسلام پکښي تبلیغاوه تر یوې اندازې پوه سو. له مطالعې او موازنې څخه د هغه دا یقین سو چي د مسلمانانو د خپلو لنډ فکریو او خامیو سره سره د اسلام روحاني او ټولنیز نظام اوس هم د انسانیت لپاره ډېر ستر محرک ځواک دی. له دې امله د علامه محمد اسد د ټولو بوختیاوو منځی د اسلام بیا راژوندي کول

وګرځېد. هغه په سعودي عربستان کي تر شپږو کالو تېرولو وروسته هند ته ولاړ او په ۱۹۳٤ع. کال يې د (Islam at the Crossroads) په نامه کتاب

په ۱۹۳٤ع. کال په ډيلي کي چاپ ته وسپارل سو. چي بيا په لاهور او ډېرو نورو ځايونو کي خپور سو او د (الاسلام على مفترق الطرق) په نامه د ډاکټر عمر فروخ لخواپه عربي وژباړل سو بيا د (اسلام دوراهے پر) په نامه د رحم علي الهاشمي لخوا په اردو ژبه وژباړل سو او په ۱۹٦۸ع. کال په ډيلي کي خپور سو، په ۲۰۰٤ع. کال دغه کتاب د ډاکټر محبوب سبحاني لخوا بيا په اردو ژبه وژباړل سو او د محسن فاراني تر تصحيح او تنقيح وروسته د دارالسلام د کتاب خپرولو د نامتو اداري لخوا د (ملت اسلاميه دوراهے پر) په نامه چاپ سو.

بيا ما دغه کتاب د (اسلام د دوه لاري پر سر) په نامه وژباړه او په ۱۳۸۸لمريز کال په کابل کي د مستقبل خپرندويي ټولني لخوا چاپ سو.

دغه راز دغه کتاب په ډېرو نورو ژبو هم ژباړل سوی دی او څو ځلي په بېلو بېلو هيوادونو کي خپور سوی دی. ډېرو نامتو ليکوالو په بېلو بېلو ژبو پر دغه کتاب مقالې ليکلي او ستايلی او تاييد کړی يې دی او ډېرو هم په خپلو ليکنو کي د ماخذ په توګه ګڼه ځني اخيستې ده. چي په دې توګه دغه کتاب او د هغه ليکوال د نړۍ په ګوټ ګوټ کي، په تېره په اسلامي نړۍ کي ډېر مشهور سوی او د يوه غوره او منلي کتاب په توګه يې زيات لوستونکي او خوښوونکي موندلي دي.

علامه محمد اسد دغه مهال د هند د ډېرو پوهانو، په تېره د علامه اقبال او سيد ابوالاعلى مودودي رحمة الله عليهما سره وپېژندل. هغه په دارالاسلام (پټان کوټ) کي هم واوسېدی.

د پاکستان تر جوړېدو وروسته علامه محمد اسد په لاهور کي د لوېديز پنجاب د اسلامي بيا رغوني مسؤول وټاکل سو. بيا د پاکستان د بهرنيو چارو په وزارت کي په دنده وګومارل سو. د پاکستان د اسلامي اساسي قانون د جوړولو د ډلي غړی هم وو. بيا يې په ملګرو ملتونو کي د پاکستان د استازي په توګه هم دنده ترسره کړه. دغه مهال د هغه بل کتاب «روډ ټو مکه» (ROAD TO MAKKAH) هم خپور سو. دغه کتاب د هغه د توبې او اسلام راوړلو په هکله مفصله کيسه ده چي بيا د (الطريق الى مكة) په نامه وژباړل سو او سينمايي فلم هم ځني جوړ سوی دی. د نامتو مسلمان عالم محمد مارماډيوک پکتهال تر مړيني څو کاله وروسته علامه محمد اسد د «اسلاميک کلچر» د مياشتيزي مسؤول مدير سو. د عمر په وروستيو کي هغه د مراکش طنجې ته ولاړ او د اسپانيې په جبر الټر (جبل الطارق) کي يې - کوم چي له درو پېړيو را په دې خوا د انګرېزانو تر ولکه لاندي دی - استوګنه غوره کړه. د هغه د قرآن کريم ژباړه او تفسير د (The Message of The Quran) په نامه په ۱۹۸۰ع. کال له دارالاندلس، جبرالټر څخه خپور سو. دغه راز هغه د بخاري شريف څه برخي هم وژباړلې او يو شمېر نور ګټور کتابونه يې هم ليکلي دي. پای علامه محمد اسد د ۱۹۹۲ع. کال په فروری کي په جبرالټر کي وفات سو او د هغه د وصيت سره سم د اسپانيې په

ګرېناډا (غرناطه) کې د مسلمانانو په هديره کې خاورو ته وسپارل سو.

د خبري رسنيو له خولې په ٢٠٠٨ ع. کال د ويانا ښاروالۍ په دغه ښار کې يوه عامه اُورشو چې د ملګرو ملتونو د ماڼۍ مخې ته واقع ده د مراسمو په ترڅ کې د علامه محمد اسد په نامه ونومول.

**د يوه روسي جنرال د توبې کيسه:**

«اناتولي اندريويچ» يو روسی پوځي جنرال وو. اوس هغه خپل نوم «علی» ايښی دی. هغه خپله ډېره تنخا پرېښوول، پوځي روسۍ وردۍ يې ايسته وغورځول، خپل پخوانی باطل مذهب کمونيزم يې پرېښود، توبه يې وکښل، مسلمان سو، د قزاقستان په اسلامي اورشو کي يې اوسېده غوره کړه او د دغه هيواد د پلازمېني «الماآتا» په جامع جومات کي يې د مؤذن دنده پيل کړه.

د عربي اونيزي «المسلمون» يو ځانګړي خبريال د علي سره مرکه وکړه چي د دغي اونيزي په يوه ګڼه کي خپره سوه. چي ستاسي پام د دې مرکې پښتو ژباړي ته رااړوو.

د «علی» سره د سهار تر لمانځه وروسته د مرکې وعده ايښوول سوې وه. سهار وختي د «علی» د اذان نرم او زړه وړونکی آواز په فضا کي خپور سو. ما او زما ملګري رضا مراد سره وويل چي هغه نوی مسلمان سوی دی او موږ ته اسلام په ميراث رسېدلی دی. د دې سره سم د رضا مراد له سترګو اوښکي څاڅکي څاڅکی توی سوې.

موږ د سهار تر لمانځه وروسته په جومات کي کښېنستلو. هلته د لمونځ کوونکو يوه لويه ډله هم موجوده وه. له دغي ډلي څخه د الماآتا د جامع جومات مؤذن جناب «علی» څېره څرګنده سوه. کوم

چي پخوا يې د اسلام سره د بدو کړنو يو اوږد تاريخ پرې ايښی دی. هو! دغه اوږد تاريخ ټول د اسلام سره د دښمنۍ پر ډول ډول ناکردو مشتمل دی. علی ډېر خوشاله ووچي موږ نن د ده سره ناست يو او په سعودي عربستان پوري اړه لرو. هغه موږ ته ډېر تود هرکلی ووايه او ويې ويل: «اوس زما يوازنۍ هيله داده چي پر ما باندي لوی څښتن مهربانه سي او زه وکولای سم چي د بيت الله شريفي زيارت ته ولاړ سم او هلته د کعبې شريفي په غلاف پوري وتالېږم او له الله تعالی څخه د مغفرت او رحمت غوښتنه وکړم».

دغه مهال چي حاضرينو د «علی» ژړا وليدل، نو ټولو ورسره وژړل.

ما وويل: «سبحان الله! دا هغه جنرال دی چي پوره دوه کاله د افغاني مجاهدينو سره جنګېدلی دی او ډېر مجاهدين د ده پر لاس د شهادت لوړي مرتبې ته رسېدلي دي...؟».

دغه مهال د دغه ښاغلي مؤذن د ژباړن دنده شيخ محمد حسين تر سره کړه. کله چي د ې پخواني جنرال زما خبري واورېدې بيا يې اوښکو پر مخ لاري جوړي کړې.

هغه په جواب کي راته وويل: بې شکه چي ستا له دغي خبري څخه زما ټول وجود په رېږد سو، خو د دغي جګړې دغه پايله ده. چي دادی زه يې د ايمان او يقين خوا ته رهنمايي کړی يم... بې شکه چي زه د اسلام دښمن وم. د خدای د لويولويو منکرانو په صف کي ولاړ وم زما يو مذهب وو، چي هغه «لينينيزم» وو، خو اوس زما مذهب بدل سوی دی. دا بدلون په ما کي تر هغو دوو کالو وروسته راغی چي ما په جلال آباد کي تېر کړل. تر دې وروسته زما له

شخصيته يو بل ډول شخصيت جوړ سو. زما نوی شخصيت له پخواني شخصيت څخه ګردسره بل شانته دی.

ما پوښتنه ځني وکړه: «آيا ته روسی يې؟». جواب يې راکړ: «هو!» خو زما د زېږېدو ځای د آذربايجان ښار «باکو» دی. ما تر پوهنتون دمخه زده کړي د دغه ښار په ښوونځيو کي تر لاسه کړي دي. زه وارد واره د لېونتوب تر پولي له خدايه منکر وم. د اسلام سره مي شديد تعصب درلود. په ښوونځي کي زماسره مسلمان زده کوونکي هم وه. ما له هغو څخه زياته کرکه کول. که څه هم زه د توکم او کورنۍ له پلوه عيسوی وم، خو حقيقت دادی چي ما پر هيڅ دين او مذهب باور نه در لود. ما پر هغو زده کوونکو خندل چي د غيبي چارو په هکله يې د باور خبري کولې. ما به له هغو څخه پوښتنه کول:څنګه يو انسان پر يوه ناموجود شي باندي يقين درلودلای سي؟ او څنګه کېدای سي چي يو انسان مړسي او هډوکي يې خاوري سي او بيا بېرته راژوندی سي، څو الله تعالی حساب ځني واخلي او بيا يې جنت يا دوږخ ته ننباسي...؟

زه د ده په خبرو کي ور ولودم او ورته ومي ويل: «آيا تاته د خبرو او بحث په بهير کي د دغو پوښتنو جوابونه نه درلول کېدل؟ چي ستايقين راغلی وای؟».

پخواني جنرال جواب راکړ: «په دغو ورځو کي زه د يقين په لټه کي نه وم. ما پر خپلو اندونو او افکارو باندي شک نه کاوه. زما سروکار يوازي د دې سره وو چي د مسلمانانو سره دښمني وکړم او پر وخاندم او زه پر دې اندود ډاډه او باو ري وم. بيا زه وسله وال پوځ ته شامل سوم او د وړاندي تګ پوړۍ مي ووهلې او بالاخره يې

زه جلال آباد ته واستولم. بیا یې زه په کندهار کې د شوروي سره پوځ قوماندان وټاکلم. په دغه ولایت کې د سره پوځ موخه او هدف د افغان مجاهدینو له منځه وړل وو».

ما پوښتنه ځني وکړه چې: «دغه مهال تا څه احساس کاوه؟».

جواب یې راکړ چې: «دغه مهال ما فکر کاوه چې ماته د مسلمانانو پر ضد زما احساساتو ته د عملي بڼې ورکولو یوه طلایي موقع په لاس راغلې ده». پر دې سر بېره زما له دغو مجاهدینو څخه زښته زیاته کرکه کیده. ما لیدل چې دغه کسان د ډېري زړه ورتیا څرګندونه کوي. په غرونو او غارونو کې یې د ژوند تېرول زده وه. خره یې د وړنګ راوړنګ او سپرلۍ لپاره په کار اچول. د مسلمانانو په هکله دغه زما لیده کاته وه. په دې لیدو کتو کې کوم عجیبه خبره نه وه. ځکه چې دغه خبري یې مور ته په شوروي اتحاد کې هم کولې.

«تا د اسلام په خلاف خپلې دښمنۍ ته څنګه عملي جامه اغوستل؟».

د پخواني پوځي جنرال له سترګو څخه یو وار بیا اوښکي وڅڅېدې او بیایې بدن رپېږد واخیست، خو هغه له ما څخه پوښتنه وکړه:

«ته ماته زما تېر یادونه څله را په یادوې؟». د دې سره سم یې خپل استاد شیخ محمد حسین ته وکتل: «زما تر اسلام راوړلو وروسته همدغه محمد حسین ماته د اسلام د دین ښوونه کوي». هغه شیخ ته په دې هیله وکتل چې ګوندي هغه په دې بحث کې څه مرسته ورسره وکړي.

جناب شیخ د ده مجبوري درک کړه او ویې ویل: «دا ستا د ژوند یوه تجربه ده او بیا دغي تجربې د اسلام لور ته ستا لارښوونه کړې ده. که په دې هکله وړغېږې ګټوره به وي».

د دې سره سم علي وویل: «ما خپلو پوځیانو ته امر کاوه چي د مسلمانانو سره له ډېر شدت او د زړه له قساوته کار واخلي. دوی ځونه چي کېدای سي ویې وژنئ. د دوی د بندیانو سره له سختۍ څخه کار اخلئ. موږ دوی په خپلو ډېرو نوو وسلو او راکټونو وژل او قتل عام کول. او پر دوی مو روسي بمونه او رول، په داسي حال کي چي دوی زموږ د دې پر مختللو وسلو په مقابله کي هیڅ وسله نه درلوده. بس د مجاهدینو پر بدن د دوی کالي وه او داسي کوچني توپکونه ورسره وه چي د هوسۍ ښکارول هم نه وو په ممکن. موږ چي به د خپلو پوځي ملګرو سره ناست وو، نو به مو د دغو مجاهدینو په هکله د اندونو تبادله کول او ویل به مو: دا خلک لېونیان دي د دې نوي او پر مختللي وسلې سره څنګه مقابله کولای سي؟».

علي زیاته کړه: «خو موږ لیدل چي دغه مجاهدین له مرګه نه بېرېدل. موږ به ګولۍ پر اورولې او دوی د ګولیو دغه باران لیدی، خو نه ځني بېرېدل، بلکي یو د بل په سیالي به را وړاندي کېدل پای به خبره دا سوه چي زما پوځیان به ځني وتښتېدل. په داسي حال کي چي د دواړو خواوو د ځواکونو توازن هیڅ نه وو. خو زموږ پوځونو به د مرګ له بېري د تېښتي لمني ته پناه وروړل. عجبه خبره یې لا دا چي هغه له هغو وګړو څخه تښتېدل چي ګرد سره یې وسلي نه درلودې».

«پر تا باندي د دغو خلکو څه اغېز پرېوت؟».

«په پلاوو پلاوو زما په فکر کي راوګرځېده چي دغه خلک چي پر موږ باندي برلاسي کيږي، چي موږ د شمېر له پلوه هم پر لوړ يو او د پوځي ځواک له پلوه هم پر پياوړي يو، نو په يقين سره يو ستر ځواک دی چي د دوی مرسته کوي. او دا هغه پړاو وو چي په ور رسېدو سره يې زه په شک کي ولوېدم. دا زما د شبهې لومړی پړاو وو او دا هغه پړاو وو چي په ور رسېدو سره يې ما پر دې موضوع څېړنه پيل کړه».

«تا د جګړې په ډګر کي څه احساسول؟».

«کومه ځانګړې خبره مي نه احساسول... ماته څه تکليف نه وو. ما به خپلو پوځيانو ته ويل چي له دغو قيدي مجاهدينو څخه هغه څوک را حاضر کړئ چي روسي ويلای سي. د هغو شمېر کم نه وو. کله چي به هغه حاضر سول، نو مابه وليدل چي هغوی يوازي جګړه ماران نه دي، بلکي د اسلام دعوتګران هم دي. دغو کسانو به روسي ځوانانو ته د اسلام بلنه ورکول. له هغو څخه ځينو ماته د اسلام راوړلو بلنه راکړه. او زما په ژوند کي دا لومړی ځل وو چي زما د هغو د بلني سره مينه پيدا سوه. بيا به ما د هغو سره ساعتونه په خبرو تېر کړل او ان چای به مي ورسره څښلې. ماته چي به هغو خبري کولې سم دم به د اسلام دعوت وو. بالاخره زما زړه د هغو له خبرو څخه متاثر سو. يو ډول دننني خوځښت را پکښي پيدا سو. ما چي به د دوی يوه خبره واورېده، د بلي د اورېدو په لټه کي به سوم... زما سره د دوی د هرڅه ډېرو خبرو د اورېدو مينه پيدا سوه. بيا چي به زه يوازي سوم، نو پر دغو خبرو به مي غور کاوه. په دې توګه زما

ټول حال بدلون وموند او په زړه کې مې يو ډول رقت او نرمښت احساس کړ».

«بيا زه د شوروي اتحاد د پوځي قوانينو پر بنسټ باکو ته په رخصتي ولاړم، ځو د خپلې مېرمنې او بچيانو سره له نږدې وګورم. دغه مهال زما په فکر کې راګرځېدل چې دوی زما له نوو بدلونونو او احساساتو څخه خبر کړم. نو کله چې زه باکو ته ولاړم ما دوی له خپلو احساساتو څخه خبرکړل. ما هلته د اسلام د دعوتګرانو سره هم ملاقاتونه وکړل او د هغو سره مې د هغو خبرو په اړه بحثونه وکړل چې زما په دماغ کې راګرځېدل. هغو زما خبرې په ډېره مينه واورېدې او د هغو جوابونه يې هم راکړل. که څه هم دا خبرې څه آساني نه وې. ځکه زه يو پوځي وم. له دې امله خلکو له بېرې څخه ماته له خبرو کولو څخه ډډه کول. بيا د رخصتيو بله موقع راغله. دغه مهال زه الماآتا ته ولاړم. خلکو زه شيخ محمد حسين ته معرفي کړم. هغه سمدستي احساس کړه چې زما په زړه کې څه شکونه او شبهې سته. هغه زما هر سوال په ورين تندي واورېدی. هغه زما د ډېرو پوښتنو جواب د کتابونو له مطالعې څخه راکړاو زما سره يې په دې هکله ډېره مرسته وکړه».

«يو سهار چې زه له خوبه راپاڅېدم، نو زما زړه له هغه يقينه څخه ډک سوی وو چې يو مهال زما ورکه بلل کېده. زه بالاخره دې نتيجې ته ورسېدلم چې... دين بس «اسلام» دی... ما زما دا هوډ په ډاګه اعلان کړ. زما هر څومره ملګري چې وه او ما ورسره ليدل، ما دا خبره ورته کول. هغو ماته نصيحتونه وکړل، او کوښښ يې وکړ چې ما له دې هوډه واړوي، خو ما د يوه نصيحت ته هم غوږ ونه نيو...

زما زړه له ایمان څخه مالامال سوی وو... زما له هر غږي څخه د حق برغ پورته کېدی. وروسته زه فوراً شیخ محمد حسین ته زما د اسلام له منلو څخه د خبرولو لپاره ورغلم، او له هغه څخه مي په دې اړه ځان ته دیني احکام معلوم کړل. هغه بېخي ډېر خوشاله سو او د تکبیر ناره یې پورته کړه او دغه حال یې د هغه ځای مفتي ته هم واستاوه. ډېر نور مسلمانان چي زما له اسلامه خبرېدل له ډېري خوښۍ څخه به په ژړا سول».

«آیا د اسلام تر منلو وروسته ته د څه ستونزو سره مخامخ سوې؟»

علي په داسي حال کي چي له څېرې څخه یې د اسلام د مبارک دین نور پاشل کېدی جواب راکړ.

«ما له مخکي څخه لا د دغو مشکلاتو توقع درلوده. داسي ستونزي د ټولنیز او عملي ژوندانه یوه برخه وي، مګر دغه مشکلات د ایمان د دې ستري نېکمرغۍ په وړاندي هیڅ ارزښت نه لري. ماته دا کافي ده چي زه په ژوند کي د لومړي ځل لپاره د زړه د ډاډ او اطمینان څخه برخمن سوم. ما دا حقیقت درک کړ چي څوک هر ځای اوسي الله تعالی کوم چي موږ یې نه وینو، هغه موږ ویني. هغه زموږ اعمالو ته ګوري او هغه زموږ اعمال تلي، څو د هغه سره سم موږ ته اجر راکړي».

ما پوښتنه ځني وکړه: «ستا مېرمني او زامنو او لوڼو څنګه اسلام قبول کړ؟»

علي راته وویل: «په پیل کي د هغو پر څېرو باندي د بېري او وحشت اغېزي ولوېدې. هغوی زما د دې خبري په مفهوم نه پوهېدل

چې زه مسلمان سوی یم. هغوی دې خبري ته اریان وه چې زه د ورځي پنځه وخته مسجد ته ځم او خلک د جماعت لمانځه ته بولم».

«زما مېرمني زما څخه پوښتنه وکړه:څنګه تا د دغونو ډېرو پیسو او مراعتونو پر ځای دې موجوده تنخوا ته ترجیح ورکړل؟».

ما هغه پوه کړه: «ته اوس نه یې خبره چې ما د ایمان په رڼا کې باطل ژوند پرېښود او د حق پلوو ژوند مې غوره کړ. رشتیاني دي هغه وګړي چې زه یې له پیله وپېژندلم چې زه د شکونو او شبهو له مرحلې څخه تېرېږم. هغو ماته د درو دینونو د څېړني لپاره کتابونه راکړل. ما اسلام عېسویت او یهودیت مطالعه کړل او بالاخره مې اسلام د خپل دین په توګه غوره کړ. زه په دې هکله تر ټولو دمخه د افغان مجاهدینو ممنون یم او بیا د شیخ محمد حسین څخه مننه کوم».

ما خپلي مېرمني ته وویل: «زه په خپل کور کې هم د اسلام رڼا لیدل غواړم او د الله شکر دی چې په دې کې ډېر وخت نه سو تېر. ډېر ژر زما مېرمن او زامن او لوڼي ټول په اسلام مشرف سول. په تېره د الماآتاجومات ته زما رسېده ماته پر خوښۍ سر بېره خوښي ده».

آیا ستا مېرمن او لوڼي د اسلام د حجاب حکم ردوي، که څنګه؟ د دغه ځای ښځي د حجاب په باره د اسلام د حکم پیروي کوي. په دې حالاتو کې چې هغوی هم د حجاب پابندي ونه کړي، نو څه به وکړي، همدا اوس هغو غیر اسلامي لباس پرې ایښی دی.

**د مصر د څو نامتو ممثلو ښځو توبه:**

پرون مي ډېر ډول ډول لباسونه ؛ نوي پتلونونه، لمني واسکټونه او ډېر نورشيان رانيول. د شپې چي کور ته راغلم دونه ستړې سوې وم چي د دې نه وم چي دغه کالي وګورم. سمدستي پر کټ وغځېدم او بيده سوم. سهار راکښېنستم، لاسونه او مخ مي پرېوولل، خو بيا مي اودس تازه کړ او بيا مي زړه وغوښتل چي نن لمونځ هم وکړم، نو هغه وو چي سر مي په پوړني په ډېره پاملرنه سره پټ کړ او لمونځ مي وکړ. تر لمانځه وروسته مي هماغه کالي را واخيستل او يو يو مي وکتل. هر کالى مي په پلاوو پلاوو وکوت. دغه کالي ډېر عجيبه راته ښکاره سول. لمن تر ځنګنو لوړه وه. کميس او نور بېخي ډېر لنډ وه. دا کالي مي دونه ډېر وکتل چي د ماپښين د لمانځه اذان ناري سو. ما لا هماغه د لمانځه پو ړنى پر سر اچولى وو. چي د ماپښين د لمانځه وخت سو. دوهم ځل اذان ته متوجه سوم د اذان الفاظ دونه خوندور او زړه راکښونکي وه چي يو ډول عجيبه اغېزه يې زما پر زړه پرېوتل. د اذان په پاى ته رسېدو سره بې اختياره پاڅېدم او د ماپښين پر لمانځه ودرېدم. تر لمانځه وروسته مي د دعا لپاره لاسونه پورته کړل. زما له خولې نابېره د دعا داسي الفاظ را ووتل چي نه مي دمخه ويلي وه او نه مي اورېدلي وه، الفاظ دا وه: «رب اني فقيرة لها وانت في غنى عنه» (پروردګاره زه هغه شي ته بېخي ډېره اړه يم له کومه څخه چي ته ډېر بې نيازه يې). ما دغه الفاظ پرله پسې ويل او ورسره ژړل مي. د اوښکو تر پاکولو دمخه مي قسم واخيست چي بيا به دغه د لمانځه پوړنى له سره نه ايسته کوم. بيا مي پروني رانيولي ټول کالي يوې خواته کښېښوول او يو نوى ژوند مي پيل کړ.

دا د مصر د (۳٤) کلنې نامتو ممثلې فریدې سیف النصر د توبې کیسه ده. کومې چې په شلګونو فلمونو، ستېج ډرامو، او ټلویزیوني سریالونو کې برخه اخیستې وه. په فلمي نړۍ کې د لومړۍ لیکې په ممثلینو کې شامله وه او هر ډول نقشونه یې لوبولي وه. خو دغه مهال یې د زړه نړۍ بدله سوه، په څو شېبو کې یې پر تېر سوي ټول ژوند توبه وایستله او پر پښېمانه سوه. د دې په زړه داسي یو نور دننه سو چي سمدستي یې دې ته اړه کړه چي څنګه د خپل پخواني ژوند ناسمي جبیره کړم او کفاره یې ادا کړم. او په څه ډول ځان داسي بدل کړم چي د لوی څښتن رضا ترلاسه کړای سم.

فریده په دې نوي سفر کې یوازې نه ده. په تېره ډېره لږه موده کې د عربي نړۍ او په ځانګړې توګه د مصر د ښځینه ممثلینو یو غټ شمېر په فلمونو کې له کار کولو څخه توبه کښلې ده او اسلامي فرهنګ یې خپل کړی دی. د لځتوب او اخلاقي انحطاط له تیارو څخه را وتلي او د اسلامي لار ښوونو په رڼا کې یې خپل نوی او پاکیزه ژوند پیل کړی دی. په کومه اوونۍ کې چي فریدې توبه وکښل د مصر د سینما دوو تنو ممثلو سهیر رمزي او سحر حمدي هم د دغي تیارې نړۍ د پرېښو ولو اعلان وکړ او اسلامي حجاب یې غوره کړ. سهیر رمزي وایي چي له نژدې یوه کال څخه په دې فکر کې وه چي له دې عذابه به څنګه ځان خلاصوي؟ اوس د لوی څښتن شکر دی چي د دې پرله پسې عذاب طوق مي له غاړې ایسته سو.

باید وویل سي چي سهیر هغه ممثله ده چي پخوا یې په خپل فلمي ژوند کې هر ډول نقش لوبولی دی. کوم مهال چي یې توبه

وکښل هم يې په يوه ټلويزيوني سريال «د ميني لمس» کې د بنسټيز رول د تر سره کولو لپاره تياري نيول. په دغه ډرامه کې هغې د خپل وروستي مېړه فاروق الغيثاني سره (چې يو کال دمخه يې طلاق ځنې اخيستی وو) کار کاوه. خو د ډرامي تر ثبتولو دمخه د دې د زړه دنيا بدله سوه او د فلمي نړۍ ټول تړونونه يې لغو کړل. پر دې سر بېره اوس هغه د خپل تېر ژوند په اړه له خبرو او مرکې څخه هم ډډه کوي.

سهير رمزي تر توبې کښلو وروسته څه لنډي خبري وکړې ويې ويل: «په فلمي ستورو کي شموليت او شهرت او له دې درکه ډېري پيسې ګرده د خاورو سره خاوري کيږي، خو يو الله ﷻ پاته کېدونکي دی او زه اوس د دغه ستر ذات د رضا او خوښۍ غوښتونکې يم».

سحر حمدي د مصر يوه نامتو نڅاګره وه. هغې هم د خپل پخواني ژوند سره خدای په اماني وکړه، او د سهير غوندي د لوی څښتن د خوښۍ په تر لاسه کولو لګيا ده. په مصر کي د هنرمندانو او ممثلينو توبه کښل اوس يو دود ګرځېدلی دی. کله چي د دغو توبه کوونکو يوه نوې ملګرې د دوی سره يوځای سي، نو دوی د هغې په وياړ يو ه غونډه جوړوي چي په هغې کي په ډله ييزه توګه د قرآن کريم تلاوت کيږي او په دې توګه د نوي توبه کوونکي هر کلی کوي. دوی ټولی د بېلابېلو جيدو عالمانو ويناوي اوري او د نامتو قاري شيخ خليل الحصري نامه ته منسوب مرکز ته ځي او هلته اسلامي تعليمات زده کوي. دوی ته په دغو مرکزونو کي نامتو عالمان لکه محمد الغزالي مصري او اسماعيل صادق ويناوي کوي او آغلې زينب الغزالي هم د دوی سره په زياترو پروګرامونو کي ګډون کوي.

له نامتو سندرغاړي یاسمین الغیام څخه یې وپوښتل چې په ډېرو لږو ورځو کې تاسې په دغونه ډېر شمېر کې توبې وکښلې، دا د اریانتیا خبره نه ده؟ یاسمینې له ایمان څخه په دکه لهجه ورته وویل: «که یو ناپوه کوچنی له مور څخه مرور سي او له خپلې مهرباني مور څخه لیرې ولاړ سي لا د اریانتیا ځای دی، خو که دغه کوچنی د مور غېږې ته بېرته ورسي، نو په دې کې د اریانتیا او تعجب څه خبره ده؟».

تر اوسه چې کومو مصري هنرمندانو توبې کښلې دي، له هغو څخه د ځینو نومونه دادي: مدیحه کامل، لیلی طاهره، سوسن بدر، شهیره، شازیه، غصاف شعیب، شمس البارودي، نسرین، امیره، هاله فواد، بالر الصافي، مدیحه حمدي، کیلیا الغزالي، عبدالرزاق او حضا ثروت. پر دغو ممثلینو، نڅاګرو او سندرغاړو سربېره اوس د فلم یوې پروډیوسرې ماجدې حمید هم توبه کښلې ده او پوړني پر سر کوي. پر دې سربېره د لبنان یوې سندر غاړي عروب نومي هم له دې تیارو څخه د راوتلو اعلان کړی دی. د دې ترڅنګ د مصر د فلمي صنعت نارینه ممثلینو هم اسلامي تهذیب خپل کړی او د اختلاط او فساد له دنیا څخه یو یو راوزي.

په پای کې د لوی څښتن جَلَّ جَلَالُهُ شکر اداکوم چې زما عاجز او ګنهکار، خو پښېمان او توبه ګار بنده سره یې مرسته وکړه او توفیق یې راکړ چې دا کتاب په همدې ښکلي ترتیب او په ډېر لنډون سره پای ته ورسېد. د هغه سپېڅلي ذات له لوی دربار څخه په دې هیله یم چې دې کتاب ته په زړونو کې قبولیت ورکړي او په نفسونو کې اغېز وښندي او پر ما او پر ټول اسلامي امت د نصوحه توبې کښلو

احسان وکړي. او دغه اوسنۍ خوارۍ او ذلت يې په سر لوړي او عزت وربدل کړي، آمين.

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين، وسلام على المرسلين، وصلى الله وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه أجمعين.

# اخیستلیک

د دې کتاب په لیکلو کې له لاندې مأ خذونو څخه ګټه اخیستل سوې ده:


**قرآن کریم، تنزیل من الرب العلمین.**

**مختلف تفسیرونه.**

**د احادیثو بېلا بېل کتابونه.**

الله میري توبه، علامه عالم فقري، لاهور: نوري کتب خانه، ۲۰۰۱م.

البحر الرائق، علامه ابن نجیم، کوټه: مکتبۀ حبیبیه، ۱٤۱۸هـ.

توبه، ډاکټر یوسف قرضاوي، ژباړن ډاکټر احمد نعمتي، تهران: نشر احسان، ۱۳۸۵ل.

التوبة، موسی بن ذاکر الحربي، المکتبة الشاملة.

توبة صادقة، شیخ خالد الراشد، المکتبة الشاملة.

التوبة وظیفة العمر، محمد بن ابراهیم الحمد، المکتبة الشاملة.

التفسیرات الاحمدیة، ملاجیون،

توبه کے انعامات، مولانا فضل الرحمن رشیدي، لاهور: دارالکتاب، ۲۰۰٤م.

توبه کے کمالات، حکیم طارق محمود چغتایي، لاهور: اذان سحر پبلي کیشنز، ۲۰۰۳م.

ردالمحتار، محمد امین ابن عابدین، کوټه: مکتبۀ رشیدیه.

سچی توبه کیجئے، مفتي ثناء الله محمود، لاهور: بیت العلم.

سيلاب مغفرت، د كتاب التوابين ژباړه، ليكوال ابن قدامه المقدسي، ژباړن، مولانا محمد رياض صادق، ملتان: دارالمعارف، ١٤٢٢هـ.

الطريق الى التوبة، محمد بن ابراهيم الحمد، المكتبة الشاملة.

العائدون الى الله، شيخ محمد عبدالعزيز المسند، المكتبة الشاملة..

گنهگار جب الله كى طرف پلٹتے، محمد انور بن اختر، كراچي: دار اشاعت اسلام، ٢٠٠٤م.

لطائف المعارف، حافظ زين الدين بن رجب، بيروت:دار الجيل.

موسوعة الاخلاق الاسلامية، سعد يوسف ابو عزيز، قاهره: دارالتفيقية للتراث، ٢٠٠٩م.

ندامت كے آنسو، حكيم طارق محمود چغتايي، لاهور: اذان سحر پبلي كيشنز، ٢٠٠٣م.

# د لیکوال لنډه پېژندنه

**عبد المالك (همت)**

د پلار نوم يې مولوي عبدالرزاق.

د كندهار په سوزني كي زېږېدلی.

د زېږېدو كال يې ۱۳۳۲ لمريز.

په اسلامي او ټولنيزو علومو كي يې خصوصي زده كړي كړي دي.

د نجيب د واكمن كېدو په لومړيو كي له هيواده مهاجر سو، لومړي پاكستان او بيا هند ته كډه سو.

كله چي لا طالبان پر كابل نه وه واكمن سوي تر اوږدې كډوالۍ وروسته هيواد ته راستون سو او اوس په كابل كي استوګن دی.

- اوس په كور كي د كتابونو په ليكلو بوخت دی.
- تر اوسه يې لاندي آثار ليكلي دي:

۱ - د همت چيغه (شعري ټولګه) په ۱۳۸۰ل. كال خپره سوې ده.

۲ - سيد جمال الدين افغاني اند او ژوند (ژباړه) په ۱۳۸۱ل. كال خپره سوې ده. په ۱۱۳۸۹. كال دوهم ځل خپور سو.

۳- زموږ د قبلې تاريخ (دمكې مكرمې تاريخ) په۱۳۸۵. كال دوهم ځل خپور سو. په ۱۳۸۹ كال دريم ځل خپور سو.

٤ - زموږ د نبي مېنه (د مدينې منورې تاريخ) په ۱۳۸۵ل. كال خپور سو. په په ۱۳۸۹ كال دوهم ځل خپور سو.

٥ - ادب او ادبي كره كتنه په ۱۳۸۵ل. كال خپور سو.

٦- د مقالې ليکلو اصول په ١٣٨٥ل. کال خپور سو.
٧- پښتو معلم الحجاج (ژباړه) په ١٣٨٦ل. کال خپره سوه.
٨- پوپنا سوي ولسونه (ژباړه). په ١٣٨٦ل. کال خپره سوه.
٩- زموږ د دښمنانو تور تاريخ او شومي موخي په نامه کتاب په ١٣٨٧ل. کال خپور سو.
١٠- د آسيا نن او سبا په نامه (ژباړه) په ١٣٨٧ل. کال خپره سوه.
١١- غرور او د هغه علاج (ژباړه) په ١٣٨٨ل. کال خپره سوه.
١٢- د کلمې شريـفي حقيقت (ژباړه) په ١٣٨٨ل. کال خپره سوه.
١٣- د ښځو د حج او عمرې لارښود په ١٣٨٨ل. کال خپور سو.
١٤- اسلام د دوه لاري پر سر (ژباړه) په ١٣٨٨ل. کال خپور سو.
١٥- د حق او باطل جګړې، په ١٣٨٨ل. کال خپور سو.
١٦- د لوېديځ مشران وايي: اسلام او مسلمانان له منځه يوسئ. په ١٣٨٩ل. کال خپور سو.
١٧- د حق او باطل د جګړې په هکله (٢٥) مقالې. په ١٣٨٩ل. کال خپور سو.
١٨- د حق او باطل په جګړه کي الهي سنت، په ١٣٨٩ل. کال خپور سو.
١٩- راځي توبه وکاږو، چاپ ته لېږل سوی دی.

۲۰- زموږ صحت او آخرت ته تاواني توکي په ۱۳۸٦ل. کال خپور سو. او اوس دادی دوهم ځل خپور سو او ستاسي په لاس کس دی.

پر دې سربېره يې د هيواد په دننه او دباندي کي بېلي بېلي مقالې هم خپرې سوي دي.

د ليکوال دګرځنده تليفون لمبر: 0093 700300167
د ليکوال د برېښناليك يا ايمېل آدرس:
**himmat_afg@yahoo.com**

**Download from:aghalibrary.cm**